# نوی فلسفه(ډیالکتیکی او تاریخی ماتریالیزم)

## لومړۍ فصل
## فلسفه د علم په څیر

١- فلسفه د علم په څیرڅه معنی لری ؟
٢- دمارکسیزم فلسفه د کوم شی لرونکی ده او له دی شی څخه پخوا باید نوری کومی چاری طرحه کړو او کومه یوه ستره چار ده ؟
فلسفه د علم په څیر څه معنی لری ؟
ځ- دا دډولی فلسفی عنوان دی او فلسفه پخپله علم نه دی بلکی علم ته ورته ده او له علم څخه نه جلاکیدونکی ده او همدا رنگه د علومو مور بلله کیږی.
٢- د مارکسیزم فلسفه دکوم شی لرونکی ده او له دی شی څخه پخوا باید نوری کومی چاری طرحه کړو او کومه یوه ستره چار ده؟
ځ- د مارکسیزم فلسفه لکه هره یوه بله پوهه ځانته د یوی خاصی موضوع لرونکی ده مګر د دغی موضوع په باره کی تر خبرو پخوا یو لړ نوری چاری طرحه کوو کومی چی یوازی مارکسیستی فلسفه نه بلکی هره یوه بله فلسفه هم له هغو سره سروکار لری چه په دغو چارو کی تر ټولو ستره چار د فلسفی اساسی مسله ده .

### ١- دفلسفی اساسی مسله د ماتریالیزم او ایدیالیزم تضاد

١- فلسفه څنګه پوهه ده په تاریخ کی کوم فلسفی سیستمونه موجود دی ؟ که موجود وی دچا پواسطه منځ ته راغلی دی ؟
٢- څرنګه کیدای شی چه دا ډول ډول فلسفی سیستمونه و پیژندل شی او څرنګه کیدای شی چه د هغو علمی ارزښت روښانه کړو او د فلسفی تفکر په تاریخ کی د هر یو مقام وټاکل شی ؟
٣- که چیری دغه نړی ته چه مونږ په کی استوګنه لرو په دقت سره نظر واچووله کومی نقطی سره به مخامخ شو ؟
٤- مادی پدیدی کومی دی ؟
٥- معنوی پدیدی کومی دی ؟
٦- د فلسفی اساسی مسله (له مادی وجود سره د فکر او روح رابطه) څو جهتونه لری کوم کوم دی ؟
٧- هغه څوک چه ماده تر شعور لومړۍ بولی او ماده د شعور پیداکونکی بولی له کوم شی څخه پیروی کوی او په کوم نامه بلل کیږی او څنګه عقیده لری ؟
٨- هغه څوک چه شعور تر مادی لومړی بولی او شعور د مادی موجودکونکی بولی له کوم شی څخه پیروی کوی او په کوم نامه بلل کیږی ؟ او څنګه عقیده لری ؟
٩- ماتریالیستان د ایدیالیستانو په مقابل کی څرنګه دلیلونه وړاندی کوی؟(دفلسفی د اساسی مسلی د لومړی جهت په هکله) .
١٠- د فلسفی د اساسی مسلی د لومړی جهت په باب ایدیالیستان په څو ډوله دی ؟
١١-د فلسفی د اساسی مسلی د لومړی جهت په باب عینی ایدیالیستان څنګه عقیده لری ؟
١٢ذهنی ایدیالیستان د فلسفی د اساسی مسلی د لومړی جهت په باب څنګه عقیده لری ؟
١٣ - د فلسفی د اساسی مسلی د دوهم جهت په باب د ماتریالیستانو عقیده څنګه ده ؟
١٤- د فلسفی د اساسی مسلی د دوهم جهت په باب ایدیالیستان په څو ډوله دی اوکوم کوم دی
١٥- عینی ایدیالیستان د فلسفی د دوهم جهت په باب څنګه عقیده لری ؟
١٦- ذهنی ایدیالیستان د فلسفی د دوهم جهت په باب څنګه عقیده لری ؟
١٧- اګنوستیکی ایدیالیستان د فلسفی د دوهم جهت په باب څنګه عقیده لری ؟

١- فلسفه څنګه پوه ده په تاريخ کی کوم فلسفی سيستمونه موجوددی که موجود وی د چا پواسطه منځ ته را غلی دی .
ځ- فلسفه يوه زړه پوهه ده هو ! په تاريخ کی ډير فلسفی سيستمونه شته چه په مختلفو هيوادو کی په راز رازشرايطو کی د ټولنو د مختلفو ډلو او طبقاتودنمايندګانو پواسطه منځ ته راغلی دی لکه ماترياليستی فلسفی سيستم،ايدياليستی فلسفی سيستم،مارکسيستی فلسفی سيستم اوداسی . . . نور.
٢- څرنګه کيدای شی چه دا ډول ډول فلسفی سيستمونه وپيژندل شی اوڅرنګه کيدای شی چه د هغو علمی ارزښت روښانه کړو اودفلسفی تفکرپه تاريخ کی د هر يوه مقام وټاکل شی ؟
ځ- ددی کار لپاره ترهرڅه پخوا بايدوکتل شی چه دغه ياهغه فلسفی سيستم اودغه ياهغه فيلسوف د فلسفی اساسی مسله څه ډول حل کوی .
٣- که چيری دغه نړی ته چه مونږ يکی استوګنه لروپه دقت سره نظرواچوو له کومی نقطی سره به مخا مخ شو ؟
ځ – له دی نقطی سره به مخامخ شو چه دهغی ټولی پديدی يا مادی دی او يا معنوی(روحی او فکری)يعنی بی له مادی او معنوی پديدوڅخه په نړۍ کی هيڅ ډول بل شی وجود نه لری .
٤- مادی پديدی کومی دی ؟
ځ- مادی پديدی هغه دی چه په عينی ډول يعنی د انسان له شعور څخه دباندی اومستقل وجودلری لکه : (ځمکنی شيان او پديدی ، اسمانی بی شميره اجسام او نور ) .
٥- معنوی پديدی کومی دی ؟
ځ- معنوی پديدی هغه دی چه دانسان په شعور کی وجودلری هغه دانسان دروحی فعاليت برخه ده لکه (افکار،حسونه،احساسات اونورچه په معنوی اوفکری دنيا پوری مربوط دی ) .
٦- دفلسفی اساسی مسله(له مادی وجود سره دفکر او روح رابطه) څو جهتونه لری اوکوم کوم دی ؟
ځ- د فلسفی اساسی مسله دوه جهتونه لری :
١- ماده لومړۍ ده اوکه شعور ايا د شعور مجودونکی ده اوکه بر عکس ؟
٣- ايا جهان پيژندلکيدونکی دی ايا د انسان عقل ددی توان لری چه د طبيعت په اسرارو لاس ومومی او د هغه د تکامل قوانين کشف کړی ؟
٧- هغه څوک چه ماده تر شور لومړۍ بولی او ماده د شعورموجودونکی بولی له کوم شی څخه پيروی کوی او په څه نا مه بلل کيږی ؟ او څنګه عقيده لری ؟
ځ- هغه فلاسفه چه ماده تر شعور لومړۍ بولی او ماده د شعور موجودونکی بولی دماترياليزم پيروانان دی او د ماترياليستانو په نامه يادېږی د دوی په عقيده ماده تل ترتله وه، ده او وی به- هغه هيچا نه ده پيدا کړی هيڅ يو فوق العاده قدرت له دی دنيا څخه دباندی وجود نه لری .
<u>شعورپخپله</u> دمادی دتاريخی تکامل محصول او ديوه فوق العاده پيچلی مادی جسم لکه دانسان ماغزه خاصيت دی .
٨- هغه فلاسفه چه شعور ترمادی لومړۍ بولی اوشعور دمادی موجودونکی بولی دکوم شی څخه پيروی کوی او څنګه عقيده لری ؟
ځ- هغه فلاسفه چه شعور تر مادی لومړۍ بولی او شعور دمادی موجودونکی بولی دايدياليسم پيروانان دی او د ايدياليستانو په نامه بلل کيږی ددوی په عقيده شعور پخوا ترمادی وجود درلودلی دی ماده ئی پيداکړيده او هغی ته ئی ژوند وربخښلی دی .
٩- دفلسفی داساسی مسئلی دلومړۍ جهت په هکله ماترياليستان دايدياليستانو په مقابل کی څرنګه دليلونه وړاندی کوی ؟
ځ- دفلسفی داساسی مسئلی دلومړی جهت په هکله ماترياليستان د ايدياليستانو په مقابل کی په لاندی توګه نه ماتيدونکی دليلونه وړاندی کوی .
١- که چيری دانسان په مغزو باندی ضربه وارده شی انسان يا ليونی کيږی او يا ئی شعور او فکر ګډوډيږی په نورماله توګه سره درست فعاليت نه شی کولای .
٢- که چيری دانسان په غوږو باندی ضربه وارده شی اودغوږوپردی وشلوی غوږونه نه شی کولای چه د غږونو اوريدل حس کړی .

٣- که چیری دانسان په سترګوباندی ضربه وارده شی اوسترګی ئی ړندی کړی سترګی نه شی کولای چه دشیانو لیدل حس کړی .
٤- که چیری دانسان ژبه له مینځه ولاړه شی هیڅکله نه شی کولای چه دشیانو خوند حس کړی .
٥- که چیری دانسان دلامسی حس له مینځه ولاړ شی هیڅکله دشیانو لمسکول نه شی حس کولای
٦- که چیری دانسان پزه له مینځه لاړه شی هیڅکله دشیانو بوی نه شی حس کولای او داسی نور
١٠- دفلسفی داساسی مسئلی دلومړی جهت په باب ایدیالیستان په څوډوله دی ؟په دوه ډوله دی
١- عینی ایدیالیستان
٢- ذهنی ایدیالیستان
11-د فلسفی داساسی مسئلی دلومړی جهت په باب عینی ایدیالیستان څرنګه عقیده لری ؟
ځ- دفلسفی داساسی مسئلی دلومړی جهت په باب عینی ایدیالیستان داسی عقیده لری چه : جهان دیوه عینی شعور(موجود دباندی له انسان څخه)پیدابولی چه دغه عینی شعورپه مختلفو فلسفی سیستمونو کی کله (دمطلقی ارادی )اوکله د(جهانی ارادی)او داسی نورو په نومونو باندی یادیږی او دغه ایدیالیستان خلکو ته په اخرت کی ددوزخونو ، چنتونو او داسی نورو خیالاتو وعدی نه ورکوی .
١٢- دفلسفی د اساسی مسئلی دلومړی چهت په باب ذهنی ایدیالیستان څنګه عقیده لری ؟
ځ- د فلسفی داساسی مسئلی دلومړی جهت په باب ذهنی ایدیالیستان داسی عقیده لری چه : جهان دانسانی فرد دشعور مخلوق دی یعنی جهان دباندی وجود نه لری یوازی دانسانی فرد شعور پخپله په خپل ځان کی جهان ترسیموی یعنی اصلاً جهان دباندی وچودنه لری خو انسان داسی فکر کوی چه دا څمکه ده اوداهواده اوهم داسی نور کائنات او مادی وجود نه دی . داډول ایدیالیستان هم په اخرت کی دد وزخونو،جنتونواوداسی نورو خیالاتو وعدی نه ورکوی ؟
دذهنی ایدیالیستانو مشر برکلی نومیده وایی چه : یوه ورځ په لار کی موټر پری راغی اوده ځان ځینی وغړاوه په دی وخت کی یوه ماتریالیست ولیده اوورته وئی ویل چه : ولی دی  دموټر څخه ځان وغړاوه ؟ ده ورته وویل چه وهلم ئی ماتریالیست سمدستی ورته وویل چه : ته خووائی چه جهان دباندی وجود نه لری نو ته ئی څنګه وهلی ؟ برکلی ددی خوله ماتوونکی سوال په مقابل کی بی ځوابه پاتی شو .
١٣- دفلسفی د اساسی مسئلی د دوهم جهت په باب ماتریالیستانو عقیده څنګه ده ؟
ځ- د فلسفی داساسی مسئلی د دوهم جهت په باب ماتریالیستان داسی عقیده لری چه :
<u>الف</u>:- جهان پیژندل کیدونکی دی . <u>ب</u> : دجهان په باب دانسان پوهه د اعتماد وړ ده.<u>ج</u>: انسان دغه توان لری چه داشیاومنځ ته نفوذ وکړی.<u>د</u>:او انسان دغه توان هم لری چه اصلیت او څرنګوالی وپیژنی .
١٤- د فلسفی داساسی مسئلی د دوهم جهت په باب ایدیالیستان په څو ډوله دی او کوم کوم دی ؟
ځ- دفلسفی داساسی مسئلی د دوهم جهت په باب ایدیالیستان په دری ډوله دی :
١- عینی ایدیالیستان . ٢- ذهنی ایدیالیستان. ٣-اګنوستیکی ایدیالییستان .
١٥- د فلسفی د اساسی مسئلی د دوهم جهت په باب عینی ایدیالیستان څنګه عقیده لری ؟
ځ- دفلسفی د اساسی مسلی د دوهم جهت په باب عینی ایدیالیستان جهان پیژندل کیدونکی شمیری خو : په واقعیت کی د انسان د پوهی څرنګوالی تحریفوی دغه ډله عقیده لری چه : انسان طبیعت او عینی جهان نه پیژنی کوم شی چه دده د پیژندنی مورد دی جهانی روح دی .
١٦- دفلسفی داساسی مسئلی ددوهم جهت په باب ذهنی ایدیالیستان څنګه عقیده لری ؟
ځ- دفلسفی داساسی مسئلی ددوهم جهت په باب ذهنی ایدیالیستان جهان پیژندل کیدونکی شمیری خو: دا ډله هم په واقیعت کی دانسان دپوهی څرنګوالی تحریفوی دغه ډله عقیده لری چه : انسان طبیعت او عینی جهان نه پیژنی کوم شی چه دده دپیژندنی مورد دی دده خپل احساسات اوافکار دی .
١٧- دفلسفی داساسی مسئلی ددوهم جهت په باب اګنوستیکی ایدیالیستان څنګه عقیده لری ؟
ځ- دفلسفی داساسی مسئلی ددوهم جهت په باب اګنوستیکی ایدیالیستان دجهان له پیژندنی څخه انکار کوی او وائی چه جهان هیڅکله نه پیژندل کیری .

---

# ماتریالیزم او ایدیالیزم دکومو کسانو په خدمت کی دی ؟

١- ماتریالیزم څنګه جهان بینی ده اوڅه کوی ؟
٢- ماتریالیزم له کوم شی سره نه پخلا کیدونکی دی او دچا په خدمت کی دی ؟
٣- دمرئی توب په ټولنه او دسرمایداری داستقرار په دوران کی ماتریالیزم دچا وسله وه اوپه حال کی دچا
٤- ایدیالیزم له کوم شی سره په تضادکی دی اوله څه شی سره پیوند لری،څه شی دپوهی تر نقاب لاندی پټوی ؟ .
٥- داصولو له مخی ایدیالیسم دچاپرضدمبارزه کوی اوایدیالیسم او مذهب دڅه شی وسیله ده او په اوسنی وخت کی دچا وفادار ملګری دی ؟
٦- مذهب دکوم شی تبلیغ کوی اودڅه وعدی ورکوی اوزیارایستونکی له کوم شی څخه راګرځوی ؟
٧- ایدیالیسم څنګه نقش لوبوی دکوم شی په درلودلو اودکوم شی په منلو سره څهکوی ؟
٨- ایدیالیسم او مذهب یوله بله سره پوره یوشان دی او دایدیلیستانو په منځ کی څنګه خلک موجوددی ؟
٩- دکوم کار علت بایدپه عمده ډول داستثمارکونکوپه طبقاتی ګټو کی ولټول شی ؟
١٠- ایدیالیسم دچالپاره دکوم شی په عنوان یوضروری شی دی ؟
١١- فلاسفه ولی په ماتریالیستانو اوایدیالیستانو ویشل کیری اودجهان دترسیم لپاره دوی څنګه کوښښ کوی ؟

---

١- ماتریالیسم څنګه جهان بینی ده اوڅه کوی ؟
ځ- ماتریالیسم یوه مترقی علمی جهانبینی ده ماتریالیسم چه له جهان څخه یوه سمه منظره ترسیموی اوهغه چی په واقع کی دی هغسی څرګندوی .دپوهی اودانسانانودعلمی فعالیت وفادارملګری دی هغه پوهه اوعلمی فعالیت چه دهغی په اساس ماتریالیسم منځ ته راغلی اوتکامل مومی .
٢- ماتریالیسم له کوم شی سره نه پخلاکیدونکی دی او دچاپه خدمت کی دی ؟
ځ- ماتریالیسم له مذهب سره نه پخلاکیدونکی دی قاعده تاً ماتریالیسم د ټولو هغو پرمختلونکوطبقاتو جهانبینی ده او وه کوم چه دبشریت دترقی اودهغه داقتصاد اوفرهنګ په باب فکر کوی .
٣- د مرئی توب په ټولنه کی اودسرمایداری داستقرار په دوران کی ماتریلیسم دچا وسله وه او په اوسنی زمانه کی د چا وسله ده ؟
ځ- د مرئی توب په ټولنه کی دیموکراتیکو قشرونوله اریستوکراسی یعنی دمرئی دارو له ارتجاعی قشر سره په مبارزه کی له ماتریالیزم څخه استفاده کوله. اودسرمایداری داستقرار په دوران کی ماتریالیم ماتریالیسم دفیودالانو اوکلیساووسره په ځګړه کی دبورژوازی ایدیالوژیکه وسله وه . زمونږپه زمانه کی ماتریالیسم دارتجاعی امپریالیستی قوتونوپه مقابل کی دمترقی بشریت دنجاتبخښونکی مبارزی ستره وسله ده .
**خاطره !** که څه هم هغه دیموکراتیک قشرونه چه له مرئی دارو ارتجاعی قشرسره ئی په مبارزه کی په ماتریالیسم باندی تکیه درلوده-اوهمدارنګه که څه هم بورژوایانو د سرمایداری په دوران کی له فیودالانو اوکلیساوو سره په جګړه کی په ماتریالیسم باندی تکیه درلوده خ بورژوازی دسوسیالیسم په راتلو کی په ایدیالیسم باندی کلکه اتکالری اوله مذهب څخه هم له حده زیاته استفاده کوی . اوکه چیری دوی د فلسفی داساسی مسئلی په دواړو جهتونوکی دماتریالیسم څخه پیروی وکړی اودیالکتیکی قوانین هم په طبیعت کی قبول کړی بیا هم دوی ماتریالیستان بلل کیری نه کمونستان ځکه چه : فیورباخ هم ماتر یالیست وه خو کمونیست نه وو . کمونیستان په دیالیکتیکی او تاریخی ماتریالیسم باندی کلکه اونه ماتیدونکی عقیده لری په دی مکله دنړی دپرولتاریاوویو رهبر داسی فرمایلی دی چه <<هر ماتریالیست کمونیست نه دی خو هر کمونیست ماتریالیست دی >>.
٤- ایدیالیسم له کوم شی سره په تضاد کی دی له څه شی سره پیوند لری څه شی دپوهی تر نقاب لاندی پټوی او څه شی کوی ؟
ځ- ایدیالیسم له بشری پوهی سره په تضاد کی دی او له مذهب سره پیوند لری اودمذهب پشان نړی بل ډول ښئی اوهغه له واقیعته لری څرګندوی . ایدیالیسم د پیدایښت مذهبی افسانه په فلسفی عقلانی عباراتو کی دپوهی ترنقاب لاندی پټوی او هڅه کوی چه دانسان په عقل باندی تکیه وکړی اود مذهب په څیر ځان د ړانده ایمان په کړکی کی نه محدودوی.

**خاطره !** ایدیالیسم له مذهب سره پدی کی پیوند لری چه : لکه څرنګه چه مذهب نړۍ له واقیعت څخه لری او ګمانی څرګندوی همدارنګه ایدیالیسم هم دغه کار په غاړه اخلی یعنی مذهب وائی چه طبیعت یو بل شی چه له طبیعت څخه مافوق دی پیدا کړی دی چه هغه د خدای اویا دبل شی په نامه یادوی او وائی چه په دی کی هیڅ ډول دلیلونه لازم ندی باید په پټو سترګو ومنل شی . اما یوه ډله ایدیالیستان (عینی ایدیالیستان)داسی وائی چه جهان یوه داسی شی پیداکړی دی چه له جهان څخه دباندی وجود لری چه شعور نومیږی اوبله ډله (ذهنی ایدیالیستان ) داسی وائی چه : چهان دانسانی فرد دشعور مخلوق دی خو دا دواړه ډلی په دی کی غلط دلیلونه راوړی اوپه پټوسترګو ئی نه قبلوی .

٥- داصولو له مخی ایدیالیزم دچا پرضد مبارزه کوی اوایدیالیسم اومذهب دڅه شی وسیله ده او په اوسنی وخت کی دچا وفادار ملګری دی ؟

ځ- د اصولو له مخی ایدیالیسم داچتماعی مترقی قوتونو پرخلاف په مبارزه کی دی .اوداستثمار کوونکو لپاره ایدیلیسم او مذهب تل دزیارایستونکو پرضددروحی اسارت وسیله او دځان دتسلط دتحکیم اوکلکولو وسیله ده . په اوسنی وخت کی هم ایدیالیسم اومذهب دسرمایداریٔ دمخ په زوال نظام ساتونکی او وفادار ملګری دی .

٦- مذهب دکوم شی تبلیغ کوی او څرنګه وعدی ورکوی اوزیرایستونکی له کوم شی څخه راګرځوی؟

ځ- مذهب دسوزاوسازش-اطاعت اوتسلیم تبلیغ کوی اوخلکو ته په اخرت کی دجنت وعدی ورکوی زیار ایستونکی په اجتماعی سترو مسئلو باندی له فکر کولو اودسولی،دیمکراسیٔ اودسوسیالیسم په خاطر داستثمار پرضد دمبارزی څخه راګرځوی .

**خاطره:**یعنی مذهب خلکو ته داسی وائی چه باید دخدای <<اطیعاا لله اطیعوالرسول واول لامرمنکم>> پرځای کړی یعنی : ومنی دخدای حکم ومنی درسول حکم او ومنی دخپلو امرانو حکمونه .یعنی خلکو ته داسی وائی چه باید تاسی دلوړو طبقاتو سره پخلا واوسی-سازش ورسره وکړی مطلق اطاعت ورته وکړی اوبایدمطلق ورته تسلیم واوسی ځکه چه دا خدای پاک لوړ او ماړه پیداکړی دی اوتاسی ئی ټیټ اووړی پیداکړی یاست (خلق لانسان من تفوت) یعنی دانسانانو په منځ کی تفاوت دی .

که چیری تاسی دا دخدای امرونه پر ځای کړی نوتاسو ته خدای جنتونه درکوی اوکه چیری ئی پرځای نه کړی نوتاسو ته خدای دوزخونه درکوی .**نو :** په دی ترتیب سره زیارایستونکی په اجتماعی مسئلو کی له فکر کولو اودسولی ، دیموکراسیٔ او سوسیالیسم په خاطر داستثمارپرضدله مبارزی څخه راګرځوی .

٧- ایدیالیسم څنګه نقش لوبوی دکوم شی په ردولو اودکوم شی په منلو سره څه کوی ؟

ځ- ایدیالیسم هم دمذهب په شان نقش لوبوی ددی حقیقت چه په چهان کی په عینی توګه وجود لری په ردولو اوددی امر چه جهان دشعور پیدادی په منلو ایدیالیسم ټول اجتماعی تنا قضات اود سرمایداری فسادونه او عیبونه د خلکو په ګمراهیٔ او ددوی په اخلاقی نیمګړتیاوو کی ګوری اوپه دی ترتیب سره زیا رایستونکی تیر باسی او هغوی له امپریالیستی ارتجاع سره د مبارزی له لاری منحرفویٔ . تعنی ایدیا لیستان وائی چه جهان په خپله موجود نه دی بلکی دیوه شعور مخلوق دی چه له جهان څخه لوړ دی او داټیټ او لوړ طبقات هم هغه پیدا کړی دی پدی کی لوړ طبقات هیڅ ملامت نه دی چه دخلکو ژوند ټیټ دی اوبل داچه دا څه فسادونه او عیبونه چه وجود لری پدی کی هم د لوړو طبقاتو ملامتیا نشته خلک نا پوهه،ګمراه اوبد اخلاقه پیداشوی دی خلک په خپله ګمراهی اوبداخلاقی کوی . **نو:** په دی ترتیب سره زیارایستونکی تیر باسی او هغوی له امپریالیستی ارتجاع سره دمبارزی له لاری منحرفوی .

٨- ایا ایدیالیسم اومذهب یوله بله سره پوره یو شان دی او دایدیالیستانو په منځ کی څنګه خلک موجود وو ؟ ځواب :- لکه چه هم ایدیالیسم او مذهب یو له بله سره نږدی خو سره له دی هم نشی کیدای چه دواړه پوره یو شان وګڼل شی دایدیالیستانو په منځ کی داسی خلک موجود وو چه د فلسفی افکارو په تکامل کی ئی د جهان یوه غلطه منظره ترسیم ګړی ده .

**خاطره:** ایدیالیسم او مذهب یو له بله سره په دی کی نږدی دی چه :

١- مذهب نړیٔ بل ډول ښئی او هغه له واقیعته لری او ګمانی څرګندوی ایدیالیسم هم نړیٔ بل ډول ښئی او هغه له واقیعت څخه لری او ګمانی څرګندوی .

٢- مذهب زیارایستونکی په اجتماغی سترو مسئلو باندی له فکر کولو اودسولی دیموکراسیٔ او سوسیا لیسم په خا طر داستثمار پر ضد له مبارزی څخه راګرځوی ایدیالیسم هم زیارایستونکی تیر باسی او هغوی له امپریالیستی ارتجاع سره دمبارزی له لاری منحرفوی .

- ایدیالیسم او مذهب پدی سبب یوله بله سره پوره یو شان نه ګڼل کیږی چه :
۱- مذهب د جهان په پیدایښت کی خپل ځان د ړانده ایمان په کړکۍ کی محدودوی اما ایدیالیسم د پیدایښت مذهبی افسانه په فلسفی عقلانی عباراتو کی د پوهی تر نقاب لاندی پټوی او هڅه کوی چه دانسان په عقل باندی تکیه وکړی او دمذهب په خیر ځان د ړانده ایمان په کړکۍ کی نه محدودوی .
۲- مذهب ددی لپاره چه زیارایستونکی له طبقاتی مبارزی څخه راوګرځوی خلکو ته د لوړو طبقاتو سره دسوز-سازش اطاعت او تسلیم تبلیغ کوی اوپه اخرت کی د جنتونو وعدی ورکوی **اما :** ایدیالیستان د جنتونو وعدی خلکو ته نه ورکوی خو ددی حقیقت چه جهان په عینی توګه سره وجودلری په ردولو اوددی امر چه جهان د شعور مخلوق دی په منلو سره ټول اجتماعی تناقضات او دسرمایداری فسادونه او عیبونه دخلکو په ګمراهۍ او ددوی په اخلاقی نیمګړتیاوو کی ګوری او په دی ترتیب سره زیارایستونکی تیر باسی اوهغوی له امپریالیستی ارتجاع سره دمبارزی له لاری منحرفوی .
۳- مذهب دفلسفی افکارو په تکامل کی دجهان هیڅ ډول منظره نه ترسیموی اما په ایدلیستانو کی داسی خلک موجود وو چه دفلسفی افکارو په تکامل کی ئی دجهان غلطه منظره ترسیم کړیده لکه متافیزیکی قوانین اوداسی تور . . .
۹- دکوم کار علت باید په عمده ډول سره داستثمارکونکو په طبقاتی ګټوکی ولټول شی ؟
ځ- ډیره موده کیږی چه دپوهی او عمل پرمختګ دایدیالیسم بطلان ښودلی دی سره له دی هم ایدیالیستی نظریات تراوسه پوری په سرمایه لرونکو هیوادونو کی ستر رواج لری ددی کار علت بایدپه عمده ډول داست
سمارکونکو طبقاتو په طبقاتی ګټوکی ولټول شی. یعنی داچه : ایدیالیستی نظریات په سرمایه لرونکو طبقو کی لاتراوسه ستررواج لری داددی سرمایه لرونکو طبقو په ګټه دی نه ددوی په ضرر اوکه دددوی په ضررتمامیدلی حتماً به ئی ددغو نظریاتو پرضد مبارزه کړی وای اونه به ئی پرښودلی .
۱۰- ایدیالیسم دچالپاره دکوم شی په عنوان یو ضروری شی دی ؟
ځ- ایدیالیسم داستثمار کوونکو طبقاتو لپاره هم دماتریالیسم په مقابل کی دمبارزی دوسیلی په حیث او هم دزیارایستونکو دروحی اسارت د وسیلی په عنوان یو ضروری شی دی .
۱۱- فلاسفه ولی په ماتریالیستانو اوایدیالیستانو ویشل شیدی اودجهان دترسم لپاره دوی څنګه کوښښ کوی ؟
ځ- فلاسفه له دی حاطره چه دفلسفی اساسی مسئلی ته څرنګه ځواب ووائی په ماتریالیستانو او اید یالیستانو ویشل کیږی **دجهان دترسیم** له پاره ددوی هره ډله کوښښ کوی او ټاکلی اسلوب په کار اچوی

---

## داسلوب مفهوم-ډیالکټیک اومتافزیک

۱- انسان دخپل معرفت او علمی فعالیت په جریان کی کوم شی مخی ته ږدی اوکوم شی په مخکی نیسی،ایایوازی دهغه شی ټاکنه اودهغه شی یوازی بیان دهغو د تحقق معنی لری- هدف ته درسیدو له پاره کوم شی ستر اهمیت لری اواسلوب څه شی ته وائی ؟
۲- ایا دټاکلی اسلوب له پکار اچولو پرته دعلمی اوعملی وظیفی انجام امکان لری **دمثال په توګه** که چیری وغواړو دیوی ټاکلی مادی کیمیاوی ترکیب تعین کړو یا داچه وغواړو یو فلز ویلی کړو په همدی ډول د ازیکی،بیولوژیکی او نورو پدیدو په څیړنه څه باید وکړو او دانسان دزیاتی توجه کول دکوم کار په اجرا کولو کی بی ځایه نه ده ؟
۳- په څه وجه هره پوهه او عملی فعالیت ځانته مخصوص اسلوب لری او کوم کوم دی ؟
٤- علمی فلسفی دڅه شی سره یوځای څه شی تنظیم کړی دی اوهغه دڅه په نامه باله کیږی او دمشخصو پوهنو له اسلوب سره ماتریالیستی دیالیکتیک ولی ګوښوالی لری؟
٥- ډیالیکتیک څه ته ویل کیږی اودیالیکتیک څه وائی-دچاپه خدمت کی دریږی اودچا لپاره دڅه شی درنه وسله ده ؟ دماتریالیستی دیالیکتیک په هکله انګلس څه لیکی ؟
٦- متافزیک اسلوب له څه شی سره له ربښی تضاد لری-لومړی په څه شی کی راڅرګند شو او په څه شی کی ئی رواج پیدا کړ-دهغی زمانی متافزیک له کوم شی څخه انکارکاوه-حرکت ئی څنګه باله او

اوس متافزیک څه وائی-د چا په خدمت کی درېږياو څوک پرمتافزيک باندی ځنګ لګوی اود دیالیکتیک رښتیاوالی کوم شیان تائیدوی ؟
٧- کوم شیان دماتریالیستی دیالیکتیک داصولوپه برى او رښتیا والی باندی ریښتینی شاهدان دی ؟
٨- اوس ولی کولای شو چه د مارکسیستی فلسفی پرموضوع یعنی مادی فلسفی او تاریخی ماتر یالیزم باندی څېړنه وکړو ؟

---

١-انسان د خپل معرفت او عملی فعالیت په جریان کی کوم شی مخی ته ږدی اوکوم شی په مخکی نیسی،ایا یوازی دهغه شی ټاکنه اودهغه شی یوازی بیان دهغودتحقیق معنی لری-هدف ته درسیدو لپا ره کوم شی ستر اهمیت لری اواسلوب څه شی ته وائی ؟
ځ- انسان دخپل معرفت او عملی فعالیت په جریان کی ټاکلی هدفونه مخی ته ږدی او ټاکلی وظایف په مخکی نیسی اما دهدف یوازی ټاکنه اودوظیفو یوازی بیان دهغو دتحقق معنی نه لری . **هدف** ته درسیدو لپاره د سمو لارو اووظیفی دموثر انجام له پاره دلارو جارو موندل ستر اهمیت لری .
**اسلوب:-**په لغت کی طریقی،لار اومیتود ته وائی اوپه اصطلاح کی دتیوریک تحقیق اوپراکتیک دټاکلیو اصولو اوروشونو مجموعی ته اسلوب وائی . یعنی کوم وخت چه مونږ یوهدف په نظر کی و نیسواویاکومه یوه وظیفه بیان کړو اسلوب له هغو ټاکلیو لارو،طریقو اصولو اوروشونو له مجموعی څخه عبارت دی چه مونږ هغه هدف ته چه په نظرکی مو نیولی دی وړورسیږو اودهغو طریقو اصولو او روشونوله مجموعی څخه عبارت دی چه خپلی بیان کړی شوی وظیفی ته پری ورسیږو .
٢- ایا دټاکلی اسلوب له پکاراچولو پرته دعلمی اوعملی وظیفی انجام امکان لری دمثال په توګه کچیری وغواړو چه دیوی ټاکلی مادی کیمیاوی ترکیب تعین کړو یا داچه وغواړو یوفلزویلی کړو په همدی توګه د فزیکی،بیولوژیکی اونورو پدیدو په څېړنه کی څه باید وکړو اودانسان دزیاتی توجه کول دکوم کار په اجرا کولو کی بی ځایه نه ده ؟
ځ-د ټاکلی اسلوب له پکار اچولوپرته د هیڅ علمی اوعملی وظیفی انجام امکان نلری مثلاً : ١- کچیری و غواړو دیوی ټاکلی مادی کیمیاوی ترکیب تعین کړو ناچاره ترهرڅه دمخه باید دکیمیاوی تجزئی اسلوب زده کړو یعنی باید وپوهیږو چه څرنګه دلازمو کیمیاوی معرفونوپه مرسته پرهغی باندی تائیر وکړواونور . . .
٢- یاداچه که وغواړو یوفلز ویلی کړو نوباید دفلزاتو دویلی کولو تکنالوجی یعنی هغه عملی روشونه چه د فلزاتو دتولید په جریان کی پکاریږی زده کړو .
٣- په همدی ډول دفزیکی،بیولوژیکی اونوروپدیدوپه څېړنه کی ټاکلی اسلوب لرل ضروری دی .
٤- بی ځایه نه ده که انسان دفکری اوعملی کار داسلوبونو په تنظیم اوددغو اسلوبونو په زده کولو کی زیاته توجه وکړی .
**خاطره :-** یعنی اجتماعی طبقات هم هیڅکله نه شی کولای چه دټاکلیو طریقو، لارو،اصولواوروشونو له پکاراچولوڅخه پرته خپل په نظرکی نیول شوی اهداف تر لاسه کړی یعنی مقصد له دی اهدافو څخه په اجتماعی ژوند کی دی .
٣- په څه وجه هره پوهه اوهر عملی فعالیت ځانته مخصوص اسلوب لری اوکوم کوم دی ؟
ځ- اسلوب د تحقیق د څوهغوټاکلیو روشونومیخانیکی مجموعه نده چه دانسان له خوښی سره سم بی له دی چه دتحقیق وړپدیدو سره ارتباط ولری ټاکل شوی اسلوب تر زیاتی اندازی ددغوپدیدو پر طبیعت او دهغو په قانونمندئ پوری اړه لری **چه په همدی وجه**هره پوهه اوهر عملی فعالیت ځانته مخصوص اسلوب لری مثلاً : دفزیک اسلوبونه د کیمیا له اسلوبونو سره توپیر لری اودکیمیا اسلوب دبیولوژئ له اسلوبونو سره فرق کوی اوداسی نور . . .
**خاطره:-** یعنی انسان نه شی کولای چه په خپله خوښه دغنمو دانی په تیرو کی راشنی کړی او حاصل تری واخلی ځکه چه دغنمو دانی په ډبرو کی نه شنی کیږی دغنمو ددانو دشنه کیدو لپاره دځمکی هموارول اوپه وخت سره پارو اواوبه ورکول لازم دی .
**همدارنګه :**اجتماعی طبقات هم هیڅکله نه شی کولای چه دخپلو خوښو کړیو اصولو اوروشونو له مخی خپل اهداف ترلاسه کړی بی له دی چه هغه اصول او روشونه د ټولنو د تحقیق وړ پدیدو سره ارتباط ولری.
٤- علمی فلسفی له څه شی سره یوځای څه شی تنظیم کېږدی اوهغه دڅه په نامه یادیږی اود

مشخصو پوهنو له اسلوب سره ماتریالیستی دیالکتیک ولی ګوښیوالی لری ؟
ځ- علمی فلسفی دانسانانو دعملی فعالیت اودعلومو دپرمختګونو دنتایجوله تقسیم سره یوځای دځپل خاص معرفت اسلوب تنظیم کړی چه همغه ماتریالیستی دیالیکتیک دی .
د مشخصو پوهنو له اسلوب سره دتمایز او ګوښیوالی وجه داده چه : ماتریالیستی دیالیکتیک د واقیعت د کومی ټاکلی برخی ددرک کلی نده بلکی دطبیعت دټولو برخو –دټولنی اوتفکر اوپه مجموعی ډول دجهان ددرک او پیژندنی کلی ده .
٥- دیالیکتیک څه ته ویل کیږی اودیالیکتیک څه وائی- د ماتریالیستی دیالیکتیک داسلوب په هکله انګلس څه لیکی-دچا په خدمت کی دریږی اودچا لپاره دځه شی درنه وسیله ده ؟
ځ- دیالیکتیک په لغت کی دانګلیسی لغت دیالوګ(د دوونفرو محاوری)څخه بیل شویدی اوداد دیالیکتیک لغت له لرغونی یونان څخه راخیستل شویدی په پخوانیو پیریوکی دمباحثی هغه فن چه دحریف په وینا کی د تضادونوپه موندلواوپه هغو باندی دغلبی له لاری به دحقیقت دپیداکولو لپاره کوښښ کیدی دیالکتیک بلل کیده او وروسته هغه په واقیعتونو باندی دمعرفت داسلوب په مفهوم په کار اچوی .
**دیالیکتیک وائی چی :**
**١-** نړۍ پرلپسی په حرکت کی ده .
٢- د حرکت اطلاق په هر راز تغیر باندی کیږی تغیر په کلی توګه د جهان په ټولو جریاناتو کی شامل دی یعنی دمکان له ساده میکانیکی تغیر څخه بیا تر ډیر پیچلی جریان پوری چه انسانی تفکر دی موجود دی
٣- نړۍ پرلپسی په تکامل کی ده .
٤- تکامل د حرکت غوندی ګڼی دا حرکت له ساده څخه پیچلی ته دی .
٥- داحرکت دټوپ(جهش)اوانقلابی حرکت په شان دی .
٦- داحرکت د ټیټو درجو څخه و لوړو درجو ته دی دا یو بی پایه جریان دی .
٧- داحرکت دیوی تړلی دایری په شاوخوا کی نه دی بلکی مارپیچی حرکت دی چه دهغه هر پیچ له وړا ندینی پیچ څخه ډیرژور بډای وی او ډیر ټول اړخیز دی .
٨- دتکامل سرچینه په هغو تضادونو کی ده چه پخپله په شیانو او پدیدو کی موجود دی .
٩- نړۍ دنوی کیدلو بی پایانه جریان دی .
١٠- نړی دزړو پدیدو دمرګ اود نویو پدیدودراخرګندلوبی بی پایانه جریان دی .
١١- په نړی کی هیڅ شی بی له قیده اوشرطه نه دی .
١٢- دادتکامل مترقی خصلت دی چه نوی له زاړه سره په مبارزه کی دی .
١٣- اونوی په زاړه باندی په ناچاره توګه سره بریالی کیږی .
١٤- دیالیکتیک په هرشی کی دهغه دناچارو کمزورو پدیدو دزوال نښه وینی .
**خاطره :-** په حقیقت کی دیالیکتیک نړی همسی چه ده وینی او له همدی کبله یوازی علمی اسلوب دی . همدارنګه دماتریالیستی دیالیکتیک پورتنی قوانین په ټولنیز ژوند کی هم تطبیقیږی .
انګلس دماتریالیستی دیالیکتیک په باب داسی لیکی چه : <<په دیالیکتیکی فلسفه کی هیڅ شی دتل لپاره برقرار ندی هیڅ شی بی له قیده اوشرطه ندی دیالیکتیک فلسفه په هرشی کی دهغه دناچارو کمزورو پدیدو اوزوال نښه وینی دهغی په مخکی دپیداکیدلو او ورکیدلو نه شلیدونکی جریان اود کښتنیو مدارجو څخه پورتنیو مدارجوته دتیریدلو له بی پایه جریان څخه پرته بل هیڅ شی وجود نه لری >> .
**اومارکسیستی دیالکتیک** د تکامل دجریان دزاړه سره دنوی دناچاره بریالیتوب په تشریح سره دمخ په زوال اجتماعی نظم اوارتجاعی طبقاتی قدرتونوپر ضد په مبارزه کی داجتماعی مترقی قدرتونوپه خدمت کی دریږی . په اوسنی وخت کی دیالیکتیک دکارګرو دطبقی اوددی طبقی د مارکسیستی ګوندونو په لاس کی دنړۍ پیژندنی اودهغی دانقلابی بدلون لپاره درنه وسیله ده .
٦- دمتافزیک اسلوب له څه شی سره له ریښی تضاد لری – لومړی په څه شی کی راڅرګند شو او په څه شی کی ئی رواج پیدا کړ دهغی زمانی متافزیک له کوم شی څخه انکار کاوه-حرکت ئی څنګه باله او اوس متافزیک څه وائی دچاپه خدمت کی دریږی اوڅوک پر متافزیک باندی څنګ لګوی اود دیالیکتیک ریښتیا والی کوم شیان تائیدوی ؟
ځ- کوم بل اسلوب چه له ماتریالیستی دیالیکتیک سره له ریښی تصاد لری دمتافزیک اسلوب دی .
متافزیک په لغت کی له : متا(ماورای)-فزیک(طبیعت) څخه اخیستل شوی دی دپدیدو په څیړنه کی

متافزیکی اسلوب لومړی په طبیعی علومو کی راڅرګندشو.په ۱۷او۱۸پیړی کی ئی په فلسه کی هم رواج پیداکړو .دهغې زمانې میتافزیک له حرکت اودنوی له پیدایښت څخه انکارکاوه اوحرکت ئی یوازی په فضاکی د اجسامو ساده ځای بدلول باله . پهاوسنۍ زمانه کی دعلمی سترو کشفیاتو اوداجتماعی حیرانوونکو تغیراتو په پیړی کی دتکامل څخه مخامخ انکار نورامکان نه لری په همدی وجه اوسنی میتا فزیک دتکامل دپدیدی د معکوسولو لاره په مخکی نیولی ده .
**میتافزیک وائی چه :**
۱- تکامل یوازی دکمی زیاتیدو په معنی دی .
۲- تکامل د پخوانیو موجودو شیانو دتکراریدو په معنی او مفهوم دی بی له دی چه په هغه کی کوم نوی والی منځ ته راغلی وی .
۳- د شیانو داخلی تضادونه دتکامل سر چینه نه ده .
۵-نوی له زاړه سره مبارزه نه کوی .
**خاطره :** میتا فزیک دا پورتنی ټول قوانین په ټولنه کی هم ښئی چه دایوه پوچه اود واقیعت څخه لری عقیده ده اوهمدارنګه د تکامل دمترقی خصلت له زاړه سره دنوی دمبارزی اوپه زاړه باندی دنوی دخامخا بریالیتوب په انکارسره اوسنی میتافزیک دارتجاعی قوتونو سره په مبارزه دهمدغو ارتجاعی قوتونو له خوا تری استفاده کیږی.
**څرنګه چی :**ریویژیونیستانو-دطبقاتی مبارزی-سوسیالیستی انقلاب اودپرولتایا له دیکتاتوری څخه لاس اخیستی دی اوداستثمار کوونکو او استثمار کیدونکو تر منځ د : سولی او پخلاینی او سوسیالیسم ته د سرمایداری دپخپله ورتګ تبلیغ کوی نو پر میتافزیک باندی څنګ لګوی .
اوجاری ژوند،پوهنه او عمل د دیالیکتیک داسلوب ریښتیا والی تائید وی .
۸- اوس ولی کولای شو چه د مارکسیستی فلسفی پر موضوع یعنی مادی فلسفز اوتاریخی ماتریالیزم باندی څیړنه وکړو ؟
ځ- اوس چه مو ددیالیکتیک اوماتریالیزم په باره کی یو تصویر لاسته راوست کولای شو چه دمارکسیستی فلسفی اوتاریخی ماتریالیزم باندی څیړنه وکړو .

---

## دمارکسیستی فلسفی موضوع

۱
۱- دمارکسیستی فلسفی له موضوع څخه مطلب څه شی دی ؟
ب-د پیړیوپه تیریدو سره دتکامل په جریان کی دفلسفی موضوع څنګه شویده ؟
ت-فلسفی په لومړیو وختونو کی څه شی په غیږ کی نیول ؟
ث- مګر وروسته کوم شیان له فلسفی څخه جدا شول او په اوسنی وخت کی څه شی وجود لری اوڅه کوی
ج- نو مارکسیستی فلسفه کومه موضوع(دواقیعت کومه برخه)ترڅیړنی لاندی نیسی ؟
۲- س .
الف – د مارکسیتی فلسفی په موضوع کی عمده ټکی څه شی دی اوهغه څنګه حل کوی ؟
ب- مارکسیستی فلسفه ولی ماده تر شعور مقدمه بولی اوولی جهان پیژندونکی بولی ؟
ث- مارکسیستی فلسفه ولی جهان دحرکت-تکامل اوتل ترتله دتجددپه حال کی ګوری ؟
۳
ا- ځانګړی علوم دمادی جهان قوانین څنګه څیړی اومثالونه ئی؟
ب- ایا ځانګړی علوم نورو برخو ته پراختیا موندلی شی دمثال په توګه میخانیکی قوانین څنګه دی ؟
ث- دیالیکتیکی ماتریالیسم له ځانګړو علومو څخه ولی ګوښی والی لری،څرنګه قوانین ترڅیړنی لاندی نیسی هغه کوم کوم دی او له کومه سببه دیالیکتیکی ماتریالیزم څنګه پوهه ده ؟
٤
۱- پخوا له کارل مارکس څخه فلاسفاوو څنګه هڅه کوله اوددوی دناکامی علت څه شی ګڼل ګیری ؟
۵- دکارګری طبقی په انقلابی مبارزه کی دکارل مارکس او فریدریخ انګلس کومشیان دڅه شی موجب شول اومهمه نقطه کومه ده ز

اول سوال .
ا- د مارکسیستی فلسفہله موضوع څخه مطلب څه شی دی ؟ ب- دپیړیوپه تیریدو سره دتکامل په جریان کی دفلسفی موضوع څنګه شوی ده ؟ ث- فلسفی په لومړیو وختونو کی څه شی په غیرکی نیول ؟
ج- مګرورسته له فلسفی څخه کوم شیان جلاشول اوپه اوسنی وخت کی څه شی وجود لری اوڅه کوی؟ د- نومارکسیستی فلسفه کومه موضوع(دواقیعت کومه برخه)ترڅېړنی لاندی نیسی ؟
داول سوال ځواب ؟
دمارکسیستی فلسفی له مو ضوع څخه مطلب دهغو یولړماسئلو ټاکل دی چه مارکسیستی فلسفه ئی مطا لعه کوی اوددی چارو توضیح کول دی چه مارکسیسی فلسفه په کومو شیانوکی له نوروعلومو څخه ګوښیوالی لری . ب- دپېړیو په تیریدو سره دفلسفی دتکامل په جریان کی دفلسفی موضوع تل بدلون موندلی دی .ت- په لومړیو وختونو کی فلسفی دجهان په باره کی دبشرټوله پوه په مجموعی ډول او ددی نړۍ جلاجلاپدیدو اوشیانو لکه: ځمکه،انسان،حیوانات،معدنیاتاونورو په باره کی معلومات په بر کی نیول . ث- مګر وروسته دتولیددتکامل او دعلمی معلوماتو دزیاتیدوپه جریان کی ټاکلی اومثبت علوم لکه : میکانیک،فزیک،کیمیا،ځمکه پیژندنه،تاریخ یویه بل یسی له هغی څخه جلاشول اوپه اوسنی وخت کی د علومو په لسهاوو څانګی وجود لری چه دواقیعت په ډول ډول برخو کی څېړنه کوی .
ج- دفلسفی داساسی مسئلی په حل کولو دیالیکتیکی ماتریالیسم دمادی دنیا دتکامل دترټولوکلی قوانین ترڅېړ نی لاندی نیسی چه په عین حال کی دهغه موضوع هم تشکیلوی .
<u>خاطره</u> : په مخکی موولیکل چه علوم له فلسفی څخه جلا شول دا جلا کول د طبیعت دڅېړلو په هکله دی یعتی علوم هریو په واقیعت پوری یوه ټاکلی مربوطه برخه ترڅېړنی لاندی نیسی اوفلسفه دواقیعت کلی برخی یعنی په واقیعت پوری ټولو مربوطو برخو کلی قوانین تر څېړنی لاندی نیسی داهم باید ووایو چه اصلاً فلسفه اوعلوم یو له بله څخه نه شلیدونکی ارتباط لری .
دوهم سوال .
ا- د مارکسیستی فلسفی په موضوع کی عمده ټکی څه شی دی اوهغه څنګه حل کوی ؟
ب- مارکسیستی فلسفه ولی ماده ترشعور مقدمه بولی او ولی جهان پیژندونکی بولی ؟
ت- مارکسیستی فلسفه ولی مادی جهان دحرکت،تکامل او تل تر تله دتجددپه حال کی ګوری ؟
د دوهم سوال ځواب .
ا- د مارکسیستی فلسفی په موضوع کی عمده ټکی د فلسفی د اساسی مسئلی د حل کولو څخه عبارت دی یعنی د مادی ژوند او شعور تر منځ درابطی مسئله .څرنګه چه مو ولیدل هر فلسفی سیستم دغه مسئله حل کوی خو : یوازی مارکسیستی فلسفه دهغی سم او علمی حل وړاندی کوی .
ب- د مارکسیسم فلسفه مادی فلسفه ده ځګه دفلسفی د اساسی مسئلی په حل کولو کی په شعور باندی دمادی ژوندپیداښت په وړاندی توب عقیده لری . دافلسفه په دی عقیده ده چه جهان مادی او دپیژندنی وړ دی او جهان هغسی چه په واقیعت کی دی وینی .
ث- مارکسیتی فلسفه پر ډیالکتیک ولاړه ده ځګه مادی جهان دحرکت،تکامل او تل ترتله د تجددپه حال کی ګوری .
دریم سوال .
ا- ځانګړی علوم دمادی جهان قوانین څنګه څېړی ؟ ب- ایا ځانګړی علوم نورو برخوته پراختیا موندلی شی دمثال په توګه میخانیکی قوانین څنګه دی ؟ ت- دیالیکتیکی ماتریالیزم له ځانګړو علوموڅخه ولی ګوښیوالی لری څرنګه قوانین ترڅېړنی لاندی نیسی- هغه کوم کوم دی اولهکومه سببه دیالیکتیکی ماتر یالیسم څنګه پوهه ده ؟
د دریم سوال ځواب : ا- هرڅوک پوهیږی چه ځانګړی علوم هم دمادی جهان قوانین څېړی مګر له هغو څخه هریو دواقیعت یوه ټاکلی برخه تر تحقیق لاندی نیسی مثلاً :دفزیک پوهه- حرارت، بریښنا،نور، مقنا طیسی او فزیکی پدیدی څېړی. دکیمیاپوهه- دموادو کیمیاوی جریانات اوتغیرات اودبیولوژی پوهه- هغه پدیدی تر څېړنی لاندی نیسی چه په حیواناتو اونباتاتو کی وجودلری اونور .ب- ددغو پوهنو قوانین یوازی د واقیعت دیوی ټاکلی برخی په تکامل پوری مربوط دی دوی نه شی کولای چه نورو برخو ته پراختیا ورکړی مثلاً میخانیکی قوانین به وګورو :
هغه یوازی د میکانیکی ماهیت په فضأکی داجسامو ساده ځای بدلول څرګندوی مګر نه شی کولای چه

کیمیاوی.بیولوژیکی اونور جریانات تشریح کړی سره له دی چه میخانیکی قوانین په ټولو نومړو جریاناتو کی تائثر کوی خو په دغوجریاناتو کی مستقل نقش نه لری او دنوروقوانینو تابع دی کوم قوانین چه ددغو جریاناتوماهیت مونږته راښئی(په کیمیاوی جریاناتو کی کیمیاوی قوانین په بیولوژیکی جریاناتو کی بیولو ژیکی قوانین اونور) . ت- دیالیکتیکی ماتریالیزم له څانګړو علومو څخه له دی عمله ګوښی کیږی چه د واقیعت په ټولو برخوپوری مربوط کلی قوانین تر څیړنی لاندی نیسی لکه: د طبیعت ټول ژوندی اوغیرژوندی موجودات داجتماعی ژونداوشعورپدیدی داضدادو دیوالی اومبارزی دقانون پراساس له کمی تغیراتو څخه کیفی تغیراتو ته دتیریدلو قانون اوداسی نور تکامل مومی دغه قوانین اود دیالیکتیکی ماتریالیزم نور قوانین به وروسته په تفصیل سره مطالعه شی .
دیالیکتیکی ماتریالیزم د طبیعت،ټولنی،تفکر دقوانینو په علم باندی دانسان په مجهزولو سره نه یوازی د اشیاوو اوپدیدو دپیژندنی خواته لار پرانیزی بلکی دجهان دانقلابی بدلون لاره هم راښئی له دی سببه دیالیکتیکی ماتریالیزم داسی یوه پوهنه ده چی : دفلسفی داساسی مسئلی دسم حل په اساس : دترټولو کلی قوانینو څخه بحث کوی . ب- دمادی تکامل له دیالیکتیکی قوانینو څخه بحث کوی .ت- په دی جهان باندی دپوهیدلو له لارو څخه بحث کوی. ج- اودجهان د انقلابی بدلون لاره هم راښئی .
٤- پخوا ترمارکس فلاسفه ؤو څرنګه هڅه کوله اوددوی دناکامی عمده عامل څه شی ګڼل کیږی ؟
ځواب : پخوا تر مارکس فلاسفه ؤو هڅه کوله څو :
ا- دتکامل ترټولو کلی قوانین کشف کړی. ب- اودجهان یوه واحده اوبشپړه منظره ترسیم کاندی . له دوی څخه یو زیات شمیر په دغه هڅه کی محدودو کامیابیو ته ورسیدل مګر بری ئی ونه موندچه له جهان څخه واقعاً یوه علمی منظره وښودلی شی. له دوی څخه یوشمیر نور هم دمیتافزیکی روش دپکار وړلو په علت له دغی عهدی ونه شو وتلای .<u>برسیره پردی</u> دوی ټول دانقلابی مبارزی له پراتیک اوزیارایستونکو خلکو له ګټو څخه لری او پر شا وو <u>اودغه کار</u>د دوی دناکامی یوعمده عامل شمیرل کیږی.
٥- دکارګری طبقی په انقلابی مبارزه کی دکارل مارکس او فریریخ اګلس کوم شیان دڅه شی موجب شول اومهمه نقطه کومه ده او تاریخی ماتریالیسم څه کوی ؟
ځواب : د کارګری طبقی په انقلابی مبارزه کی دمارکس او انګلس :
ا- فعال ګډون. ب- خلکو ته د دوی بیشکه وفاداری . ج- اودهغی زمانی دفلسفی اوعلومو په کامیابیو باندی دهغو پراخ معرفت موجب شول جی دغه دوه ستر پوهان :
ا- دغه کلی قوانین پیدا کړی . ب- او دواقیعت ماتر یالیستی اودیالیکتیکی ماهیت وښئی .**مهمه نقطه داده چی :**مارکس او انګلس دتکامل ماتریالیستی اودیالیکتیکی خاصیت په ژوند کی هم وښود او تاریخی ماتریالیسم یعنی داجتماعی تکامل یوازی علمی تیوری او دټولنی په انقلابی تغیراتو باندی د معرفت د اسلوب بنسټ ئی کیښود . **تاریخی ماتریالیسم** چه دټولنی دتکامل ترټولوکلی قوانینو له علم څخه عبارت دی دمارکسیستی فلسفی نه جلاکیدونکی ټوک دی .

## مارکسیستی فلسفه اونورعلوم

اول سوال . ا- د دیالیکتیکی ماتریالیسم قوانین څنګه خصلت لری اوپه کومو شیانو کی عمل کوی ؟
ب-په کومه وجه دیالیکتیکی ماتریالیسم دنورو علومو په تکامل کی مهم نقش لری ؟
ت- دیالیکتیکی ماتریالیسم دڅه شی پا اساس را پیدا شوی،دکوم شی تعمیم کوی؟
ث-له کوم شی سره مرسته کوی او هغه شی په کوم شی باندی مجهزوی ؟
ځواب ۰ ا-د دیالیکتیکی ماتریا لیسم قوانین عمومی او ټوله ئیز خصلت لری هغه په ټولو ځایو په ژوند او موجوداتو کی پخپله په انسان او دده په تفکر کی عمل کوی .
ت-د مارکسیستی فلسفی ټوله ئیز توب فوق العاده اهمیت لری کیدای شی چه ددغه قوانینو په مرسته دجهان په ډول پدیدو پوهه او معرفت مونده شی په همدی وجه دیالیکتیکی ماتریالیسم د نورو علومو په تکامل کی مهم نقش لری .
ت-دیالیکتیک ماتریالیسم جه د پراکتیک بریالیتوبونواو مشخصو علومو د مواأقیتونو په اساس راپیدا شی دی په خپله د همدغوبریالیتوبواوموافقیتونو تعمیم دی یعنی همدغوبریالیتوبونو اوموأقیتونوته استحکام

ورکوی. ث- په خپل وار له علمی تکامل او علومو سره مرسته کوی او هغه دڅیړنی په علمی اسلوب مجهزکوی.
دوهم سوال . ا- پوزیتویستان څوک دی،په څه باندی لاس پوری کوی او څه کوی ؟
ب- دعلوموافلسفی تاریخ څه شی ردوی اوڅه شی څرګندوی ؟
ت- او ستر روسی متفکر (هرتسن )فلسفه له څه شی سره مقایسه کړیده ؟
ځواب : ا- دمعاصری بورژوازی فلسفی ځینی نمایندګان(دپوزیتیویستانو په نامه )دعلومو دتکامل لپاره د علمی جهان بینۍ او فلسفی داهمیت په رد اودعلومو او فلسفی دمتقابلو اړیکو دماهیت په قبلولو لاس پوری کوی هغوی دعلمی معرفت (پوزیتیو)ترعنوان لاندی فلسفه له علومو څخه جلاکوی او غواړی ثابته کړی چه په کلی توګه فلسفی ته کومه اړتیا نه لری .
ب- دعلومو اوفلسفی تاریخ د پوزیتیویستانو نظریاط ردوی اوداسی څرګندوی چه علوم اوفلسفه یوله بله بیلتون نه منی.ت- ست روسی متفکر(هرسن)فلسفه دیوی ونی له تنی سره مقایسه کوی  چه ډول ډول علوم ئی څانګی دی که چیری یوه ونه بی له تنی اوڅانګو وجود نه لرلی نو علوم او فلسفه هم بی له یوه بله د تصور وړ نه دی . (که څانګی پری کړی له ونی څخه پرته له یوی تنی نور څه نه پاتی کیږی ، که تنه پری کړی څانګی ټولی توئیږی) .
دریم سوال . ا- دعلومو اوفلسفی تر منځ دمتقابل تاثیر اورابطی زیاتوالی په څه شی پوری تړلی دی ؟
ب- په اوسنی وخت کی علوم څه شی حل کوی اودغه رابطه څنګه کیږی ؟ت- ایا اوس له فلسفی څخه سترګی پټیږی ؟ ث- د علومو پرمخ تګ څه شی ایجابوی په داسی شرایطو کی د ستر لنین له وینا سره پوهان باید دڅه شی خاوندان وی او څه شی اتفاقی ندی ولی ؟
د دریم سوال ځواب.ا- په هره اندازه چه طبیعی علوم وده کوی دعلومو اوفلسفی ترمنځ متقابل تاثیر او رابطه لا زیاتیږی ب- په اوسنی وخت کی چه علوم ډیر پیچلی وظایف لکه : ۱-د مادی دمتشکله اجزاوو دماهیت موضوع ۲- د ژوند پیدایښت . ۳- دجهانی اجسامو تکامل .٤- اونور ډیر مثایل حل کړیدی دغه رابطه خصوصاً ډیره ژوریږی. ت- دعلمی ستر بریالیتوبونو په پیړۍ کی له فلسفی څخه سترګی نه شی پټیدلی . ث- د علومو پرمختګ دفلسفی او علم نږدی رابطه ایجادوی اوپه داسی شرایطو کی پوهان باید د ستر لنین له خبری سره سم د ماتریالیستی او دیالیکتیکی جهان خاوندان وی .
**اتفاقی نه ده**چه په سرمایداری ملکونو کی ډیر پوهان په پرلپسی په اګاهانه توګه سره دمارکسیستی فلسفی په طرفداریۍ ودریږی څکه دغه فلسفه دوی ته ور زده کوی چه :
ا- په عینی جهان کی خپل ځان سمی خواته ودروی .ب- تل دهغه مادی خصلت ته پام وکړی .ت- او دطبیعت دیالیکتیک دعلمی څیړنی په ټاکلیو شرایطو کی په حساب راولی .
**خاطره :**د علومو اوفلسفی ترمنځ متقابل تاثیر: الف- دعلومو تاثیر پرفلسفه : که چیری علوم له فلسفی څخه جلا وګڼل شی نو دا معنی به ولری چه فلسفه به په ثابت حال باندی پاتی شی او وچوالی به پیدا کړی . ب- دفلسفی تاثیر پرعلومو باندی : کچیری فلسفه له علومو څخه جلا وګڼله شی نو دا معنی به ولری چه علوم به هیڅکله تکامل او وده ونه شی کولای فلهذا :فلسفه او علوم یوله بله نه جلا کیدونکی ارتباط لری او فلسفه په علومو باندی وړاندی والی لری . **نو :**د هغه چا چه فلسفه اوعلوم یو له بله څخه بیل ګڼی یوازینۍ هدف دغه شی دی چه : له دیالیکتیکی او تاریخی ماتریالیسم څخه سترګی پټی کړی **او په دی ترتیب سره :**
استثمار کیدونکی طبقات داستثمارکوونکو طبقاتو په مقابل کی له طبقاتی مبارزی څخه د استثمار په ضد له مبارزی څخه او دعلمی سوسیالیسم او خاص کمونیسم د جوړولو په خاطر له مبارزی څخه وګرزوی .

## د پرولناریا تیوریکه وسله

اول سوال . ۱- دمارکسیسم فلسفه دچا لپاره دانقلابی بدلون درنه وسله ده ؟ ۲- دیالیکتیکی ماتریالیسم په څه وجه او په شی کی دکوم شی په خاطر د پرولتاریا دتیوریکی وسلی په حیث راپیدا شوی دی ؟ ۳- د مارکسیزم فلسفه دخپل ماهیت له لحاظه څنګه ده،په کوم شی باندی عقیده نه لری کوم شی تل ترتله نه بولی،دکوم شی دزوال اودکوم شی دخامخابریالیتوب نتیجه اخلی اودکوم شی د جوړښت وسایل ښئی ؟

داول سوال ځواب. ۱- د مارکسیزم فلسفه طبیعت اوټولنه په واقیعاً علمی توګه تشریح کوی اوله همدی امله د دوی لپاره دانقلابی بدلون درنه وسله ده .
۲- یوازی پرولتاریا اودهغه ګوند دجهان دسمی پیژندنی اودهغه له انقلابی بدلون سره مینه لری همدا وجه ده چه دیالیکتیکی ماتر یالیسم له سرمایداری سره په مبارزه کی اودعلمی سوستالیسم او خاص کمونیزم د جوړولو په خاطر دپرولتاریااوو دتیوریکی وسلی په حیث راپیدا شوی دی او تکامل مومی.
۳- دمارکسیزم فلسفه دخپل ماهیت له لحاظه انقلابی ده : الف: په نه بدلیدونکی او ثابت نظم باندی عقیده نه لری . ۲- دتولید پر وسایلو باندی حصوصی مالکیت تل ترتله نه بولی .پدی ترتیب سره : دسرما یداری دزوال اودسوسیالیستی نوی نظام دخامخابیالیتوب نتیجه اخلی او :
دعلمی سوسیالیسم اوخاص کمونیزم دجوړښت وسایل ښئی .
دوهم : ۱- زموږ په عصر کی دمارکسیسم دفلسفی ذده کول ولی ضروری دی اودچاسره دکوموشیانو په خاطر مرسته کوی ؟۲- اوکچیری مارکسیستی سیاسی ګوند چارو ته دماتریالیسم اودیالیکتیک له موضوع ونه ګوری کاربه کومی خواته لاړ شی ؟ ۳- دکمونیتی اوکارګری ګوندونویوه ضروری وظیفه کومه ده ؟ ٤-ایاپه مارکسیتی فلسفه باندی پوهیدل یوازی داحکاموزده کول اوله هغوڅخه دنتیجواخیستل دی ؟
ځواب: ۱- زموږپه عصرکی داجتماعی ژوروتحولاتو اوله سرمایداری څخه کمونیسم ته داوښتلو په عصر کی دمارکسیسم د فلسفی زده کول ضروری دی **دمارکسیسم زده کول له ګوندسره مرسته کوی خو :**الف – داوسنی وخت دپیچلو اوضاعو په باره کی سم نظر ولری.ب- اوسنی وضعه په علمی توګه ارزیابی کړی. ج – دوضعی په تناسب دترټولو سترو وظیفو ټاکنه وکړای شی .د – اوددغه وظایفو دسرته رسولو له پاره تر ټولو موثری لاری ولټووی .
۲- که چیری مارکسیستی سیاسی ګوند چارو ته دماتریالیزم اودیالیکتیک له موضوع ونه ګوری :
الف – کاربه دیواړخیزه قضاوت پرخوا-  ب- ذهنی ګیری دافکارو دتحجر- ج- له پراتیک څخه و یوی خوته کیدلو – د- دشیانو اوپدیدو دتحلیلولو دناتوانی- ه –د دګماتیستی- ریویژیونیستی انحرافاتو- و- اوپه سیاست کی داشتباهاتو خواته ولاړ شی .
**خاطره :** ددی لپاره چه دزیارایستونکو څخه واقعاً علمی کمونیستان جوړ شی باید : واقعاً انقلابی خصلت-واقعاً انقلابی اګاهی او واقعاً انقلابی تجربه حاصله کړی اودمارکسیسم فلسفه(علمی جهانبینی په واقعی توګه سره له خپلو وینو،حجرو ،عضلاتو، غوښو او هډوکو، رګونو ،سلولونو اوبالاخره له خپلو ټولو مادی اومعنوی وجودونو سره ګډه اوشریکه کړی . ترڅو چه دهمدی دوهم سوال د اول جز دالف-ب- ج- او د- مادی اجرا کړی شی اودهمدی دوهم سوال د۲جز دالف- ب- ج-د-ه- او و مادو خوته لاړ نه شی .
په دی هکله دنړی دپرولتلریااوو رهبر ستر ولادیمیر ایلیچ لنین داسی فرمایلی دی چه :
<<دانقلابی تیوری له لرلو پرته هیڅکله انقلابی عمل صورت نه شی نیولی >> .
۳- دکمونیستی اوکاګری ګوندو یوه ضروری وظیفه داده چه : الف- باید په عملی کار اوفعالیت کی دیا لکتیکی ماتریالیسم په کارواچوی . ب- باید دمارکسیسم لینیسم په روحیه سره ګوندی کارکوونکی او پراخ ولوسونه وروزی.
٤- دمارکسیسم فلسفه دجهان دپیژندلو اوبدلون ستره تیوریکه وسله ده مګر خپل دغه نقش یوازی د مشخصو تاریخی شرایطو اودقیقی محاسبی او له خلاقیت سره د مخامخ کیدو په شرایطو کی لوبولی شی له دی سببه : په مارکسیستی فلسفه پوهیدل یوازی داحکامو زده کول اوله هغه څخه دنتیجو اخیستل ندی بلکی دهغی څرنګوالی، درک اوعمل اودمشخصو وظایفو په سرته رسولو اودهغی پکارولو پوهه ده .
**خاطره :**څرنګه چه دمارکسیسم فلسفه یوه منجمده فلسفه نه ده بلکی خلاقه ده.
خلاقیت(دمارکسیسم په فلسفه کی نوی والی خوداسی نوی والی جه په واقیعت بنا وی نه په خیال ) .
مارکسیستی اوکارکری ګوندونه باید مشخص تاریخی شرایط ژور محاسبه کړی نه یوازی داچه د
مارکسیتی فلسفی احکام زده کړی اوله هغه څخه نتیجه واخلی بلکی دهغی په څرنګوالی درک او عمل او مشخصو وظایفو په سرته رسولو کی مارکسیستی فلسفه پکار واچوی. همدارنګه که چیری د مشخصو تاریخی شرایطو په محاسبه او دمشخصو وظایفو په سرته رسولو کی د مارکسیسم په فلسفه کی خلاقتوب وجود درلود باید داسی خلاقیت وښئی او عمل پری وکړی چه په واقیعت بنا وی نه په خیال

## دوهم فصل
## دمارکسیستی فلسفی پیداینښت او تکامل

اول سوال: ۱- د مارکسیسم فلسفه دچا پواسطه ایجاد شوه ؟
۲- ایا دمارکسیسم فلسفه یوازی دهغی دمنځ ته راوړونکو دنبوغ ثمره ده یا دا چه دعصر مولود او دزمانی نخښه ده ؟ او دپیداینښت علتونه ئی کوم دی ؟
ځواب : ۱- د مارکسیسم فلسفه دکارګرو دطبقی دسترو نامتو لانښوونکو کارل مارکس(۱۸۱۸-۱۸۸۳) او فریدریخ انګلس(۱۸۲۰-۱۸۹۵) پواسطه ایجاد شوه .
۲- د مارکسیسم فلسفه یوازی دهغی دمنځ ته راوړونکو دنبوغ ثمره نده بلکی د عصر مولود اودزمانی نخښه ده اود تاریخ یوه ضروری غوښتنه وه .
دمارکسیزم فلسفه دتاریخی تکامل دقانونمندی-داقتصادی اواجتماعی دټاکلو شرایطو په نتیجه کی پیدا شوی اوپه ټاکلیو فلسفی او علمی افکارو اړه لری .
**خاطره :**مونږ دانشو ویلای چه کچیری مارکس او انګلس دا کار کړی نه وای نو نوموړی فلسفه به هیڅکله بل چا نه وه ایجاد کړی بلکی په ډاګه سره داوایو چه کچیری دوی دا کار نه وای کړی بل چا به هم دغه فلسفه ایجاد کړی وای او همدغه د تاریخ یوه ضروری غوښتنه به ئی ترسره کړی وه .

### دمارکسیستی فلسفی دپیداینښت شرایط او مقدمات

اقتصادی اواجتماعی شرایط
علمی اوتیوریک سر چینی
اقتصادی او اجتماعی شرایط : اول سوال. ۱- په کوم وخت کی سرمایداری دکوم شی ځای ونیو اود سرمایداری ځای پرځای کیدل دڅه شی موجب شو ؟
۲- سرمایداری څنګه طبقه ایجاد کړه اودهغی رسالت څه شی وه – دچا طبقه ده ؟
۳- پرولتاریا ولی له خپلو استثمارګرانو سره په بی رحمانه مبارزه پیل کوی اوپه سرمایداری دوران کی څه شی شدت مومی اودکوم شی په صورت کی دچا پرضد اعکاس پیدا کوی ؟
٤- په لیون – المان او انګلستان کی څه وشول-کارګران څه غواړی اوکوم شیان دپرولتاری حرکت په لاره کی خنډ وو چه پرولتاری حرکت ته ئی دبریالیتوب امکان نه ورکاوه ؟
ځواب : ۱- دنولسمی پیړی په منځنیو وختو کی په یوشمیر هیوادونو کی سرمایداری دفیوډالیزم ځای ونیو د سرمایداری ځای په ځای کیدل:دتولید دلوړیدو اودتکنیک،پوهنی اوفرهنګ دوړی ودی موجب شو .
۲- سرمایداری په عین حال کی داسی طبقه ایجاد کړه چه رسالت ئی دسرمایداری دنظام محوه کول او سوسیالیستی تحولاتو ته تحقق وربښل وو-دغه طبقه دپرولتاریا طبقه ده .
۳- پرولتاریا چه دبورژوازی له خوا استثماریږی او له ټولو انسانی حقوقو څخه بی برخی ده له خپلو استثمارګرانو سره په بی رحمانه مبارزه پیل کوی. طبقاتی تضاد دسرمایداری په دوران کی شدت مومی اوپرولتاریا دیولړ مظاهراتو په صورت دبورژوازی پر ضد انعکاس پیدا کوی .
٤- په لیون کی فرانسوی کارګرو-اوپه المان کی سیلیزی اوبدونکو قیام وکړ- په انګلستان کی دچارتیسم حرکت لمن پیدا کړه.- دژوند دشرایطو بهبود- ب – دمزدزیاتوالی- ج – دکار دورځو لږوالی اونور عواړی **مګر :**الف- دکارګرانو قیام او مبارزه متشکله نه وه اوخپل سری جنبه ئی لرله . **کارګران :**الف
ب- کارګران لا تراوسه له خپلو نهائی هدفونو څخه،هغه هدفونه چه هغو لپاره باید په مبارزه لاس پوری کړل شی کوم څرګند او روښانه تصور نه درلود ج- هغو له خپلو طبقاتی دښمنانو سره دمبارزی موثر اوسم وسایل اولاری نه پیژندلی . دغه ټول د پرولتاری حرکت دپاتی کیدو سبب شول .
**خاطره :**د سرمایداری دځای په ځای کیدلو سره په انګلستان کی دچارت نومی نفر له خوا دچارتیسم حرکت لمن پیدا کړه . له چارتیسم څخه مفهوم داسی وه چه استثمار دماشین له خوا صورت نیسی ترڅوپوری ماشین موجود وی استثماربه حتماً موجود وی. نوباید داستثمار دله منځه وړلو لپاره ماشین له منځه ولاړشی .اوهمدا رنګه څه ښه وائی چه : <<متشکل هر څه دی اوغیر متشکل هیڅ دی >> <<حرکت بی له هدفه بی معنی دی >> .نوکه چیری کارګران ، بزګران اونور زیارایستونکی :

الف- یوله بله سره درست متشکل نه شی – ب- دخپلو طبقاتی دښمنانو په مقابل کی په منظم ډول سره قیامونه اومبارزی سرته ونه رسوی. ج- اوخپل نږدی او نهائی هدفونه درست څرګند او روښانه نه کړی .د- دمبارزی سمی وسیلی اولاری ونه پیژنی-ه-همدارنګه دهدفونو په ټاکنه کی و- اودوظایفو موثر انجام له پاره په واقعی توګه سره اسلوبونه اومتودونه پکار ونه چوی هیڅکله یه: په خپلو طبقاتی دښمنا نو باندی بری او کامیابی ونه مومی .

دوهم سوال : ١- کوم شی ته دڅه شی په خاطر سخت ضرورت احساسیده او په دی ترتیب سره د پرولتاریا تکاملی حرکت پخپله څه کول اوڅه ئی لازم بلل ؟

٢- د بشری پوهنی نابغه نمایندګانو څه وکړل او څه شی اباد شو ؟

د دوهم سوال ځواب : ١- دعلمی تیوری دپیدایښت لپاره سخت ضرورت احساسیده څو : یوه داسی علمی تیوری ضروری ده څه : الف- پرولتاریا ته امکان ورکړی څو دټولنی دتکامل قوانین وپیژنی.ب- دسرما یداری په خامخا زوال پوه شی-ج- اودبورژوازی دګورکیندونکی اود نوی سوسیالیستی نظام د راپیداکوونکو په حیث خپل نقش په رڼا کی ولیدلی شی – په دی ترتیب سره دپرولتاریا تکاملی حرکت پخپله ډیره ستره وظیفه دعلم لپاره راپیدا کوله او دا ئی لازمه وله چه : دانقلابی تیوری اودسوسیالیسم داستقرار په حاطر له سرمایداری سره په مبارزه کی فکری وسیله ایجاد شی .

٢- د بشری پوهنو نابغه نامیندګانو کارل مارکس او انګلس د تاریخ دغه ضروری غوښتنه تر سره کړه مارکسیسم اباد شو چه تشکیلونکی ټوک او تیوریک اساس ئی : مارکسیستی فلسفه ده یعنی : دیالیکتیکی ماتر یالیسم او تاریخی ماتریالیسم دی .

**علمی اوتیوریکی سرچینی :**

اول : ١- د مارکسیستی فلسفی پیدایښت دڅه شی له خوا اماده شوی وه – په نولسمه پیړۍ کی طبیعی علوم څه کوی او کوم افکار د متافزیک ځای نیسی ؟

٢- په میتافزیکی طرز تفکر اوکتنه کی لومړی سوری چا جوړ کړ او نوموړی په خپله فرضیه کی څه شی څرګند کړل او بیا وروسته کوم شی پیدا کیږی هغه شی څه کوی او دهغی شی دپیژندنی په اړخ کی کوم شی منځ ته راځی ؟

٣- د طبعی علومو کومو مهمو اکتشافونو په څه شی کی ستر نقش لوبولی دی ؟

٤- د انرژۍ د بدلون او دبقا قانون کشف د چا دځیړنو نتیچه ده اودا قانون د جهان دمادی یوالی لپاره ولی قانع کوونکی دلیل دی ؟

٥ – دژوندی وجود سلولی جوړښت دچا پواسطه منځته راغی _څه ئی اثبات کړه اودغو پوهانو دڅه شی په اثبات سره کومی خواته لار پرانیستله ؟

٦-انګلیسی ستر پوه ډاروین کوم شی ایجاد کړ اودهغه دایجادولوسره ئی کومو شیانو ته خاتمه ورکړه او کوم تفکر ئی پای ته ورساوه – داروین په علمی توګه څه شی ثابت کړه – څه ئی وښودل او د داروین تیوری کوم فکر تائید کړ ؟

ځواب : ١- د مارکسیستی فلسفی پیدایښت دعلمی اوفرهنګی افکارو دتکامل دټول جریان له خوا اماده شوی وه – په نولسمه پیړۍ کی طبیعی علوم نور یوازی دحقیقتونو په راغونډولو او په اشیاوو کی په ګوښی توګه څیړنه نه کوی بلکی په تیوریکو علومو بدلیږی او کوښښ کوی چه : حقیقتونه توضیع کړی او دهغو ترمنځ ارتباط برقرار کړی اوپدی ترتیب سره : په طبیعی علومو کی د جهان دیوالی او دجهان دتاریخی تکامل دیالیکتیکی افکار د میتا فزیک ځای نیسی .

٢- په متافزیکی طرز تفکر او کتنه کی لومړی سوری المانی پوه اوفیلسوف کانت جوړ کړ نوموړی د اسمان دکورو پیدایښت په باره کی پخپله فرضیه سره څرګنده کړه چی :

ځمکی او دلمر منظومی تل وجود نه درلود او دمادی داوږده تکامل نتیجه ده . لږ وروسته ځمکه پیژندنه پیدا کیږی چه دځمکی دپرلپسی تکامل په تاریخ باندی رڼا اچوی د زمکی پیژندنی په اړخ کی : فزیک، کیمیا بیو لوژی او نور علوم منځته راځی .

٣- دپدیدو او اشیاوو په باره کی : دماتریالیستی او دیالیکتیکی نظریاتو دمنځته راتلو اوبیخ نیولو کی خصوصاً دطبیعی علومو مهمو اکتشا فونو ( الف- دانرژۍ دبدلون اودبقا قانون کشف- ب – دژوندیو موجوداتو د سلولی جوړښت څرګندونه – ج – اود داروین دتکامل تیوری) ستر نقش لوبولی دی .

٤- د انرژۍ د بدلون اوبقاد قانون کشف د روس دستر پوهاند **لومونسوف** ، دالمانی پوهاند **مایر** اود

انګلیسی فزیک پوه **جهل**د څېړنو نتیجه ده دغه قانون دجهان دمادی یووالی له پاره قانع کوونکی دلیل دی چه : ماده او حرکت تل تر تله دی او هیڅکله له منځه نه ځی .
دغه قانون په عین حال کی څرګندوی چه ماده او حرکت د کیفیت په لحاظ متنوع او بد لیدونکی دی او کولای شی چه له یوه صورته بل صورت ته واوړی .
۵- دژوندی موجود سلولی جوړښت چه دروسی وابنه پیژندونکی(ګاریانوف)چکی بیولوژیست(یورکینیه) او المانی پوهاند(شلایدن) او شوان پواسطه منځته راغی دا ئی اثبات کړه چی :
سلول دهر ژوندی اساس دی که څه هم جوړښت ئی ډیر پیچلی دی دغو پوهانو دی چارو په ا ثبات سره چی :سلول کولای شی خپل ____ بدل کړی دژوندیو موجوداتو دتکامل دسم درک خواته لاره پرانیستله .
٦- انګلیسی ستر پوه داروین دتکامل تیوری ایجاد کړه او ددی تیوری په ایجاد سره ئی دغه د تفکر ډول ته چی : ټول وابنه او ځان دار شیان له یوی ټاکلی منبع له پلوه پیدا دی اوټول ځای پرځای بدلون نه منونکی دی خاتمه ورکړه . د تکامل دتیوری دغه تفکر ئی چه دډول ډول وابنو اوځانداروتر منځ هیڅ ډول رابطه وجود نه لری پای ته ورساوه .
داروین په علمی توګه ثابته کړه چی :عالی موجودات چه پیچلی ساختمان لری له ټیټو اوساده موجوداتو څخه راپیدا شوی دی هغه هم نه د چا په اراده بلکه د طبیعی انتخاب دقانون دعمل په اساس هغه قانون چه پخپله طبیعت کی موجود دی.داروین وښودل چی انسان هم د طبیعت محصول اود ژوندی مادی د اوږده تکامل نتیجه ده. د داروین تیوری د دیالیکتیک اساسی فکر یعنی د تکامل مفکوره اوله کښتنیو مدارجو څخه پورتنیو مدارجو او له ساده څخه پیچلی ته ئی دتیریدلو فکر تائید کړ .
**خاطره :**پوهیرو چه دطبعی علومو نوموړی مهم اکتشافونه په طبیعت کی دی خو :
نوموړو اکتشافونو ته په اجتماعی ژوند کی په تطبیق ورکولو سره کارګرانو- بزګرانو – غلامانو اونورو زیار ایستونکو ته په واقعی توګه سره داوریه ګوته کوی چه :
الف- له جهان څخه دباندی بل هیڅ قدرت نشته چه موږ استثماروی بلکه بادران،فیودلان او سرمایدران دی چه موږ استثماروی .
ب- له جهان څخه دباندی بل هیڅ قدرت نه شته چه ټولنه په حرکت راولی بلکه له دښمنانانو سره زموږ سړی او تودی جګړی ټولنه په حرکت راولی او دټولنی دتکامل خواته لاره پرانیزی .
ج- له جهان څخه دباندی بل هیڅ قدرت نه شته چه دټولنی د تکامل سرچینه وګرزی بلکی دټولنی د تکامل سرچینه پخپله د ټولنی داخلی تضادونه دی اود ټولنی تکامل هم په مارپیچی توګه سره له کښتنیو مدارجوڅخه پورتنیو مدارجو ته اوله ساده څخه پیچلی ته دتیریدلو یو بی پایانه جریان دی .
سوال : ۱- د مارکسیستی جهانبینی په پیدایښت کی نور کوم شیان ستر اهمیت لری – مارکس انګلس دڅه لپاره دڅه شی مطالعه وکړه کوم شیان ئی داستفادی وګرزول ؟
۲- دمارکسیسم دفلسفی تیوریکه منبع څه شی وه اوتر ټولو دمځه دکومو افکارو په تکامل کی څنګه لاره ووهله او ایا دوی وار د واره د دیالیکتیکی ماتریالیسم په موضوع ودریدل ؟
۳- هیګل څنګه ایدیالیست وه – په څه عقیده ولاړ وه – په څه شی کی جدی برخه لری – څه شی ئی تدوین کړ – کوم شیان ئی فرمول بندی کړل اوڅه ئی وښودل ؟
٤- د هیګل په فلسفه کی کومه مثبته برخه ده او مارکس او انګلس د هیګل له فلسفی څخه کومه برخه اخیستی ده – دغه برخه ئی دکوم شی له پوستکی څخه راویستله اودڅه شی لپاره ئی کارورڅخه واخیست . ۵- په هغه دوران کی پخپله مارکس او انګلس دسیاسی نظریاتو له پلوه څنګه وو له کوم شی څخه ئی دفاع کوله او په کوم دولت باندی له کلک انتقاد څخه وروسته دوی کومی نتیچی ته ورسیدل؟
٦- دمارکس او انګلس دجهانبینی په پیدایښت کی کوم ماتریالیسم ستر اهمیت درلود – دایدیالیسم او مذهب په رد سره فویرباخ په کومه نظریه وه ؟
ځواب : ۱- د مارکسیستی جهانبینی په پیدایښت کی دطبیعی علومو په اړخ کی دهغی زمانی دفلسفی افکارو موفقیتونه هم ستر اهمیت لری مارکس او انګلس د دیالیکتیکی اوتاریخی ماتریالیسم د ایجاد لپاره دفلسفی دتاریخ ژوره مطالعه وکړه له هغه چه فلسفی دپیریو په اوږدوکی له خپل تکامل څخه لاسته راوستلی وو ترټولو ښه افکار یی داستفادی وړ وګرځول .
۲- د مارکسیزم دفلسفی تیوریکه منبع بی له واسطی دالمان د نولسمی پیړی کلاسیکه(پخوانی) فلسفه ده اوتر ټولو دمخه دهیګل او فیورباخ فلسفه . مارکس او انګلس خپلو فلسفی اوسیاسی افکارو

په تکامل کی له لوړو او ژورو ډکه لار ووهله دوی وار د واره د دیالیکتیکی ماتریالیسم په موضوع ونه دریدل په ځوانی کی هغوی دهیګل دایدیالیستی فلسفی(۱۷۷۰- ۱۸۳۱)خواته جلب شول. چه په هغه وخت کی ئی په المان کی زیات رواج درلود .
۳-هیګل عینی ایدیا لیست وه اوپر دغه اشتبا ه امیزه عقیده ولاړ وه چه جهان د(مطلقی ایدیی) جهانی روح یا په بل عبارت دشعور دخلقت او فعالیت ثمره ده چه په عینی توګه دانسان له وجود څخه دباندی وجود لری له دغی اشتباه امیزی جنبی څخه صرف نظر هیګل دفلسفی افکارو په تکامل کی جدی برخه لری نوموړی دایدیالیستی دیالیکتیک سیستم د قوانینو دمجموعی او دمنطقی مقولو په حیث تدوین کړ. هیګل د افکارو دودی او تکامل په برخه کی د دیالیکتیک اساسی قوانین فرمول بندی کړل ده وښودله چی : الف- د افکارو دودی جریان په تنګ ډګر کی سرته نه رسیږی بلکی په تدریج سره له کښتنیو اشکالو څخه پورتنیو اشکالو ته ځی او ددی چارو په جریان کی له کمی تغیراتو څخه کیفی تغیراتو ته اوو ښتنه صورت مومی . ب- د تکامل سرچینه تضاد دی.
ج- هیګل د دیالکتیکی (مقولو)اساسی مفاهیمو خصوصیات په لاس ورکړل دهغه متقابل روابط اویو پر بل باندی ئی بدلون وښود .
٤- دیالیکتیک دهیګل دفلسفی مثبته برخه ده دابرخه مارکس او انګلس دهیګل له فلسفی څخه اخیستی ده هغو بیا دغه برخه د ایدیالیسم له پوستکی څخه راویستله د دیالیکتیکی او تاریخی ماتریالیسم د ایجاد لپاره ئی کار ورڅخه واخیست .
٥- دسیاسی نظریاتو له پلوه پخپله مارکس او انګلس په هغه دوران کی انقلابی دموکراتان وو چه دېولو زیارایستونکو له ګټوڅخه ئی دفاع کوله- د پروس پر فیودالی دولت باندی له سخت انتقاد څخه وروسته دوی دی نتیجی ته ورسیدل چه : یوازی دخلکو حکومت کولای شی چی دزیارایستونکو داکثریت د ګټو نامینده شی .
٦- د فیورباخ (۱۸۱٤- ۱۸۸۲) ماتریالیسم دمارکس او انګلس دجهانبینۍ په پیدایښت کی ستر تاثیر درلود فیورباخ دخپلی زمانی نامتو ماتریالیست وه – دایدیالیسم او مذهب په ردسره فیورباخ پدی نظریه وه چه فلسفه نه ښائی د افکارو په سیمه کی محدوده پاتی شی دفلسفی افکار دطبیعت او انسان مطالعه ده. طبیعت دانسان دوجود څخه دباندی وجود لری او همدغه طبیعت(لومړنی- وراندېنی اوغیر مشتق وجود) دی انسان هم د طبیعت یوه برخه اودهغه د اوږده تکامل محصول دی . دفیورباخ په عقیده شعور پر طبیعت مقدم نه دی بلکی طبیعت منعکسوی اوپه هغه باندی معرفت پیداکوی ماده او طبیعت پیژندل کیدونکی دی انسان کولای شی چه په هغه مسلط شی اوهغه دخپلو خواسو اوغړیو له لاری احساس او درک کړی .
**خاطره :**د پروس پر فیودالی دولت باندی له کلک انتقاد څخه وروسته مارکس او انګلس له دی وینا څخه چه <<یوازی دخلکو حکومت کولای شی چه دزیارایستونکو داکثریت دګټو نماینده شی>>داسی څرګند یږی چه :دخلکو له خکومتونو څخه پرته دنورو طبقاتو حکومتونه هیڅکله نه شی کولای چه : دزیارایستو نکو اکثریت ته په واقعی توګه سره خدمت وکړی ولو که په الفاظو کی هر څومره مترقی شی اوکه چیری ئی کوم وخت خلکو ته ګټه ورسوله نوهغه به هم د دوی دمغزو له کومیو نه وی بلکی دخلکو ارادی او دخلکو قوتونو به هغو ګټو ته مجبور کړی وی .
دریم سوال : ۱- کوم افکار دمارکس اوانګلس له خوا دهیګل دایدیالیسم په مقابل کی ددیالیکتیکی او تاریخی ماتریالیسم دایجادولو لپاره داستفادی وړ وګرزیدل .
۲- مارکس او انګلس ولی دفیورباخ په فلسفه باندی قانع نه شول- دوی په کومه عقیده وو او کومو شیانو مارکس او انګلس دایدیالیسم په بی اساسۍ معتقد کړل او دکارګروطبقو په موضوع کی ئی د دوی دریدلو لپاره څه شی برابر کړل ؟
۳- په فلسفی لحاظ کوم شی دیوی نوی فلسفی دایجاد معنی درلوده اودغه نوی فلسفه څه شی وه ؟
٤- مارکس او انګلس دخپلی فلسفی په ایجادولوکی له کومو شیانو څخه ګټه واخیستله – او کوموشیانو ته ئی د انتقاد په نظر وکتل اوکومی برخی ئی ځینی واخیستی-هغه ئی له څه شی څخه خلاصی کړی او په څه شی ئی شتمنی کړی ؟
٥-مارکس او انګلس دکوم شی په ایجادولو سره په فلسفه کی حیرانونکی انقلاب او ژورتحول راځرګند کړ ددریم سوال ځواب :

۱- د فیورباخ دفلسفی ماتریالیستی افکارو له مارکس اوانګلس سره مرسته وکړه څو دهیګل ایدیالیسم لری وغورزوی دغه افکار دمارکس اوانګلس له خوا ددیالیکتیکی او تاریخی ماتریالیسم دایجادولو لپاره د استفادی وړ وګرزیدل .
۲- د مارکسیسم بنسټ ایښودونکو دفیورباخ له فلسفی څخه استفاده وکړه مګر :له دی چی نوموړی فلسفی له ژوند اودخلکو دازدی ښونکی مبارزی سره ارتباط نه درلود په هغی قانع نه شول.
مارکس او انګلس کلکه عقیده درلوده چه : فلسفی او اجتماعی چاری دکار دکوټی په چوپتیا او کراری کی نه حل کیږی بلکه دهغه حل باید په پراکتیک،سیاسی او انقلابی مبارزو کی ولټول شی
دزیارایستونکو پر اړخ په سیاسی او اجتماعی مبارزاتو کی ګډون دطبیعی علومو – فلسفی او تاریخی ژورو مطالعو مارکس او انګلس دایدیالیسم پر بی اساسی معتقد کړل اوددی لپاره چه دغه دوه پوهان دکارګرو دطبقی په موضوع کی ودریږی لازم شرایط برابر کړل .
۳- په فلسفی لحاظ دکرګرو دطبقی په دریځ کی دریدل دیوی نوی فلسفی دایجاد معنی درلوده چه د پخوانیو فلسفی سیستمونو سره ئی کیفی توپیر درلود دغه نوی فلسفه دیالیکتیکی او تاریخی ماتریا لیسم وو .٤- مارکس اوانګلس دخپلی فلسفی په ایجادولو کی : الف – دهیګل له دیالیکتیک او دفیور باخ له ماتریالیسم څخه ګټه واخیستله . ب- خو دغو دواړو ته ئی په انتقادی نظر وکتل .ج- ددواړو مثبتی او سمی برخی ئی واخیستی .د- هغه ئی له راز راز غیر علمی نظریاتو څخه خلاصی کړی .ه- دهیګل دیالیکتیک او دفیورباخ ماتریلیسم ته ئی یو له بله سره ارتباط ورکړ دیالیکتیکی ماتریالیسم ئی ځنی جوړ کړ . و- دغه دواړه برخی ئی دکارګرو دطبقی دستری او په نویو علمی بریالیتوبونو شتمنی کړی .
۵- مارکس او انګلس د دیالیکتیکی ماتریالیسم او تاریخی ماتریالیسم په ایجاد سره په فلسفه کی حیرانو ونکی انقلاب او ژور تحول راځرګند کړ .
**خاطره :** کارل مارکس داسی فرمایلی دی چه <<نه طبیعت زمونږ خلقت دی او نه ټولنه او نه مو په طبیعت او ټولنه باندی کوم شی ور اضافه کړی دی مونږ طبیعت او ټولنه لکه چرنګه چه دی همغس وښودل >> . فلهذا ددی څخه داسی څرګندیری چه : دیالیکتیکی او تاریخی ماتریالیسم په طبیعت او ټولنه کی موجود دی دوی لکه څرنګه چه په طبیعت او ټولنه کی موجود دی هماغسی ښودلی دی .

## دهغه اانقلاب ماهیت څه دی کوم چه مارکسیسم په فلسفه کی منځته راوست؟

وګورو مارکس او انګلس کوم نوی شیان په فلسفه کی منځته راوړی دی ؟ او دمارکسیسم فلسفه له پخوانیو فلسفی سیستمونو سره کوم کیفی توپیر لری دمارکسیسم د فلسفی اصولی نوی والی په څه کی دی ؟ اول سوال :
ا- د مارکسیسم فلسفه دهر څه وړومبی له کومه حیثه له پخوانیو فلسفی سیستمونو څخه ګوښی والی لری،تر مارکسیسم دمخه فلاسفه څنګه وو ؟ د تاریخ واقیعی جوړونکی څوک دی او مارکسیستی فلسفه څنګه بل ډول ده ؟
۲- اياد مارکسیم دفلسفی ایجادوونکی (مارک انګلس)یوازی دنوی فلسفی راپیدا کوونکی وو ؟ مارکس او انګلس څنګه فلسفه ایجاد کړه او مارکس د دیالیکتیکی ماتریالیسم دغه ډیر مهم خصوصیت څنګه بیانوی
داول سوال ځواب : ۱- تر هر څه وړومبی دمارکسیسم فلسفه د خپل دطبقاتی ماهیت اوپه اجتماعی ژوند کی دخپل نقش له حیثه له پخوانیو فلسفی سیستمونو څخه ګوښی والی لری. ترمارکس دمخه فلاسفه د یوڅو کسو په استثنا ټول داستثمارګرو په خدمت کی وو له همدی عمله یی دچهان بدلون د زیار ایستونکی انسان په ګټه خپل هدف نه ګرزاوه .په ټولنه کی د تاریخ واقعی جوړوونکی ډلی د تر ټولو مخکی تلونکی طبقی یعنی پرولتاریا اودخلکو په ملیونونو ډلی دی .
مارکسیستی فلسفه بل ډول ده دغه فلسفه داستثمار کوونکو په خدمت کی نه ده بلکی په ټولنه کی دتاریخ دواقعی جوړونکو ډلو ګټی منعکسوی .
۲- ددی فلسفی ایجادونکی یعنی مارکس او انګلس یوازی :
الف – دنوی فلسفی راپیدا کوونکی نه وو بلکه : ب- دپرولتاریا د پرمخ تلونکی انقلابی حرکت لارښوونکی وو. ج- او هم دوی وو چه د زیار ایستونکو د ازادی لاره ئی د سوسیالیستی انقلاب او دپرولتاریا ددکتاتوری

پواسطه وښودله . د- دوی خپل ټول نبوغ **خلاقه انرژی او تشکیلاتی استعداد** له استثمار څخه د زیار ایستونکو د خلاصون او دسوسیالیسم داستقرار لپاره په کار اچول .
مارکس او انګلس دپرولتاریا په دریځ کی په دریدلو سره داسی فلسفه ایجاد کړه چه له سرمایداری سره په مبارزه کی د کارګرو د طقی معنوی وسله او واقیعت – دبدلون قوتناکه وسیله ده .
د ټولنی په تکامل کی دفلسفی نقش په ستر مقیاس زیاتوالی موندلی او فلسفه دخلکو په ډلو کی په نفوذ کولو سره په  ستر مادی قدرت بدله شویده . مارکس د دیالیکتیکی او تاریخی ماتریالیسم دغه ډیر مهم خصوصیت داسی بیانوی <<فیلسوفانو په مختلفو ډولونو یوازی دجهان په توضیح کولو زور اچاوه حال داچه موضوع دهغی پر تغیر ده >> .
<u>خاطره</u> : دابايد ووایو چه : ۱- د پرولتاریا طبقه بی له خپل انقلابی ګونده او پرولتاری انقلابی ګوند بی له خپلو انقلابی لارښوونکو څخه هیڅکله انقلابی حرکت نه شی کولای .
۲- د سوسیالیستی انقلاب بریالیتوب د پرولتاریا د دیکتاتوری له قیمولو څخه پرته هیڅکله امکان نه لری هر هغه څوک چه وائی : سوسیالیستی انقلاب له پرولتاریا د دکتاتوری څخه پرته صورت موندلی شی یا پخپله بورژوایان او یا دتوری،فاسدی او ارتجاعی بورژوازی ټولنی نمایندګان دی که علنی وی او یاکه هر څومره خپل ځانونه دعلمی کمونیستانو په کالیو کی پټ کاندی.
۳- د هری پرولتاریا طبقی خپل ټول واقعی انقلابی لارښوونکی باید په واقعی توګه سره خپل ټول نبوغ خلاقه انرژی او تشکیلاتی استعداد له استثمار څخه د زیار ایستونکو د خلاصون او دعلمی سوسیالیسم او علمی خاص کمونیسم  داستقرار له پاره پکار واچوی .
٤- هر پرولتاری واقعی انقلابی ګوند باید په نظر او عمل کی د ستر لنین له دی وینا سره سم چه : <<چیرته چه خلک وی هلته باید کمونیستان وی>> دخلکو ډلو ته داخل شی او مارکسیتی فلسفی ته د خلکو په ډلو کی په واقعی توګه سره نفوذ ورکړی .
۲: ۱- د مارکسیسم په فلسفه کی انقلابی تحول کوم مهم خصوصیت ایجاد کړ ؟
۲- د فلسفی تاریخ څه شی ښئی- دپخوانی فلسفی عیب کوم وه ؟ او دمارکسیسم فلسفه له پخوانیو فلسفی سیستمونو څخه کوم کیفی توپیر لری ؟
۳- د مارکسیسم پیدایښت دټولنی په باب په نظریاتو کی څه شی راپیدا کړی دی- تر مارکس پخوا فیلسوفانو  دټولنی تکامل څنګه درک کاوه ؟
٤- مارکس او انګلس د ایدیالیستی نظریاتو پر ځای دڅه شی بنسټ کیښود او په پوره قاطعیت سره ئی څنګه ثابته کړه ؟
د دوهم سوال ځواب : ۱- د مارکسیسم په فلسفه کی انقلابی تحول یو داسی مهم خصوصیت ایجاد کړ چه : ماتریالیسم اود دیالیکتیک ارګانیک یووالی دی .
۲- د فلسفی تاریخ ښئی چه هم ماتریالیسم او هم دیالیکتیک د مارکسیسم له پیدایښت څخه ډیره موده دمخه پیدا شوی دی سره له دی چه دپخوانی فلسفی عیب داوه چه :ماتریالیسم او دیالیتیک تقریباً یوله بله جلا او ګوښی مطالعه کیدل . هیګل د دیالیکتیک  داسلوب طرفدار وه مګر: ماتریالیست نه وه . فیورباخ ماتریالیست وه خو د دیالیکتیک له اسلوب سره ئی سروکار نه درلود یوازی مارکس او انګلس دماتریالیسم او دیالیکتیک تر منځ بیلتون له منځه لری کړ اوپه ماتریالیستی دیالیکتیکی جهانبینی کی ئی دهغوی دواړو یووالی تأمین کړ.دغه دماتریالیستی فلسفی یو ستر خصوصیت دی چه :نوموړی فلسفه په کیفی لحاظ له پخوانیو فلسفی سیستمونو څخه ګوښی کوی .
**خاطره :** هر هغه څوک چه دیالیکتیک او ماتریالیسم یوله له څخه جدا بولی طبیعت او ټولنه لکه څرنګه چه ده هماغسی نه ښئی .
۳- د مارکسیزم پیدایښت د ټولنی په باب په نظریاتو کی هم ترټولو ستر تحول راپیدا کړیدی . تر مارکس پخوا فیلسوفانو د ټولنی تکامل په ایدیالیستی توګه درک کاوه او ددی تکامل محرک قدرتونه ئی دخلکو افکار اودهغوی شعور باله .
٤- مارکس او انګلس د ایدیالیستی نظریاتو پر ځای دتاریخ دماتر یالیستی درک بنسټ کیښود او لومړی وار ئی دفلسفی اساسی چاره یعنی دمادی ژوند رابطه له شعور سره دټولنی په برخه کی سمه حل کړه هغوی په پوره قاطعیت سره ثابته کړه چی :
الف – د خلکو اجتماعی شعور دهغوی دمادی ژوند ټاکونکی نه دی بلکه :اجتماعی مادی ژوند او دتر ټولو

د مادی نعماتو تولید د اجتماعی شور ټاکونکی دی . ب- دټولنی تکامل په مادی عللو پوری مربوط دی نه په افکارو پوری . ج- دخلکو غوښتنی او مقاصد اودټولنی تاریخ د ګډوډو بی نظمه اوبی ارتباطه پیښو او پدیدو کوټه(انبار) نده بلکی یوجریان دی چه په هغه کی دعالی تولید طرزونه له ټاکلیو قوانینو سره مطابق او په ناچاره توګه د ټیټ تولید د طرزونو پر ځای کښینی . د- دغه کېناسته اتفاقی اوناځاپی کارندی بلکی له هغوټاکلیو قوانینو سره سم دی کوم چه دانسان له ارادی اوشعور څخه ګوښی او مستقل صورت مومی .

**خاطره :** کچیری انسان وغواړی چه یو څو متره تکه دیوه ماشین پواسطه تولید کړی نه شی کولای چه دخپل شعور پواسطه بی له دی چه دنومړوی ماشین په کار اچولو کی دهم هغه قانونمندی په نظرکی ونیسی تکه تولید کړی انسانی شعور فقط دومره کولاشی چه نومړوی قانونمندی په ښه توګه سره وپیژنی کوم وخت چه انسان د نومړوی ماشین مربوطه قانونمندی وپیژنی او عمل پری وکړی تکه تولید ولای شی . اودهمدی پیژندنی له رویه د دوهم ځل لپاره د نورو پدیدو مربوطی قانونمندی په ښه توګه سره پیژندلی شی. هر څومره چه تولیدی وسایل وده او تکامل کوی په همغه اندازه انسانی شعور هم وده او تکامل کوی. **د تولیدی وسایلو** وده او تکامل هم یو تصادفی کارندی بلکی له هغو ټاکلیو قوانینو سره سم دی چه دانسان له ارادی او شعور څخه ګوښی او مستقل صورت مومی .**ټولنه هم** هیڅکله نه شی کولای چه بی له هغو مربوطو او ټاکلیو قوانینو څخه چه دهغو پواسطه تکامل صورت نیسی او دانسان دشعور او ارادی څخه دباندی واقع دی تکامل وکړی . **څرنګه:**کله چی دټیټ تولید دطرزونو پر ځای د عالی تولید طرزونه کښېنی د ټولنی تکامل طورت نیسی دا هم باید ووایو چه دعالی تولید طرزونه هم بی له هغو ټاکلیو قوانینو څخه چه د انسان له شعور څخه دباندی مستقل وجود لری هیڅکله او هیڅکله دټیټ تولید د طرزونو پرځای نه شی کیناستلی . **که چیری** دټیټ تولید دطرزونو دله منځه وړلو او دهغه پر ځای د عالی تولید دطرزونو دمنځ ته راوستلو په خاطر په اګاهانه او منطمه توګه سره دعالی تولید د طرزونو له ټاکلیو قوانینو سره سم چه د انسان د شعور څخه دباندی واقع دی اقتصادی پلانونه او نقشی جوړی نه شی هیڅکله او هیڅګله نه شی کیدلای چه د ټیټ تولید دطرزونو پر ځای دعالی تولید طرزونه کښېنی .

## د مارکسیستی فلسفی دریځ

اول سوال : ۱-بورژوازی فلاسفه تل څنګه ادعا کوی او بیا داجتماعی ټکرونو په وخت کی څه کوی ؟
۲- په حقیقت کی دبورژوازی فلاسفاوو کومه ادعا څه شی ارزښت نه لری – د څه لپاره دکوم شی نقاب د دوی لپاره لازم دی او کومه مسئله د ټولو له نظره څخه پټوی ؟
۳- د مارکسیسم – لنینیسم بنسټ ایښودونکو دچا پرعکس کوم شی په ښکاره اعلام کړ- دغه اصل دچاله ګټو سره کوم شی بیانوی – په کومه وجه فلسفه دکوم شی منعکسوونکی او دڅه شی مدافع ده – دفلسفی دریځ کوم شی معنی ورکوی ؟
٤- مارکسیستی فلسفه له څه شی سره دڅه شی په حیث راپیدا شویده او دهغی دریځ په کوم شی کی څرګندیږی او په دی هکله ستر لنین څنګه ښوونه کوی ؟
د اول سوال ځواب: ۱- بورژواړی فلاسفه تل دا ادعا کوی چه د دوی فلسفه(ګوندی جنبه نه لری) بلکه: بی له طبقاتی اړیکو دټولو خلکو ګټی منعکسوی . مګر : داڅنګه توضیع کولای شو چه همدغه فلاسفه داجتماعی ټکرونو په وخت کی تل دسرمایداری خواته دریږی: الف – له خصوصی مالکیت څخه دفاع کوی ب- استثمار او جګړه پر ځای بولی .
۲- په حقیقت کی د بورژوازی فلاسفاوو دغه ادعا چه ګواکی دوی له ګوندونو او طبقاتو څخه لوړ دی یوه پیسه ارزښت نه لری **او د دریځ نه نیولو نقاب**د دوی لپاره لازم دی ځو : د خپلی فلسفی طبقاتی او ګوندی خصلت تر لاندی پټ کړی او دا مسئله د ټولو له نظره پټه کړی چه د دوی فلسفه د زور دخاوندانو په خدمت کی ده.
۳- د مارکسیسم – لنینیسم بنسټ ایښو دونکو دبورژواړی ایدیولوګانو پر عکس په فلسفه کی دیوه ټاکلی دریځ نیول په ښکاره اعلان کړ دغه اصل له سیاست او ټاکلیو طبقاتو او ګوندونو له ګټو سره د فلسفی نه پرېکیدونکی ارتباط بیانوی. فلسفه دمشخص عصر او د ټاکلی طبقی مولود ده او په همدی وجه :تل د دغه عصر د غوښتنو منعکسونکی او د دغی طبقی دګټو مدافع ده .

**دفلسفی دریځ** دټاکلیو اجتماعی قدرتونو په خدمت کی د ځای نیولو په معنی هم دی .
٤- مارکسیستی فلسفه له بورژوازی سره په مبارزه کی دکرگرو دطبقی دمعنوی وسلی په حیث راپیدا شوه او دهغی دریځ تر هر څه پخوا د کارگرو او زیار ایستونکو طبقی ته خدمت او له ارتجاعی بورژوازی سره په نه پخلا کیدلو کی څرگندیزی . ستر ولادمیر ایلیچ لنین داسی ښوونه کوی چی: << دفلسفی دیوه ټاکلی ځای نیولو اصل(دخپلی تگلاری دادامی او د دښمنو طبقاتو او قدرتونو له تگلاری سره دهر اړخیزی مبارزی مقتضی ده>> .
**خاطره :**بورژوازی فلاسفه د دی لپاره دفلسفی د دریځ نیولو څخه انکار کوی چه خپله دغه ادعا چه د دوی فلسفه گوندی او طبقاتی جنبه نه لری او دټولو خلکو په خدمت کی ده د دریځ نه نیولو تر نقاب لاندی پټه کړی چه دا ادعا یوازی نظر دی او په واقیعت کی دخلکو غولول او خلکو ته بازی ورکول دی .
د مارکسیسم _ لنینیسم بنسټ ایښودونکو داسی فرمائی چه : هر عصر او هره طبقه ځانته فلسفه لری چه دخپلی طبقی له گټو څخه دفاع کوی . دغه یو عینی واقعیت دی .
د مارکسیستی فلسفی دریځ دکارگرو او نورو زیارایستونکی طبقی په خدمت له ارتجاعی بورژوازی سره په نه پخلاکیدلو کی څرگندیری نو: خلک پدی باندی باید ښه وپوهیری چه :هر هغه څوک چه استثمارگر او استٍثمارکیدونکی یو له بله سره پخلا کیدونکی بولی پخپله بورژوایان او یا د بورژوازی نمایندگان دی <u>ځکه چه</u> :د استثمار کیدونکو او استثمارکونکو طبقاتو په منځ کی یو سور خط کش شویدی چه تر خط پورته استثمار کوونکی طبقی او ترخط لاندی استثمارکیدونکی طبقی دی او دغه هیڅکله یوله بله سره نه پخلاکیری . ستر لنین داسی فرمایلی دی چه : <<دفلسفی دیوه ټاکلی ځای دنیولو اصل داسی تقاضا کوی چه : (باید خپلی تگلاری ته ادامه ورکړله شی اود دښمنو طبقاتو او قدرتونو له تگلاری سرره هر اړخیزه مبارزه وشی >> .
دویمْ سوال: ١- کومه مبارزه په اوسنی وخت کی نه یوازی قطع شوی نه ده بلکی په څو څو وارو سخته شویده اوددی مبارزی انعکاس په کوم وخت کی څرگندیری او دمارکس او لنین دفلسفی په قرار باید په دی مبارزه کی څه وکړو ؟
٢- معاصر ریویژیونیستان څه شی معکسوی اوځنگه ادعا لری او ولی بورژوازی په حقیقت کی دټولنی د تکامل قوانین تحریفوی – په کومه وجه پرولتاریا دپوهی طرفدار دی ولی ؟
٣- په کومه وجه سره له عینی واقعیت سره دپرولتاریا له گټو څخه پرلپسی دفاع دمارکسیستی لنینیستی فلسفی دموضوع نیولو له ډیرو سترو حصوصیاتو څخه یو خصوصیت دی ؟
د دوهم سوال ځواب: ١- په فلسفه کی دریځ غوره کول دماتریالیسم او ایدیالیسم تر منځ په مبارزه کی دټاکلی ځای دنیولو څخه عبارت دی کومی مبارزی چه دفلسفی افکارو په تاریخ له څه زیات دووزرو کالو راهیسی وجود درلود اوس هم جریان لری دغه مبارزه په اوسنی وخت کی نه یوازی قطع شوی نده بلکی په څو څو واره سخته شویده د دغه مبارزی انعکاس د ارتجاعی بورژوازی له ایدیالیستی فلسفی سره د دیالیکتیکی ماتر یالیسم دټکر په وخت کی څرگندیری .
**دمارکس او لنین دفلسفی په قرار پدی مبارزه کی باید :**
الف- ماتریالیستی موضوع ټینگه ونیسو او هغه په هیڅ توگه خوشی نه کړو .
ب- له دیالیکتیکی ماتریالیسم او تاریخ ماتریالیسم څخه دفاع وکړواو هغو ته هر اړخیزه وده ورکړو .
ج- د مارکسیستی ضد ایدیالوژی‌او دایدیالیسم د هرډول تظاهر په مقابل کی په نه ستومانه کیدونکی توگه سره مبارزی ته ملا وتړو .
<u>په اوسنیو شرایطو کی</u> :چی :بورژوازی د ډول ډول ایدیالیسمونو په مرسته دمارکسیستی فلسفی پر ضد په مبارزه لاس پوری کړی دی دغه چاره خاص اهمیت پیدا کوی چه : الف- په فلسفه کی دریځ نیول ب- په اصولو پابندی او هوښیاری تربل هروخت زیات ضروری بریښی .
معاصر ریویژیونستان دبورژوازی ایدیولوگانو په پیروی په فلسفه کی دمارکسیستی- لنینیستی د دریځ اصلی ماهیت معکسوی او ادعا لری چه:دریځ- علمیت او عینیت یوځای کیدای نه شی اوپه عین حال کی بورژوازی ایدیالوژی تر طبقاتو لوړه او بوازینی علمی ایدیالوژی بولی .
په حقیقت کی بورژوازی تل دټولنی دتکامل قوانین تخریفوی دا ددی لپاره چه سرمایداری چه تاریخ محکومه کړیده تل ترتله ژوندی وساتی.
پرولتاریا جهان ته بدلون ورکوی او دداسی یوه بدلون لپاره دجهان دتکامل دقوانینو پیژندنه ضروری ده په

په همدی وجه پرولتاریا دپوهی طرفدار دی ځکه چی یوازی دعلمی چهانبینی پواسطه کیدای شی چه دانقلابی عمل سمه لاربښوونه وشی .
۳- دکمونیسم بریالیتوب د پرولتاریا وروستی هدف دی او دکمونیسم پر لوری حرکت دمعاصری جامعی د تکامل عینی مضمون دی .بنا پر دی : دتاریخ عینی جریان او دپرولتاریاوو طبقاتی ګټی یو له بله سره پوره مطابقت لری چه په همدی وجه : له عینی واقبعت سره دپرولتاریا دګټو څخه دفاع دمارکسیستی فلسفی دموضوع نیولو له ډیرو سترو خصو صیاتو څخه یو خصوصیت دی .
**خاطره :**څرنګه چه دکمونیزم بریالیتوب دپرولتاریا وروستی هدف اودکمونیزم په لوری حرکت دمعاصری جامعی دتکامل عینی مضمون دی نوپدی اساس : دپرولتاریا طبقه او دهغی انقلابی پرولتاری ګوند په دی پوهیری چه :زمونږ طبقاتی مبارزه له استثمارګرانو سره حتماً او حتماً زاړه ،فرتوته اوفاسده بورژوازی ټولنه سرنګونوی اودهغی پر ځای نوی کمونیستی ټولنه کښینوی نه بل ډول ټولنه . چه دا ډول کېناستل د ټولنی له تکامل څخه عبارت دی نو :دپرولتاریا نهائی هدف په واقعی توګه څرګند او روښان دی له دی امله خپلی طبقاتی مبارزی ته دوام ورکوی که دټولنی تکامل صورت نه نیولی اویا ددوی طبقاتی ګټی دتاریخ له جریان سره مطابقت نه درلودلی نو دوی به هیڅکله طبقاتی مبارزه کړی نه وه نو : بورژوایان او د دوی پټ اوڅرګند نمایندګان هیڅکله او هیڅکله نه شی کولای چه : په مستقیمو او غیرمستقمو پټو او څرګندو :چلونو،نیرنګونو،فریبونو،سړو اوګرمو جګړو سره توره،زړه،فاسده او له کاره لویدلی بورژوازی ټولنه تل تر تله ژوندۍ وساتی .همدارنګه کچیری دتاریخ عینی جریان اودپرولتارریا طبقاتی ګټی یوله بله سره مطابقت نه درلودلی هیڅکله به مارکسیستی لنینیستی فلسفی دخپلی موضع په نیولو سره له عینی واقیعت سره دپرولتاریاوو له ګټو څخه دفاع کړی نه وای .

## دمارکسیستی- لنینیستی فلسفی خلاقیت

اول سوال:
۱- دمارکسیسم فلسفه څنګه پوهه ده ؟ ۲- کوم شیان دمارکسیسم دفلشفی شتمنی زیاتوی ؟
۳- مارکسیستی فلسفه په کومو شرایطو کی راپیدا شویده ؟
ځواب : ۱- دمارکسیسم فلسفه دنه بدلیدونکو او منجمدو اصولو مجموعه نده چه انسان هغه د خپلو معتقداتو په لړ کی راولېدمارکسیم فلسفه خلاقه او وده موندونکی پوهه ده پرځای نه دریږی اود ژوند سره چه تل دبدلون په حال کی دی پر مخ ځی .
۲- دطبیعی علومو نوی بریالیتوبونه او اجتماعی پراکتیک هره ورځ دهغی شتمنۍ زیاتوی .
۳- مارکسیستی فلسفه د سرمایداری په تکامل موندونکو او لوړیدونکو شرایطو کی راپیدا شوه په داسی موقع کی چه اجتماعی تکامل نسبتاً سوکه او په قراری جریان درلود .
**خاطره : خلاقیت پدی معنی دی** چه دمارکسیسم په فلسفه کی د داسی نویو اصولو منځ ته راتلل دی چه واقیعت ولری لکه :په شوروی اتحاد کی علمی سوسیالیسم دپرولتاریا د دیکتاتورۍ دشوراګانو د شکل له لاری. په چکو سلواکیا او څو نورو هیوادونو کی د خلقی دیموکراسۍ له لاری او په کوبا کی دکوبائی دیموکراسۍ له لاری منځ ته راغلی چه دا منځ ته راتګ په واقیعت ولاړ ؤ .
**نه داسی خلاقیت :** لکه : چی ښی او کیڼ ریویژیونیزم ئی په مارکسیسم کی ښئی چه دا ډول خلاقیت په واقیعت کی خلاقیت ندی بلکه : د خلاقیت تر چېغو لاندی ښی او کیڼی خوا ته منحرفتوب دی همدارنګه هرځومره : طبیعی علوم نویو بریالیتوبونو ته رسیږی او یا دکمونیسم استقرار د پرولتایا دیکتاتوری له نورو شکلو څخه صورت مومی اویا په نور مارکسیستی اصولو کی واقعی نوی والی راځی په همغه اندازه سره مارکسیستی فلسفه پراخوالی مومی .
نو : د پرولتاریاوو د طبقو او نورو زیاایستونکو خپل واقعی انقلابی کمونیستی او کارګری ګوندونه او خپل واقعی انقلابی لاربښوونکی باید خورا زیات واقعبین وی او د مارکسیسم په فلسفه کی باید : په واقیعی توګه سره خلاقیت وشیاو هماغسی عمل پری وکړی نه په خیالی توګه سره .
دویم سوال : ۱- د نولسمی پیړۍ په پای او دشلمی پیړۍ په شروع کېدو کی څه وشول ؟
۲- لنینیسم چه شی دی ؟
۳- د فلسفی په برخه کی د ستر لنین کا څنګه دی ؟

**د دویم سوال ځواب :**
**۱-** د نولسمی پیړۍ په پای او دشلمی پیړۍ په شروع کی تاریخی شرایطو له ریښی بدلون وموند :
الف- سرمایداری خپلی وروستۍ مرحلی یعنی امپریالیسم ته ورسیده .
ب- اقتصادی او سیاسی تضادونو بی ساری شدت پیدا کړ .
ج- د نسبتاً کرار تکامل دوران خپل ځای داجتماعی طوفانونو او انقلابی تحولاتو دوران ته پرېښود .
د- د اجتماعی مناسباتو دژوری ټپزۍ دوران په طبیعی علومو کی له ستر انقلاب سره په یو وخت کی پیښ شو . ه_ د الکترون او رادیو اکتیو د خاصیت کشف او په علومو کی نوری ستری کامیابۍ ددی موجب شوی چه دمادی اود هغی دخواصو زاړه میتافزیکی مفاهیم رانسکور شی .
و- بیخی طبیعی ده چه نویو شرایطو ایجابوله چه مارکسیستی فلسفه په خلاقه توګه تکامل ومومی لازمه ده چه د پرولتاریا دانقلابی مبارزی تازه تجربی او دطبیعی علومو ډېری نوی کامیابی تعمیم (استحکام)پیدا کړی . دی کار له دی عمله هم زیات اهمیت پیدا کاوه چه په نویو شرایطو کی ټول هغه قوتونه چه له مارکسیسم سره ئی دښمنی درلوده په چوش او غورزنګ راغلل او دکارګری طبقی د علمی جهانبینی په تیوریکی پاتی یعنی دیالیکتیکی او تاریخی ماتریالیسم پرضد ئی خپلی حملی سختی کړی . ز- د نولسمی پیړۍ په پای کی **کارګری بین المللی مرکز** روسئی ته انتقال وموند چه هلته سوسیالیسم د تکوین په حال کی ؤ .
ی- وروسته بیا روسیه د لنینیسم هیواد وګرځیده .
۲- لنینیسم دنوی تاریخی دوران مارکسیسم دی یعنی :
الف – د امپریالیسم او پرولتاری انقلابونو دوران.ب- له سرمایداری څخه سوسیالیستی ته داوښتلو دوران
ج- اود کمونیستی ټولنی دجوړیدلو دوران .
له دی امله عجیبه نده که د مارکسیستی فلسفی خلاق تکامل په نه شلیدونکی توګه دروسی دپرولتاریا یا دستر لارښونکی ولادمیر ایلیچ لنین ( ۱۸۷۰- ۱۹۲٤) له نامه سره بشپړ تړون ولری .
۳- د فلسفی په برخه کی د ستر لنین کار دومره ستر اومتنوع دی چه د فلسفی افکارو په تاریخ کی پخپله یو بشپړ دوران او جلا مرحله ګڼله کیږی .

## دفلسفی په تکامل کی لنینی مرحله

اول سوال : ۱- دفلسفی دتکامل لنینی مرحله څه کوی،دستر لنین تاریخی خدمت په څه کی دی او د مارکسیسم فلسفېله ستر لنین څخه وروسته دچا پواسطه وده وکړه او کوی ئی ؟
۲- کوم اسناد دمارکسیسم لنینیسم د فلسفی دتکامل ښوونکی دی او همدا اسنادد څه شی ښیه ده او درویشتمی کنګری په کوم شی کی ستره برخه درلودلی ده او دکنګرو فیصله نامو اوا سنادو کوم شیان په خلاقه توګه تحلیل کړیدی او کومی تیوریکی چاری ئی حل او فصل کړیدی ؟
۳- دشوروی اتحاد دکمونیست ګوند تیوریک سترفعالیت په کوم شی کی دی او هغه شی له څه شی څخه عبارت دی او څه کوی ؟
ځواب : ا- د فلسفی دتکامل لنینی مرحله یوه دوره په عیڕ کی نیسی چه د نولسمی پیړۍ له وروستیو وختونو څخه تر اوسنۍ زمانی پوری راپلنیږی.
<u>د ستر ولادمیرایلیچ لنین تاریخی خدمت په دی کی دی چی</u> :
۱- ده په تاریخی نویو شرایطو کی له دیالیکتیکی ماتر یالیسم او تاریخی ماتریالیسم څخه دفاع وکړه .
۲- د لنین تیوریک کار په شوروی اتحاد کی دپرولتاریا له انقلابی مبارزی او دسوسیالیسم دساختمان له پراکتیک سره مخامخ ارتباط درلود .۳- لنین نه یوازی دمارکسیسم فلسفه شتمنه کړه بلکی دهغه داصولو د عملی اجرا لارښوونه ئی هم وکړه .٤- لنین کمونیست ګوند یعنی تر ټولو نوی ډول انقلابی ګوند ایجاد کړ او ددغه ګوند په لارښوونه د روسی کارګرو او کلیوالو سرمایداری راوپرزوله او په جهان کی ئی لومړنی سوسیالیستی حکومت جوړ کړ . ۵- لنین دسوسیالیسم دجوړښت نقشه تدوین کړه او د ژوند تر وروستیو ورځو پوری دهغه ګوند اوهغه په سرکی ولاړ وه کومو چه دغه نقشی ته تحقق ورکاوه .
٦- نوی تاریخی دوران د ټولنی انقلابی تحول دسرمایداری دراپرزولو اودسوسیالیسم دجوړولو وظیفه دکارګرودطبقی اودهغه دمارکسیستی ګوندپه مخکی ودروله <u>له همدی جهته</u> :

ستر لنین د ټولنی د تکامل دقانونمندۍ تحلیل او دهرڅه دمخه دامپریالیسم دماهیت توضیح ته خاصه اوزیاته توجه وکړه .
۷-ستر لنین د تاریخی نویو شرایطو دتغیر په نظرکی نیولو سره دسوسیالیستی انقلاب مارکسیستی تیوری ته تکامل ورکړ وئی ښودله چه :په نویو شرایطو کی دمارکس دغه حکم زوړ شوی دی چه وائی ((انقلاب یوازی پدی شرط بریالی کیدای شی چه په ټولو مخکی تلونکو سرمایداری هیوادو کی په یوه وخت صورت ومومی)) .
۸- ستر لنین د امپریالیسم قوانین کشف کړل او دهغو په اساس ئی داخبره په دلیل سره ثابته کړه چه سوسیالیسم لومړی په څو هیوادو او حتی په یوه هیواد کی بریالی کیدای شی .
۹- د سوسیالیستی انقلاب لنینی تیوری د اجتماعی تکامل په جریان کی حیرانونکی تاثیر پیښ کړ ستر لنین دطبقایی مبارزی او دطبقاتو مارکسیستی ښوونه دپرولتاریاددیکتاتوری ښوونه او دهغی ډولونه او همدارنګه په تاریخ کی دخلکو د ډلو دنقش ښوونه دکارګری طبقی دګوند او مترقی افکار نورهم غنی او شتمن کړل .
۱۰- ستر لنین ددیالیکتیک چارو په تدوین کی ستره برخه لری دمتافزیک داسلوب دطرفدارانو له مختلفو ډولونو سره په مبارزه کی سترلنین دمارکسیستی ښوونی دمارکسیستی دیالیکتیک هستی دضدینو دیووالی مبارزی قانون ته ئی پاملرنه وکړه .
۱۱- ستر لنین په نه ستومانه کیدونکی توګه د بورژوازی دایدیالوژی- ریویژیونیزم او دګماتیزم پرضد مبارزه وکړه او دریویژیونیزم اودګماتیزم دماهوئی خصوصیاتواو دتکامل دلارخونو په ښودلو سره ئی مارکسیستان له معاصرو ریویژیونستانو او دګماتستانو سره په مبارزه کی مجهز کړ .
**خاطره :**ستر لنین پوهیده نو وئی لیکل .
(( پرولتایا دقدرت دترلاسه کولو لپاره په مبارزه کی پرته له سازمان څخه بله وسله نه لری )) .
لنین ثابته کړه چه : د سوسیالیستی انقلاب سرنوشت او په نړۍ کی دکمونیزم بری دمارکسیستی ګوندو په تشکیل او فعالیت پوری اړه لری.
لنین لیکی چه : ((ددی لپاره چه دیوی ټاکلی طبقی ټوله برخه خپلی ګټی او خپل دریځ درک کړی،ددی له پاره چه ټوله طبقه دخپل سیاست اوتګ لاری دتعقیب لاره زده کړای شی په روښانه توګه داغوښتنه کوی چه باید ددغی طبقی پرمختللی عناصر که څه هم چه په لومړی‌کی دغه عناصر دطبقی ډیره کوچنی برخه هم وی په هره بیه چه کیږی ژرترژره یوموټی شی )) .
ستر لنین لیکی چه :((یواځی دکارګری طبقی یو سیاسی ګوندیعنی یو کمونیست ګوندد پرولتاریا او ټولو کارګری پرګنو دسرغندوی دیو موټی کولو،زده کولو او سازمان ورکولو وړتیا او اهلیت لری هغه سرغندوی چه کولای شی ددغی پرګنی کوچنی بورژوازی د لابدی خپ څپاندیو دسندیکالیستی لابدو دودونو او تنګ نظرانه شاتګونو او دپرولتاریا ترمنځه دسندیکالیستی تعصباتو په مقابل کی مقاومت وکړی ، دټولی پرولتاریا د یوموټی فعالیتونو لارښوونه وکړی هم دپرولتاریا ښوونه دسیاسی نظره وکړی او دخلکو د ټولو پرګنو لارښوونه )) .**نو :**دانقلابی پرولتاریاوو دطبقو واقعی مارکسیستی- لنینیستی او کاګری ګوندونه او دهغو واقعی انقلابی لار ښوونکی باید دستر لنین په پورتنیو ویناوو باندی ټینګ او نه ماتیدونکی ایمان ولری او اګاهانه عمل پری وکړی .
روسی کارګرو او کلیوالو دخپل نوی ډول انقلابی ګوند په اګاهانه لارښوونه سرمایداری راوپرزوله اوسیاسی قدرت ئی ترلاسه کړ او بالاخره سوسیالیستی حکومت ئی جوړ کړ .
- د امپریالیسم قوانین چه د ستر لینین له خوا کشف شول په لاندی ډول دی .
۱- دسرمائی تجمع .۲- له کلا څخه سرمایه. ۳- بانکی سرمایه په صنعتی سرمایه تبدیلول .٤- دلویو جهانی سرمایدرانوپه منځو کی اتحادئی . ٥- د کوچنیو کمزورو هیوادو ویش په خپلو منځو کی .
- داهم باید ووایو چه : پرولتاریا او ټول زیار ایستونکی د طبقاتی مبارزی،د طبقاتو له مارکسیستی ښوونی، دپرولتاریا د دیکتاتوری له قایمولو له خپلو واقعی ډولونو څخه پرته هیڅکله او هیڅکله سوسیالیستی انقلاب بریالیتوب ته نه شی رسولی علمی خاص کمونیزم نه شی برقرارولای .
- هر هغه څوک چه په پټه او یا څرګنده توګه سره له نوموړو پدیدو څخه انکار کوی په خپله بورژوایان اود دوی پټ او څرګند نمایندګان دی .
- بورژوایان هم پخپله او یا دخپلو نمایندګانو (ښیو او کیڼو ریویژیونیستانو )او دګماتستانو پواسطه پرولتاری

طبقی اودهغو خپل مارکسیستی- لنینیستی او کارگری گوندونه او نور ټول زیارایستونکی هم په څرګنده او هم په پټه توګه په مختلفو اشکالو سره تهدیدوی څرنګه چه ستر لنین دبورژوازی ایدیالوژی دپیروانو (ښیو او کیڼو ریویژیونیستانو)دمنشویکی او ماهوئی اعمالو او دګماتیستانو داعمالو پرضد په نه ستومانه کیدونکی توګه سره چګړه کړی ده او د دوی دخصوصیاتو او دهغو دتکامل داړخونو په ښودلو سره ئی مارکسیستان له معاصرو ریویژیونستانو او دګماتیستانو سره په مبارزه کی مجهز کړی دی اوداسی ئی لیکلی دی چه : ((په کارګری نهظت کی د ښی اړخ اپورتونیزم د انقلابی مبارزی دپرمختګ دلاری خنډ کیری او دکارګری طبقی مبارزی بورژوازی ته د منلو وړ شکلونه په کړکی کی محدودیری . دکیڼ اړخ داپورتونیزم هغه افراطی هدفونه چه دپرولتاریا د انقلابی قوتو له میزان سره برابر نه دی دهغی مخی ته ړدی او په دی توګه دواړه ګرایشونه هم دښی اړخ اپورتونیزم او هم دکیڼ اړخ اپورتونیزم د ظاهری اختلا فونو سره سره (دیوی پیسی دوه مخونه دی) اوپه کارګری نهظت کی دبورژوازی دنفوذ څرګندونه کوی لنین داسی فرمایلی دی چی((د اپورتونیستانو پر ضد له پریکړونی او بی امانه مبارزی څخه پرته نه شی کیدای چه د امپر یا لیزم پر ضد دمبارزی د مارکسیسم او کاګری نهظت او سوسیا لیسم څخه دخبری څه ځای وی او نه شی کولای چه هم وی )) .

نو باید دپرولتاری طبقاتو خپل واقعی مارکسیستی – لنینیستی او کارګری ګوندونه او ددوی واقعی لاربښوونکی هم دبورژوازی هم د بورژوازی ایدیالوژی دپیروانانو(دښیو او کیڼو ریویژیونیستانو)او دګمه تیستانو پر ضد په نه ستومانه کیدونکی توګه سره جګړه وکړی او د دوی تور تور خصوصیات او دهغو دتکامل اړخونه ټولو زیار ایستونکو ته وروښئی او خپل ځانونه او ټول زیاایستونکی د معاصرو ریویژیونستانو او دګماتستانو سره په مبارزه کی په علمی او واقعاً خلاقه توګه سره مجهز او سنبال کړی .

د مارکیسزم فلسفی له لنین څخه وروسته د دده دملګرو او شاګردانو او دشوروی اتحاد دکمونیست ګوند سترو فعالیتونو او دکمو نیستی کار ګری ګوندونو په واسطه وده وکړه اوکړی ئی .

۲- دشوروی اتحاد دکمونیست ګوند او نورو ماکسیستی ګوندونو قطعنامی، کنګری، کنفرانسونو او پلینومونو او دکمونیستانو بین المللی مشاورتی جلساتو قطعنامی دمارکسیزم لنینیزم د فلسفی دتکامل ښودونکی دی دغه اسناد د تاریخی او ضاعو او احوالو او دانقلابی مبارزو په مشخص پراکتیک او دسوسیالیزم او کمونیسم په جوړولو کی دمارکسیستی فلسفی داحکامو او نتیجه ګیری دماهرانه پکارولو ښبه ده . او دشوروی اتحاد دکمونیست ګوند شلمی یویشتمی دوه ویشتمی او درویشتمی کنګری دمارکسزم لنینیزم په تیوری کی ستره برخه درلودلی ده اولری ئی .

د کنګرو فیصله نامو او اسنادو دکمونیزم دجوړښت اود بین المللی نجات بخښونکی جنبش اساسی جاری په خلاقه توګه تحلیل کړی دی .

**ډیری تیوریکی چاری لکه :** اول : په معاصرو شرایطو کی د پرولتاریا دیکتاتوری جاری-

دوهم : له سوسیالیزم څخه کمونیزم ته داووښتلو دقانونمندی یوه چار –

دریم : د کمونیستی اجتماعی مناسباتو د ایجاد او دنوی انسان د روزلو چاره –

څلورم : له سرمایداری څخه سوسیالیزم ته د اوښتلو د شکلونو د تنوع چاره-

پنځم : لږ او ډیر په یوه وخت کی دکمونیزم ته دسوسیالیستی هیوادونو داوښتلو چاره –

شپږم : او په اوسنیو شرایطو کی دجګړی دمخنیوی د امکان چاره –

اووم : او دمعاصر دوران د خصلت موضوع او نوری چاری په خلاقه توګه سره حل او فصل شوی دی .

دوهم سوال : ۱- د مارکسیزم لنینیزم فلسفه له څه شی سره په مبارزه کی تکامل مومی او دفلسفی کوم شی له منځه یو نه وړو ؟

۲- مارکسیستی- لنینیستی فلسفه د چا چهانبینی ده د څه شی لپاره د چا پر ضد جنګیږی او ددغی مترقی جهانبینی په مقابل کی کومه فلسفه ولاړه ده او دهغی ارتجاعی نقش په څه کی دی ؟

۳- همدارنګه اوس دمارکسزم فلسفه څنګه ده او څه کوی ؟

٤- زمونږ زمانه د څه شی زما نه ده او دایدیالیسم او ماتریالیسم ترمنځ جګړه کی بری دچا په برخه دی ؟

د دوهم سوال ځواب : ۱- د مارکسیزم لنینیزم فلسفه له ارتجاعی بورژوازی اید یالوژی او له ایدیالیسم سره په مبارزه کی تکامل مومی . دفلسفی تاریخ دپیریو په اوږدو کی دماتریالیستانو او ایدیالیستانو پر دوو متضادو کمپونو باندی دفلاسفاوو ویش له منځه یو نه وړو او همدا اوس د دغو دوو ډلو مبارزه د اجتماعی مترقی او ارتجاعی قدرتونو د مبارزی انعکاس دی .

۲- ماتریالیستی مارکسیسیی – لنینیستی فلسفه چه دانقلابی پرولتاریا اوټولو زیارایستونکو جهانبینی ده د سوسیالیزم او ارتقاع لپاره دامپریالیستی ارتجاع پر ضد جنګیږی . او د دغی مترقی جهانبینۍ په مقابل کی د امپریالیستی ارتجاعی بورژوازۍ فلسفه چه خپل عمر ئی خوړلی دی ولاړه ده . او ددغی فلسفی ارتجاعی نقش په دی کی دی چه :
اول : د سرمایداری له وراسته نظام څخه دفاع کوی .
دویم : غواړی چه په ملیونونو زیار ایستونکی د اید یالیسم په بند کی وساتی .
دریم : غواړی چه په مارکسیزم لنینیزم باندی رد ولیکی .
څلورم : او پری نه ږدی چه د ماتریالیزم او علمی کمونیزم افکار د خلکو په پراخو ډلو کی نفوذ وکړی .
۳- دمارکسیستی- لنینیستی تیورۍ په رد کی به دمعاصرو بورژوازی ایدیالوګانو کوښښ کوم ځای ته ونه رسیری . همدا اوس دمارکسیزم فلسفه :
اول : په سویالیستی هیوادو کی چه دبشر ډیر زیات نفوس په بر کی نیسی مسلطه او منلی جهان بینی ده.
دویم : دیالیکتیکی ماتریالیزم په سرمایداری هیوادو کی په تدریج سره دخلکو فکرونه اوزرونه تسخیروی .
دریم : هره ورځ داجتماعی ژوند دپرمخ تګ او دعلومو دتکامل سره دایدیالیزم مغیرات او بی اساسی والی ځرګندیږی .
څلورم : دیالیکتیکی ماتر یالیزم په اوسنیو طبیعی علومو کی پرلپسی کلک ځای نیسی .
پنځم : دغه فلسفه چه په سوسیالیستی هیوادو کی دطبیعی علومو په پوهنو کی مسلطه او منلی فلسفه ده د سرمایداری هیوادو په پوهانو کی هم زیات شمیر طرفدران لری .
٤- زمونږ زمانه د ماتریالیزم د بریالیتوب زما نه اود ایدیالیزم د ژور بحران او راپریواتلو زمانه ده سره له دی چه ایدیالیسم تر اوسه پوری له ماتریالیستی فلسفی سره مبارزه کوی **مګر :**
دهیڅ ډول تردید ځای نه شته چه **بری** د مارکسیستی – لنینیستی علمی جهانبینۍ په برخه دی .

# دریم فصل

## ماده او دهغی دموجودیت شکلونه

اول سوال : په څه پوهیږو ؟
ځواب : په دی پوهیږو چه :د دیالیکتیکی ماتریالیزم په موضوع کی ستره مسئله دفلسفی داساسی مسئلی حل او دشعور او مادی تر منځ درابطی مسئله ده .
اوس به وګورو چه ماده څه شی ده او تر کومو شکلونو لاندی موجوده ده
۱- ماده څه شی ده ؟
ا- دکومو شیانو شته والی پرلپسی حسوو او ایا ټول شیان په سترګو لیدلای شو ؟
اجسام څه شی لری – انسان په کومی مسئلی باندی فکر کړی دی ؟
۲- انسان ته کوم شی څنګه باور ورکړ او طبیعی علومو څه شی ثابت کړی دی اودهغه خبری معنی څه ده ځواب : ۱- انسان راز راز بی شماره اجسامو راچا پیر کړی دی . د طبیعت نه په بی ژونده اجسامو کی د اتم له ډیرو کوچنیو زراتو څخه تر لویو اسمانی اجسامو پوری او په ژوندیو اجسامو کی له ډیرو ساده څخه بیا تر ډیرو مغلقو پوری
ددغو اجسامو یوه برخه زمونږ په شاوخوا کی واقع او مونږ په هغو کی ژوند کوو او دهغی شتوالی پرلپسی حسوو – بلی برخی ئی له مونږ څخه په ډیر لرو فاصلو کی ځای نیولی دی .ځینی دهغوی څخه په لڅو اوبی وسلی په سترګو لیدلی شو پداسی حال کی چه دځینو نورو دلیدو لپاره باید له پیچلو الاتو او اسبابونو څخه اسفاده وکړو .
اچ-جسام مختلف خواص،بیل بیل کیفیتونه لری او راز راز خصوصیات لری .
انسان له ډیری زمانی راپدی خوا دطبیعت د اجسامو دحیرانوونکو ډولونو په مقابل کی په دی مسئله باندی فکر کړی دی چه ایا هغه ټول اجسام چه دی ئی راچاپیر کړی دی دیوه اساس او مشابه علایمو لرونکی نه دی ؟

۲- ورو ورو دژوند تجربو دعلم او عمل تکامل انسان ته باور ورکړ چی :
اشیا او موجودات هر څومره چه له یوه او بل سره توپیر ولری او هر څومره چه د دوی خواص مختلف وی ټول مادی دی او دانسان د شعور اوفکر نه د باندی او ازاد وجود لری .
طبعی علومو ثابته کړی ده چی :مځکه د انسان دپیدایښت او په کلی توګه د ژوندیو موجوداتو د راپیدا کیدو نه ملیونونه کالونه مخکی موجوده وه او ددی خبری معنی داده چه :
ماده عینی ده یعنی له انسان او د ده له شعور څخه مستقل وجود لری اودانسان شعور پخپله د مادی جهان د یوه اوږده تکامل محصول دی .
**خاطره :** نوموړی دلیل (دځمکی پیدایښت دانسان اوپه کلی توګه دژندیو مجوداتو د راپیداکیدو نه ملیونه کاله مخکی ) د ایدیالیستی نظریاتو چه وائی(شعور پر ماده مقدم اوماده دشعور مخلوق ده)په ردولو کی یو علمی،مثبت او واقعاً غاښ ماتوونکی دلیل دی .

## دمادی فلسفی مفهوم

اول سوال ۱- د اجسامو او موجوداتوعمومی خاصیت کوم دی او دماتریالیستی دیالیکتیکی جهانبینۍ اساسی وصول کوم کوم دی ؟
۲- دمادی مفهوم څه کوی ، عینیت څه شی دی ، اومعرفت څه شی ښئی ؟
۳- ستر لنین په کوم کتاب کی ماده څنګه تعریف کړی ده – داتعریف څه کوی – د مادی لنینی تعریف له چا سره تضاد ښئی او کوم علت دی چه روحانیون او ایدیالیستان تل دمادی دموجودیت کلک مخالفین پاتی شوی دی؟
داول سوال ځواب : ۱- د اجسامو او موجوداتو دا عمومی خاصیت دی چه :
ټول واقعتونه دی زمونږ له وجود څخه دباندی وجود لری او زمونږ په ذهن کی انعکاس کوی .
دماتریالیستی دیلیکتیکی جهانبینۍ اساسی ویول په لاندښتوګه سره دی .
الف :د عینی جهان په شته والی باور لرل یعنی هغه جهان چه انسان ئی راچاپیر کړی دی .
ب- همدعه راز ددی جهان په پیژندلو کی دانسان په توان اعتقاد کول .
ددی خبری معنی داده چه دمادی مفهوم ددی اساسی اصولو منعکسوونکی دی او په خپلهډ دیالیکتیکی ماتریالیسم ترټولو مهمه او مرکزی مقواه ده .
۲- د مادی مقلوی مفهوی تر ټولو عام مفهوم دی ځکه چی ټول عینی واقعت احتوا کوی  نه یو جلا شی او پدیده او نه یوه ډله شیان او معینی پدیدی <u>. دامفهوم</u> :
الف – صرف نظر دبیلو اشیاوو له خصوصیاتو،خواصو جهاتو څخه صرفنظر دهغویله مشخصو راوابطو او متقابلو اغیزو څخه چه یو پر بل ئی لری ترټولو اشیاوو ډیر ستر اوکلی خاصیت تعنی عنیت بیانوی .
**عنیت** دانسانی شعور نه دباندی دهغوی دمستقل وجود په معنی دی .
ب- د مادیی مفهوم نه یوازی دعینی جهان کلی خواص تصور ته راولی بلکی دمعرفت یوه مهمه مقوله هم ده ځکه چه دامفهوم دانسان توان دجهان په پیژندګلوۍ کی ښئی اود بشری معلوماتو منبع ښئی په دیالیکتیکی ماتریالیسم کی د معرفت دمسایلو دحل تر هرڅه مهم اساس دی .
ج- د مادی مفهوم نورو علمونو ته په تیره بیا طبیعی علمونو ته هم ستر اهمیت لری .
هرعلم چه هر کله دعینی واقعت پر یوه اویا بل جهت باندی څړنه ونه کړی په داسی یوه لوبه بدلیری چه انسانی عقل هلته نه وی .
۳- ستر ولادمیر ایلیچ لنین د ماتریالیسم او امپریوکریتیسم په کتاب کی دمادی واقعاً علمی او هراړخیز تعریف وړاندی کړی دی .
((ماده دعینی واقعت د تعین لپاره یوه فلسفی مقوله ده چه انسان دخپلو خواصو له لیاری په هغی خبریږی داسی واقعت چه زمونږ دخواصو په وسیله عکاسی کیږی اوانعکاس پیدا کوی او په عین حال کی زمونږ دخواصو نه مستقل وجود لری )) داتعریف چه په هغه کی دپیړیو پیړیو انسانی تجربو تعمیم شویدی الف : دجهان سم درک راپه ګوته کوی .
ب- او ښئی چه هم په پراکتیک او هم په معرفت کی باید واقیعت او عینی مادی شرایط اساس ونیسو نه خپلی ذهنی کتنی .
ج- دا تعریف چه جهان دپیژندلو وړ دی انسان ته یو بی انتها دورنما پرانیزی فکر رابیداروی او له انسان

سره دنړی په اسرارو کی دنفوذ لپا ره مرسته کوی .د مادی لنینی تعریف د دیالیکتیکی ماتریالیسم سره دایدیالبسم او اګنوستیسیسم ژور تضادله ورایه ښئی په حقیقت کی ماده پر شعور وړاندی پیدا شوی او ابدی ده نو نه چا پیدا کړی او نه ورکیږی . پداسی جهان کی چه ماده دهر شی لومړنۍ اساس او لومړنۍ علت وی نور نو ځای کوم بل قدرت او مافوق الطبیعی قوتونو ته نه پاتی کیږی همدا علت دی چه روحانیون او ایدیالیستان تل دمادی دموجودیت کلک مخالفین پاتی شوی دی .:

دویم سوال : ۱- دمادی دورک کولو لپاره چا زیار ایستلی دی – ماخیستا ن څوک دی او څه ئی کړی دی- اوس هم څوک دهغوی په پلونو پښی ږدی او دمادی دمفهوم پر ضد ددی پرلپسو یرغلونو هدف څه دی؟

۲- د علومو تکامل او دانسان علمی زیار له ورایه کوم شیان راښئی ؟

د دویم سوال ځواب :۱- د تیرو پیړیو ایدیالیستانو له افلاطون څخه تر برکلی پوری دمادی د ورک کولو لپاره زیار ایستلی دی – ماخیستان د نولسمی پیړۍ په پای او دشلمی پیړۍ په سر کی دایدیالیسم نمایندګان وو او دا نوم له اطریشی فیلسوف ماخ نه اخیستل شویدی .

ستر لنین دماتر یالیسم او امپریو کرتیسیسم په کتاب کی پر ماخیسم هر اړخیز انتقاد کړی دی.

د مادی د مفهوم پر ضد اوسنی جګړه ماخیستانو شروع کړیده او اوس هم د ایدیالیسم او ریویژیونیسم زیات نمایندګان د هغوی په پلونو پښی ږدی .

دمادی دمفهوم پر ضد ددی پرلپسی یرغلونو هدف دادی چه دماتریالیسم بنسټ یعنی د مادی مفهوم له فلسفی او علم نه وباسی او په دی توګه پر ایدیالیسم او اګنوستی سیسم باندی په پټو سترګو ایمان را وړلو لپاره لاره خلاصه کړی دا یرغلونه هیڅ راز اساسی پایه نه لری .

۲- دعلومو تکامل اودانسان علمی زیار له ورایه راښئی چی :

الف – ماده دعینی واقعیت په توګه شته او بی انتها او ابدی ده .

ب – د طبیعت ټول څیزونه او جریانونه یوازی مادی مظاهر او شکلونه دی په همدی وجه هغه نړۍ چه تر مونږ راچاپیره شویده مادی نړۍ ده مګر ماده راز راز انواع او شکلونه لری په بل عبارت مادی نړۍ دتنوع یووالی دی .

ج – په مادی نړۍ کی هیڅ شی که څه هم خورا کوچنی وی نشی کولای چه له نیستۍ نه پیدا شی او له هستۍ نه نیست شی- د یوه شی نابودی پخپله دبل شی دهستیدو پیل دی او ددی دوهم نابودی د دریم دهستیدو شروع او په همدی توګه تربی انتها . . .

مشخص څیزونه تغیر مومی او یو پر بل بدلیږی اما ماده په دی اوښتو او بدلیدو کی نه ورکه کیږی او نه نوی راپیدا کیږی .

**خاطره :**د مادی نوموړی لنینی تعریف او دهغه محتوا په علمی او واقعی توګه سره د فلسفی داساسی مسئلی حل را په ګوتو کوی.

هر هغه څوک چه د مادی دنوموړی لنینی تعریف او دهغه له محتویاتو څخه انکار وکړی ایدیالیستان د دوی پیراواناں(بورژوایان اود دوی پټ نمایندګان<پټ اوڅرګند د ښی او کیڼ اړخ ریویژیونیستان>)اود دوی نمایندګان روحانیون اوداسی نور بلل کیږی چه د دوی یرغلونه هیڅ راز اساسی پایه نه لری .

د دوی اصلی هدف دادی چه :طبیعت او ټولنه په خپل حال باندی په جامده توګه سره وساتی اود طبیعت او ټولنی دتکامل مخه ونیسی او همدارنګه استثمار کیدونکی د استثمارګرانو په مقابل کی دعلمی سوسیالیسم او علمی خاص کمونیزم دجوړولو په خاطر له طبقاتی مبارزی منکر کړی

## مادی مفهوم او دجهان علمی منظره

اول سوال : ۱- د مادی مفهوم باید له کوم شی څخه جلا وبلل شی – ایدیالیستان د ماتریالیزم د ردولو لپاره قصداً کوم شیان سره مخلوطوی – او کوم شی ایدیالیستی فیلسوفان څه شی ته مجبور کړل او ستر ولاد میر ایلیچ لنین په کوم کتاب کی دایدیالیستانو نظریات بی پائی او دروغ ثابت کړل او دطبیعی علمونو د نویو اکتشافاتو په نتیجه کی ئی څه وښودل ؟

۲- معا صر علوم او تر ټولو د مخه دفزیک علم د لنین افکار دڅه شی په باره کی تائیدوی په معاصر فزیک کی جسم څه شی دی او له څه شی څخه تشکیل شویدی اوبیا هغوی له څه شی څخه تشکیل شویدی. . . او دستر لنین په وخت کی یوازی کوم شی پیژندل شوی وو او اوس څومره اجزأ کشف

شوی دی ؟ ۳- ایا د فزیک علم یوازی په اتم کی مختلف اجزأ کشف کړل ؟
داول سوال ځواب : ۱- د مادی علمی مفهوم باید دجهان له علمی منظری نه ،د جوړښت په باره کی له مختلفو نظریاتو ، وضع ، د مادی دمشخصو انواعو له خواصو نه جلا وبلل شی هغه نظریات چه دعلومود تکامل په بهیر کی راټولیږی دا نظریات او تصورات په دایمی توګه تکامل مومی او کله هم له بنسټ نه تغیرات پیدا کوی مګر : دا دمادی دفلسفی پیژندنی حقییت چه عبنی واقعت لری اود شعور نه دباندی دی نه شی لړزولای .
ایدیالیستان د ماتر یالیزم د رد ولو لپاره قصداً دمادی فلسفی مفهوم له هغو علمی نظریاتو سره مخلو طوی چه د مشخصو مادی اجسامو د ساختمان(جوړښت)په باره کی منځ ته راغلی دی –د دغو نظریاتو تغیر دهغوی پریښودل اوبیا دهغوی پر ځای د نویو بشپړو او دقیقو نظریاتو کښینول دمادی نابودی او د ماتریالیزم د زوال په توګه ښئی مثلاً :
د پرلپسی پیړیو په اوږدو کی هغه ماتریالیستان چه له فزیک له اسلوب سره ئی شغل درلود ماده ئی له اتم سره یوشی بلله او اتم ئی نه ویشونکی او غیر قابل نفوذ باله-
د نولسمی پیړی په پای کی الکترون چه د اتم کوچنی جز دی کشف اوهمدارنګه وروسته په اتم کی نور اجزأ کشف شول او ددی کشفونو له برکته اتم چه کلونه کلونه نه ویش نه نامنونکی او دجهان د بنسټ د ټلو کوچنی خښته ده یو فوق العاده پیچلی موجود ثابت شو .د الکترون خواص په هیڅ توګه د اتم خواصوته نه ورته کیدل دی خبری هغه فزیک پوهان چه متافزیکی فکر ئی کاوه ابهام او ګمراهۍ ته دعوت کړل او ایدیالیست فیلسوفان ئی چه دعوامو له مشکلاتو نه ئی دخپلو نظریاتو دتائید له پاره کار اخیست دی ته مجبور کړل چه داتم له غیر مادی اوسیدو اود مادی له فنا کیدو څخه خبری وکړی .
ستر ولادمیر ایلیچ لنین د(امپریالیسم او امپریو کریتیسیسم) په کتاب کی دانظریات بی پائی او دروغ ثابت کړل اود طبیعی علمونو د نویو اکتشافاتو په نتیجه کی دا وښوده چه :
الف- چه ماده له منځه څخه نه ځی بلکی زمونږ دمعلوماتو د سرحد کرښه د مادی په باره کی بدلیږی-
ب- تر پرون پوری اتم زمونږ د معلوماتو سرحدی کرښه وه او نن الکترون دی اوسبا ته به دا سرحدی کرښه له منځه لاړه شی .
چ- زمونږ پوهه به دمادی په باره کی لازیات نفوذ وکړی الکترون دانسانی معرفت په لحاظ هومره غنی ده لکه اتوم .
۲- معاصر علوم تر ټوله دمخه دفزیک علم د ستر لنین افکار دمادی دکیفی، تنوع ،غنا جوړښت اودهغی دخواصو په باره کی تائیدوی .
په معاصر فزیک کی جسم دمادی یونوع دی یعنی هغه څیز چه جرم (کتله )ولری .
جسم : له مالیکلونو څخه او مالیکول له اتمونو څخه تشکیل شویدی سره له دی هم جسمونه مالیکولونه او اتمونه ډیر متنوع او راز راز دی .
اتمونه بیا پخپله ډیر پیچلی ساختمان لری :
الف: دهغوی زړی(هسته) له پروتونونو او نیوترونونو څخه تر کیب شویده .
ب- دهستی په شاوخوا کی نور اجزأ د الکترون په نامه له زیاتی چټکتیا سره راتاویږی دا اجزأ اوداسی نور اجزأ لکه :
مزون ،هیپرون او پوز دجسم تر ټولو کوچنی اجزأ دی چه انسان تر اوسه هغه پیژندلی دی او تر اوسه نه دی قادر شوی چه تر دی پر لا کوچنیو اجزاوو یی تقسیم کاندی مګر بی له شکه :
دا ټول اجزأ بیا په خپله ډیر پیچلی ساختمان لری. د توجه وړ خبره لا داده چه : دااجزأ نه یوازی داتم او هستی په ساختمان کی کشف شوی دی بلکی په ازاد ډول هم لیدل کیری مثلاً :
ددی اجزاوو ډیر انواع په کیهانی وړانګو کی شته .
ج- په دی راوروسته کالونو کی ځینی نور اجزأ د اجزاوو د ضد په نامه کشف شوی دی لکه : (پوزیترون) چه له الکترون او پروتون څخه دهغوی دمخالف برقی چارچ په وسیله متمایز کیری .
د- کله چه ستر لنین خپل (ماتریالیسم او امپریو کریتسیم) نومی کتاب لیکی یوازی الکترون پیژندل شوی وه مګر اوس له دریشو مختلفو ااجزاوو څخه زیات پیژندل شویدی چه : هر یو ئی په بل بدلیږی .
۳- دفزیک علم نه یوازی : الف – په اتم کی مختلف اجزأ کشف کړل- ب- بلکی دهغوی دخواصو تنوع ئی هم وښودله ج- او داخبره ئی هم جوته کړه چه الکترون هم داتم په اندازه غنی دی .

د- نن له الکترون څخه د انسان مفهوم یو کروی او تغیر نه منونکی جسم نه دی .
ه- الکترون هم د اجزاوو (زری) او هم دامواجو خواص لری همدا راز جرم لری ، الکتریکی بار او مقناطیسی میدان لری . ی- ټول نور اجزا هم دا ډول خواص لری .
**خاطره :**دا یو عینی واقعیت دی چه په اتم کی دالکتونی جزء په کشف کیدو سره اتمی ماده نه نیست کیږی یعنی نه فنا کیږی بلکه : په نوی الکتونی حالت باندی بدلیږی که اتم نه وای په عین وخت کی به الکترون هیڅکله نه وو کشف شوی . نو :
هر هغه څوک چه په همدی خپلو بی پائی او دړاغجنو نظریاتو سره په اتم کی د الکترون په کشف کیدو سره داتم دغیر مادی اوسیدو اود مادی دفنا کیدو څخه خبری کوی اصلاً ټول په قصدی توګه سره د استثمار ګرو له خوا داستثمارکیدونکو د استثماریدو په خاطر هلی ځلی کوی <u>خو داهم باید ووایو</u> : دا د مادی دفلسفی دپیژندنی حقیقت چه عینی واقعت لری او دشعور نه دباندی موجود دی(ماده نه له نیستی چخه هست کیږی اونه له هستی څخه نیست کیږی) نه شی لړزولای .
دویم سوال : ۱- فزیکی میدان څه شی دی – بشری پوهنی دنولسمی پیړی څخه کوم شیان پیژندل- فوتون څه شی دی – دفوتونو او جسمی اجزاوو توپیر کوم دی او ایا له فوتون څخه پرته ځینی نور اجزأ هم دجازبی او الکترون مقناطیسی میدان لرونکی دی ؟
۲- د میدان او جسم ترمنځ پوله په کوم شی کی وجود لری اودفزیکی اجزاوو په نړی کی دا پوله څنګه ده مثال ئی ؟د مادی وحدت په جهان کی د تحریک او تغیر یو ستر دلیل کوم دی
۳- پولی مر، کیمیاوی ترکیبات کوم اجزأ دی او ددی ترکیبونو خصوصیات کوم دی او ددی ترکیبونو له کشف سره دانسان عقل په څه شی کی نفوذ کوی او دڅه شی لپاره کوم شی دکوم شی په پیژند ګلوی کی مهم ګام بلل کیږی .
د دوهم سوال ځواب :۱- معاصرعلوم یو بل ډول ماده دمیدان په نوم پیژنی . فزیکی میدان داسی شی دی چه اجسام یو په بل پوری نښلوی او دیوه تاثیر بل ته نقلوی بشری پوهنی دنولسمی پیړی څخه د جازبی میدان او الکترون مقناطیسی میدان پیژندل دالکتور مقناطیسی میدان عناصر اواجزأ(فوتون) بلل کیږی .د فوتونونو او جسمی اجزاوو توپیر دادی چی فوتون جرم(کتله)نه لری او په خلأ کی دیوی ثانئی له پاره دری سوه زره کیلو متره سرعت لری په داسی حال کی چه دجسم داجزاوو د حرکت سرعت توپیر سره لری مګر :د فوتون دسرعت نه هیڅکله تجاوز نه کوی .
له فوتون څخه پرته ځینی نور اجزأ هم دجازبی او الکترون مقناطیس لرونکی دی مګر دهغوی خواص دفوتون له خواصو سره یو شان ندی .
۲- د میدان او جسم ترمنځ پوله یوازی دلیدو وړ اجسامو په دنیا کی وجود لری مګر : دفزیکی اجزاوو په نړی کی دا پوله نسبی ده مثلاً : ځینی اجزأ لکه : مزون په عین حال کی دمیدان اجزأ هم دی .
جسم او میدان یو له بله سره نه شلیدونکی ارتباط لری یو پر بل اغیزه کوی او په معینو شرایطو کی کولای شی چه په فوتون یعنی د الکترون مقناطیسی میدان کی په اجزاوو بدل شی .
ددی تجربی تحقیق دفزیک یو ستر بریالیتوب دمادی وحدت په جهان د تحریک او تغیر یو ستر دلیل دی .
۳- تحقیق د هغو اجزاوو په باره کی چه تر عادی مالیکولونو ستر دی یعنی هغه څه چه د : (پولی مر) کیمیاوی ترکیبات نومیږی(کألوچک د البومینوئید مواد نشایسته اونور) دمادی دجوړښت پلټنی په لحاظ یو ستر قدم دی ددی ترکیبونو خصوصیت دادی چه:داتم دهغو مشاهدو ډلو له تکراریدو څخه پیدا دی چه د ځنځیر په څیر سره تړلی شوی دی .
<u>ددی ترکیبونو له کشف</u> سره د انسان عقل دخارجی واقعیت په هغه برخه کی نفوذکوی چه دکوچنیو زراتو د دنیا او د لید وړ زراتو تر منځ مشترکه پوله ده او ددی لپاره چی : زیاتره دا ترکیبونه مخصو صاً (البومینو ئیدی)مواد د ژوندی مادی ترکیب ته رانغوزی دهغوی مطالعه او پیژندنه  د ژوند دپدیدو د ماهیت په پیژندګلوی کی مهم ګام بلل کیږی .
وریم سوال : ۱- کوم شیان دمخالفینو له خوا د استفادی وړ ګرځی – روحانیون څه عقیده لری – په حقیقت کښکوم شیان ټول مادی دی او که اتوم او دهغه اګزاوو واقعیت نه درلودلای کوم شی به امکان نه وه پیدا کړی ؟ ۲- زمنږ پوهنه د مادی اشیاوو په جوړښت او خواصو کی څنګه ده مګر په دی ټولو احوالو کی به ماده چنګه وی اودکوم شی مننه دیالیکتیکی ماتریالیزم له ایدیالیزم او اګنوستی سیسم  دټولو انواعو نه متمایز کړی دی ؟۳- ایا ماده منجمده ده؟ اودجهان دمادی ماهیت دژوری پیژندنی لپاره له کومو

شکلونو مطالعه لازمه ده ؟
دریم سوال ځواب : ۱- په دی توګه دفزیک،کیمیا او نورو معاصرو علمونو ټولی کامیابی د دیالکتیکی ماتریالیزم احکام دمادی دعنیت په باره کی دجهان وحدت او تنوع او دانسانی پوهی بی انتها والی په ځلانده توګه تائید وی.
سره له دی باید پوره پاملرنه وشی چه هر علم له کامیابیو سره سره په هغوی کی ځینی مشکلات او مسایل موجود دی چه تر اوسه پوری لاینحل پاتی شوی دی اوهمدا مشکلات او لاینحل مسایل دی چه د مخالفینو له خوا داستفادی ور ګرځی- روحانیون عقیده لری چه :
بشری پوهه ددی توان نه لری چه پر دی مشکلاتو باندی بریالی شی د بورژوازی فیلسوفان او یوه ډله ایدیالیست فزیک پوهان له دی مشکلاتو څخه د ماتریالیزم د ردولو له پاره مبارزه کوی. په حقیقت کی :د اتم اجزأ – پخپله اتم،مالیکولونه چه د اتم نه جوړ شوی دی اجسام چه له مالیکولونو څخه ترکیب شوی دی ټول مادی او عینی دی دا ټول دواحد طبعیت او مادی جهان عناصر دی . که اتوم اودهغه اجزاوو واقعیت نه درلودلی داتمی بریښنا کارخانه چه دلومړی ځل لپاره په شوروی اتحاد کی جوړه شوه همدا راز داتمی یخ ماتولو بېړیو جوړولو به امکان نه وای پیدا کړی .
۲- لکه څرنګه چه لیدل کیږی زمونږ پوهنه دمادی اشیاوو په جوړښت او خواصو کی که څه هم دامادہ الکترون، اتم،مالیکول او یاجسم وی نسبی او متغیره ده زمونږ پوهی په ماضی کی هم تغیر کړی دی او په مستقبل کی به هم تغیر وومومی مګر په ټولو احوالو کی به ماده عینی واقعت وی .
د انسان له شعور نه دباندی دمادی موجودیت ننی دیالیکتکی ماتریالیزم د ایدیالیزم او اګنو ستی سیسم له ټولو انواعو نه متمایز کړی دی .
۳- په دی توګه دا حقیقت روښانه شو چه جهان مادی دی اوپه هغه کی ټول موجود شیان دمادی اشکال او انواع دی مګر : ماده منجمده او بی حرکته نه ده بلکی په دایمی توګه خوځیدونکی ده  اود هغی حرکت په زمان او مکان کی جریان لری .
د مادی دموجودیت اساسی شکلونه :حرکت،مکان- زمان او شعور دی .
د جهان دمادی ماهیت دژوری پیژندنی له پاره لازمه ده چه نوموړی شکلونه مطالعه کړو .
**خاطره :**ماده پر دوه ډوله ده :۱- کتلوی یا جوهری- ۲-میدانی یا ساحوی.
جسم پنځه حالته لری :الف- جامد.ب- مایع.ج- ګاز د- پلازما:چه دلویو ستوروپه شاوخوا کی دچارچ په شکل وجود لری. ه-نیوترونی: چه دلویو ستورو په مرکز کی په خنثوی شکل سره وجود لری .
۱- کتله: کتله دیوه جسم هغه مقاومت ته ویل کیری چه د خپل حالت دتغیر سره ئی ښکاره کوی مثلاً:هغه قوه چه دیوه جسم د تغیر لپاره له یوه ځایه څخه په کاریږی .
۲- فزیکی میدان د مادی یوبل ډول دی میدان په دریو ډولو دی.الف الکترومقناطیسی میدان ب- دجازبی میدان(ګریوېټی) ج- اوهستوی میدان وجود لری.
دمیدان اجزاوی کوانتمونه دی- دسکون په حالت کی کتله نه لری اوپه یوه ثانیه کی دری سوه زره کیلومتره لار وهی دنور یا رڼا کوانتمونه فوتونونه بولی.
نو هر هغه څوک چی :الف-د مادی دپورتنیو ډولونو او دجسم له پنځو حالتونو څخه انکار کوی-
ب-جسم او میدان یوله بله څخه جدا بولی دهغوی دیو پربل له اغیزی او تبدیلیدو څخه منکریږی-
ج- په علومو کی تر اوسه پوری دځینو لاینحلو مشکلاتو او مسایلو دموجودیت له مخی داسی استفاده کوی چه بشری پوهه ددی توان نه لری چه پر دی مشکلاتو بریالی شی-
د-او که چیری په شوروی اتحاد کی داتمی بریښنا کارخانی او داتمی یخ ماتوونکو بېړیو له جوړیدو سره سره د اتم او دهغه داجزاوو څخه منکریږی دا د روحانیونو-بورژوازی فیلسوفانو ایدیالیست فزیک پوهانو او له داسی نورو څخه عبارت دی چه دوی ټول اصلاً او قصداً پدی توګه د طبیعت او ټولنی دتکامل دلاری غله او رهزنان دی او دوحشی او درنده استثمار ګرو طبقاتو په خدمت کی دی .

## حرکت دمادی د شته والی(موجودیت)شکل

**اول سوال**:۱- ماده یوازی د څه شی په حال کی موجوده ده ددی مطلب لپاره کوم شی قانع کوونکی دلیل وړاندی کوی او کوم شی به په نظر کی نیسو ؟
۲- مادی اجسام څه کوی- مثال ئی او ایا یوازی د اتم اجزأ خوځیدونکی دی؟ او ژوندی موجودات او اجتماعی دڅه شی په منګلو کی پروت دی ؟
۳- د حرکت دمادی دموجودیت شکل په هکله انګلس څه وا ئی ؟
داول سوال ځواب :۱- ماده یوازی دحرکت په حال کی موجوده ده او دحرکت له لاری ځان ښئی ورځنی واقیعات دعلومو تکا مل او پراتیک ددی مطلب لپاره قانع کوونکی دلیل وړاندی کوی . اتم به په نظر کی ونیسو : اتم دمعین مادی جسم په توګه تر هغه وخته پوری موجود دی چه دهغه مرکبه اجزأ په ګرزیدو او حرکت کی وی .اتم بی داجزاوو له حرکت څخه نه شی کولای موجود وی لکه: همدا راز چه بل هیڅ جسم نه شی کولای بی له حرکته وجود ولری. کافی ده چه : د ژوندی موجود او دهغه د محیط تر منځ راکړه ورکړه(مبادله) پری شی او ژوندی موجودتلف نه شی .
۲- مادی اجسام د حرکت له لیاری تجلی کوی او زمونږ په خواصو تاثیر کوی مثلاً : لمر پرلپسی په کیهانی فضأ کی له خوځیدونکو اجزاوو څخه مرکبی وړانګی لری دا اجزا ځمکی ته له رارسیدو نه وروسته زمونږ د خوا سو پر اعضأوو باندی تاثیر کوی او مونږ ته دلمر موجودیت را ښئی که ددی اجزاوو حرکت نه وای مونږ به دلمر په وجود نه وو خبر شوی مګر دا نه ده چه لمر له ځمکی سره نږدی یوسلوپنځوس ملیونه کیلو متره فاصله لری . ټول نور اجسام همدا راز وجود لری او دهغوی تجلی په حرکت کی ده .
نه یوازی داتم اجزأ خوځیدونکی دی بلکه : اتمونه په مالیکولونو کی او ملیکولونه په اجسامو کی خوځیږی .هغه بیشماره اجسام چه په ځمکه اوکیهانی فضأ کی پراته دی واړه حرکت کوی .
<u>ژوندی موجودات اواجتماعی ژوند هم</u> دحرکت او تغیر په منګلو کی پراته دی دمادی جهان هیڅ جزء نه شی پیدا کیدلای چه پرلپسی د حرکت او تغیر په حال کی نه وی په دی توګه حرکت دمادی دشته والی شکل اود هغی نه بیلیدونکی خاصیت دی .
۳- انګلس وائی چه :( حرکت دمادی دشته والی (موجودیت)شکل دی هیڅ چیری او هیڅکله ماده بی حرکته نده اونه به وی) .
**خاطره :**لکه څرنګه چه غیر ژوندی موجودات پرلپسی حرکت کوی همدارنګه ژوندی موجودات او اجتماعی ژوند هم پرلپسی حرکت کوی . نو هر هغه ځوک چه یو کمونیستی او کارګری ګوند دخلکو له پر ګنو سره د ژوندیو پیوندونو له درلودلو څخه پرته ژوندی بولی اویا نوموړی ګوند ته کمونیستی اویا کارګری ګوند وائی- همدارنګه ژوندی موجودات او اجتماعی ژوند په پر لپسی ډول سره دحرکت په حال کی نه ښئی او حرکت دمادی دشته والی (موجودیت)په شکل نه منی په دی توګه سره :ټول د بی رحمه ،ځیروونکو او دارنده استثمارګرو طبقاتو په خدمت کی دی .

## حرکت مطلق دی او سکون نسبی

اول سوال :۱- دمادی حرکت ولی مطلق او ابدی دی او دکومی علمی مسئلی کوم قانون او داقانون د کوم مطلب بیانوونکی دی ؟
۲- که حرکت ابدی او مطلق وی ایا کیدای شی چه دسکون په باب خبری وکړو اودحرکت مطلقیت څه کوی ؟ ۳- حرکت څه شی دی ایا ښائی چه سکون ته دمرګ او انجماد په سترګه وکتل شی مثال ئی- او سربیره پردی په هر ساکن جسم کی همیشه څه شی جریان لری ؟
داولسوال ځواب: ۱- دمادی حرکت مطلق او ابدی دی نه کیدای شی چه ځوک ئی هست کړی اونه ئی نیست کولای شی داځکه : چه ماده نه د هستولو او نه دنیستولو وړ ده .
ددی علمی مسئلی بیان چه حرکت نه دهستولو او نه د نیستولو وړ دی دمادی دبقا او انرژی‌د تبدیل قانون دی داقانون : ددی مطلب بیانوونکی دی چه حرکت لکه ماده نه نابودیږی او نه هستیږی بلکی یوازی دشکل په لحاظ تغیر کوی او له یوه شکل نه بل شکل ته اوړی.

۲- البته کیدای شی خبری وکړو اوباید هم خبری وکړو : دمادی تغیراتو په عمومی جریان کی تعادل او سکون هم شته مګر دا تعادل او سکون په دی او یا هغه شی کی په جلا توګه شته دی نه په مجموعی توګه.
د حرکت مطلقیت : د حرکت مطلقیت دسکون ایجاد کوی او سکون د جهان دتکامل لازمی شرط دی په حرکت کی شی راپیدا کیری او سکون هغه ته تحکیم ورکوی- د حرکت نتیجی ته ثبات وربخښی،په دی توګه چه دا شی دمعین زمان په اوږدو کی ساتل کیری او معین څیز پاته کیری .
۳- حرکت مطلق دی خو سکون نسبی دی اما نه ښائی هغه ته د مرګ او انجماد په سترګه وکتل شی چسم کولای شی یوازی دبل جسم په نسبت د سکون حال ولری مګر دمادی په عمومی حرکت کی ګډون لری مثلاً : هغه کور چه مونږ پکی اوسو نسبت دځمکی مخ ته ساکن دی مګر بیا دځمکی سره یو ځای د ځمکی تر محور را تاویږی او دځمکی سره تر لمر راڅرخی .
سربیره پر دی په هر ساکن جسم کی همیشه فزیکی او کیمیاوی تغیرات جریان لری په دی توګه :
د مادی حرکت ابدی او مطلق دی او سکون یوازی نسبتی او موقتی جنبه لری .
**خاطره :**یو کمونیستی او کارګری ګوند به په نظر کی ونیسو حرکت او سکون به په اجتماعی ژوند کی وګورو : د یوه کمونیستی او کار ګری ګوند بطی(ورو) حرکت د همغه ګوند او یا دنورو کمونیستی او کار ګری ګوندونو د تیز یعنی (سریع)حرکت په نسبت دسکون په نامه یادیږی. داچه نوموړی ګوند دلزوم په وخت کی بطی حرکت کوی دا نه شو ویلای چه ګوند بی حرکته دی .
لکه څرنګه چه :
د مادی تغیراتو په چریان کی تعادل او سکون هم شته مګر دا تعادل او سکون په دی یا هغه شی کی په چلا توګه شته دی نه په مجموعی توګه .
نو که چیری دیوه هیواد کارګری او کمونیستی ګوند دلزوم په وخت کبطی حرکت کوی نوموړی حرکت د نوری ټولی نړی ـ د کمونیستی او کار ګری ګوندونو د سرع حرکت په نسبت د سکون په نامه یادیری بیا هم نه شو ویلای چه نوموړی ګوند بی حرکته دی .
یو نفربه په نظر کی و نیسو چه نوموړی نفر په موټر کی ناست دی او موټر د حرکت په حال کی وی او نوموړی نفر هم له موټر سره یو ځای حرکت کوی نو په دی توګه د نوموړی نفر حرکت د موټر د حرکت په نسبت د سکون په نامه یادیږی .
تو هر هغه څوک چه د حرکت د مطلقیت او دسکون د نسبی والی څخه منکریږی او دسکون حالت ته بېحرکتی وائیپه دی توګه ټول د وحشی ،غدارو ،فاسدو ،زړو دړه مارو اوخوړنکو استثمارګرو طبقاتو په خدمت کی دی.

## د مادی دحرکت شکلونه

اول سوال : ۱- د مادی دحرکت د عمومیت جنبه تر مارکس پخوا ماتریالیستانو څنګه منله – دیالیکتیکی ماتریالیزم حرکت څنګه ښائی .
۲- د مادی دحرکت دشکلونو لومړنی تصنیف د چا پواسطه وشو اوڅنګه ئی وښودل ؟
۳- زمونږ معلومات د مادی دحرکت داشکالو په باره کی دکوم شی له امله غنی شویدی مثال ئی؟
داول سوال ځواب ۱- د مادی دحرکت د عمومیت جنبه تر مارکس پخوا ماتریالیستانو هم منله مګر هغوی په محدوده او متافزیکی توګه درک کوله هغوی حرکت داجسامو دتغیر او تکامل سره تړلی نه باله او زیاتره ئی حرکت دمکان د تغیر په مفهوم مانه .
دیالیکتیکی ماتریالیزم د حرکت داشکالو تنوع دهغه په میخانیکی شکل یا بل شکل کی نه محدودوی بلکه حرکت:الف- د اجسامو له تغیر اوتکامل- ب- دنوی له پیداښت –ج- اود زاړه دزوال سره تړی. په دیالکتیکی ماتریالیسم کی حرکت پراخ مفهوم لری. دحرکت اطلاق په هر راز تغیر باندی کیری تغیر په کلی توګه په ټولو جریاناتو کی شامل دی یعنی :
د مکان دساده میکانیکی تغیر څخه بیا تر ډیر پیچلی جریان پوری چه انسانی تفکر دی موجود دی.
۲- د حرکت انوع او اشکال ډیر دی دیالکتیکی ماتر یالیسم د طبیعی علومو دکامیابیو په ملاتړ د حرکت انواع تصنیفوی او دهغوی له منځه اساسی او عمده شکلونه رابیلوی .

د مادی دحرکت دشکلونو لومړنی علمی تصنیف د انګلس پواسطه وشو ده :
دمادی د حرکت شکلونه په لاندی ډول سره وښودل :
الف- میخانیکی شکل ب- فزیکی شکل . ج- کیمیاوی شکل . د- بیولوژیکی شکل . ه- اجتماعی شکل .
انګلس دمادی دحرکت هر شکل په یوی معینی مادی پوری مربوط باله(میکانیکی شکل ئی دځمکی او کیهان د اجسامو سره فزیکی شکل ئی له مالیکولونو سره او همداسی نور) دحرکت شکلونه دی .
۳- دغه تصنیف حتی تر اوسه پوری خپل علمی ارزښت ساتلی دی مګر زمونږ معلومات ددی اشکالو په باره کی د علومو دزیات پرمخ تګ له کبله غنی شوی دی مثلاً :
الف- میخانیکی شکل:- په نولسمه پیړی کی میخانیکی حرکت په عمده توګه په فضأ کی دلیدو وړ اجسامو مکانی تغیر په معنی مفهوم شوی ؤ اوس معلومه شویده چه:په فضأ کی مکانی تغیر داتم له جز څخه تر ژوندی موجود پوری د مادی دټولو انواعو خاصیت دی په حقیقت کی میخانیکی حرکت نه شی کیدای یوازی دمادی په یو نوع یعنی په لیدو وړ اجسامو پوری مربوط شی دا نوع حرکت دمادی په هر نوع کی او په هر بل حرکت کی موجود دی منتها په نورو اشکالو کی میخانیکی حرکت فرعی او تبعی جنبه لری .
ب- فزیکی شکل :- زمونږ معلومات د مادی دفزیکی شکل په باره کی ډیر پراخ او غنی شوی دی او دا ځکه چه دفزیک علم په پراخه پیمانه داتم زړه ته ور ننوتی دی اوس دفزیکی حرکت نور انواع لکه د اتم د ننه د زراتو حرکت کشف شوی دی او تر مطالعی لاندی راتلای شی داوسنیو معلوماتو په سیوری کی دفزیکی حرکت شکل پر زیاتو پدیدو باندی احتوا کیږی لکه :(حرارتی پدیدی- الکتریکی پدیدی- مقناطیسی پدیدی) داتم او هستی دننه پدیدی-هغه متعدد جرینات چه جامد،مایه او بخار رسوی) اجسامو کی له ساده اجزاوو سره د ارتباط په وخت کی پیدا کیږی، او داسی نور. . .
ج- کیمیاوی شکل :- د مادی دحرکت کیمیاوی شکل د اتمونو له تجزئی او ترکیب سره مربوط دی او دهغه په نتیجه کی مالیکولونه تشکیل او یا په خپلو متشکله اتمونو باندی تجزیه کیږی او کیمیاوی فعل او انفعال منځ ته راوړی.کیمیاوی فعل او انفعال د الکترونونو له حرکت سره ملګری دی یعنی هغه الکترونونه چه داتم پر باندینی پوستکی باندی واقع دی. کیمیاوی فعل او انفعال هم په ژوندی طبیعت او هم په غیری ژوندی طبیعت کی خورا زیات لیدل کیږی .
د- بیولوژیکی شکل :- د مادی د حرکت یو مغلق شکل بیولوژیکی حرکت دی دا حرکت هغه ټول جریانات چه په ژوندیو موجوداتو کی پیښیږی احتوا کوی دا جریانات په (البومینوئیدی)موادو پوری مربوط دی چه په دایمی توګه له خارجی محیط سره ځینی مواد مبادله کوی ددی مبادلی په نتیجه کی د البو مینوئیدی اجسامو کیمیاوی ترکیب پرلپسی نوی کیږی او داپخپله :
د ژوندی مادی ستر حصوصیت دی .
ه-داجتماعی ژوند شکل:- د مادی دحرکت ډیر عالی شکل اجتماعی ژوند او دانسانی جامعی تاریخ دی دحرکت دا شکل په کیفی او ماهیتی لحاظ دپخوانیو اشکالو سره توپیر لری او دا دانسانی ټولنی له پیداینښت سره راپیدا شوی دی ددی ژرکت یو ستر خصوصیت دمادی تولید جریان دی چه داجتماعی ژوند دټولو اړخونو ټاکونکی دی .
دویم سوال :۱- د مادی دحرکت اشکال څنګه خصوصیات لری ؟
۲- د حرکت په ماتریالیستی او دیالکتیکی درک کی کومه ستره مسئله ده ؟
د دوهم سوال ځواب : ۱- د مادی دحرکت داشکالو خصوصیات په لاندی توګه سره دی :
الف- یو له بله سره متقابل تړون او ارتباط لری.
ب- د هغوی دیوالی او متقابل ارتباط احساس دمادی جهان وحدت دی .
ج- د حرکت یو شکل کولای شی چه په معینو شرایطو کی په بل شکل بدل شی مثلاً :
میخانیکی حرکت – حرارت،صوت،نور،برق اود فزیکی حرکت نور انواع ایجادولای شی .د فزیکی جریاناتو متقابل تاثیرونه کیمیاوی تغیرات را پیدا کوی او کیمیاوی جریانات په معینو شرایطو کی ژوند منځ ته راولی . د- د حرکت په عالی شکل کی دهغو د ټیټو اشکالو نمونی هم لیدل کیږی مثلاً :
بیولوژیکی حرکت له میخانیکی،فزیکی او کیمیاوی جریاناتو سره ملګری دی .
ه- سره له دی هم نه ښائی دحرکت عالی اشکال دټیټو اشکالو په جمع کی منحصر وبولو دحرکت عالی اشکال ځانله مخصوص قوانین لری چه هغه له ټیټو اشکالو څخه بیلوی اودهغه کیفی تعین ښئی مثلاً :

د موادو د مبادلی قانونیت ژوند له بی ژونده پدیدو څخه جلا کوی په داسی حال کی چه د ژوندیو موجوداتو میخانیکی ،فزیکی اوکیمیاوی جریانات مستقله برخه نه لری بلکه :
د ژوند دستری پدیدی یعنی دموادو د مبادلی تابع دی .
۲- په دی توګه د حرکت په ماتریالیستی او دیالکتیکی درک کی ستره مسئله داسی ده چی :
الف- دحرکت عمومیت او مطلقیت مننه-
ب- دهغه دهرشکل کیفی تو پیر ته توجه کول-
ج- د حرکت داشکالو متقابل بدلون ته پاملرنه-
د- د حرکت په عالی شکل کی دهغه د ټیټو اشکالو دنمونو لیدنه-
ه- او په پای کی د ټیټو اشکالو په جمع کی دحرکت د عالی اشکالو نه منحصرول .
**خاطره :** د مادی دحرکت شکلونه په لاندی ډول سره دی:
الف- میخانیکی حرکت.ب- فزیکی شکل. ج- کیمیاوی شکل.د- بیولوژیکی شکل.ه- داجتماعی ژوند شکل په اجتماعی ژوند کی به ددی نومړو اشکالو د تطبیق په هکله یو کمونیستی او کارګری ګوند په نظر کی ونیسو :الف- میخانیکی شکل : دنومړی ګوند دتشکل لپاره دمبارزی کړنه-
ب- فزیکی شکل :په نومړی ګوند کی دجذب او دفع صورت نیول –
ج- کیمیاوی شکل : نومړی ګوند ټولنه پر طبقاتو باندی ویشی او بیا داستثمارګرو طبقاتو ترکیب ښئی او استثمارکیدونکی طبقات هم یوله بله سره ترکیبوی
د- بیولوژیکی شکل : نومړی ګوند دخلکو له پرګنو سره ژوندی پیوندونه نیسی او ګوند ژوند اخلی
ه- داجتماعی ژوند شکل : دحرکت دا شکل ډیر عالی دی اودانسانی جامعی تاریخ دی یعنی:
د کمون اولیه له ټولنی څخه د اخری کمونیزم د دوهمی مرحلی(خاصی کمونیستی مرحلی)ترغیږ کی نیولو پوری دوام لری .داهم باید ووایوچه که څه هم دکمون اولیه ټولنی ښی او ښانی په خاصه کمونیستی ټولنه لیدلی کیږی اما سره له دی نه ښائی چه د اخری کمون خاصه کمونیستی ټولنه دکمون اولیه ټولنی په جمع کی منحصره وبولوځکه چه خاصه کمونیستی مرحله ځانلره مخصوص قوانین لری چه هغه له کمون اولیه ټولنی څخه په کیفی ټوګه بیلوی نو هر هغه خوک چه دمادی دحرکت له لومړنیو اشکالو څخه منکریږی او یا دحرکت په عالی شکل کی دټیټ شکل دځینو ښنو او نمونو په لیدلو سره عالی شکل په ټیټ شکل پوری منحصر بولی اویا دمادی دحرکت دشکلو له نورو نومړو خاصیتونوڅخه منکریږی په دی توګه ټول د استثمارګرو طبقو په خدمت کی دی .

## د هغو کسانو په باره کی چه ماده او حرکت یو له بله سره بیلوی

اول سوال ۱-ایا داسی کسان شته چه دمادی په باره کی جلا له حرکته فکر وکړی او ماده له حرکته بیله وبولی مثال ئی- او د جهان د حرارتی مرګ د تیوری طرفداران دکوم شی په وسیله کومی نتیجی ته رسیږی ؟
۲-نومړی تیوری دچا له خوا رد شوه او اید یالیستان اوس څه کوی-او دجهان دحرارتی مرګ تیوری له علمی نظره څنګه ده او دمادی دبقا او انرژۍ د تبدل قانون له مخی حرکت څنګه دی ؟
۳-د نجوم علم وروستنی پرمختګونه څنګه ښائی ؟
داول سوال ځواب:۱- په مخکی وویل شول چه ماده نه شی کولای بېحرکته او منجمده وی،ماده او حرکت نه بیلدونکی دی هو ! سره له دی داسی کسان شته چی دمادی په باره کی جلا له حرکته فکر کوی او ماده له حرکته بیله وبولی دمثال په توګه :
له هغی له جملی څخه په اصطلاح د جهان د حرارتی مرګ دتیورۍ طرفداران دی چه دعلمی معلوماتو په سرچپه کولوسره دجهان راتلونکی(پای)اودمجوداتو د(زوال)په باره کی خبری کوی.
هغوی دغه علمی واقعیت دخپل فکر مبدأ ګرزوی چه د انرژۍ ټول انواع په اسانۍ سره په حرارتی انرژی بدلیږی مګر دهغی دعکس بدلول له معینو مشکلاتو سره ملګرتیا لری اود اضافی انرژی دمصرف ایجاد کوی هر خوک پوهیږی چه که هر ګرم جسم په داسی یوه محیط کی کېږدی چه تر دی جسم ټیټ حرارت ولری هغه جسم خپل حرارت بایلی او سړیږی.
د چهان دحرارتی مرګ دتیورۍ طرفداران په ټول جهان باندی دفزیک ددی اصولو دپراخولو په وسیله دی

نتېجې ته رسیږی چه :سماوی اجسام د زمانی له تیریدو سره خپل ټول حرارت دکیهان سړی فضأ ته لیږی او که دا سمه وی نو جهان اخر د(حرارتی تعادل)،( حرارتی مرگ)حالت ته رسیږی . دمادی دحرکت ټول شکلونه حرارتی شکل مومی چه نور نو په نورو شکلونو بدلیدای نه شی پدی توگه ماده عاقیبت خپل د حرکت خاصیت بایلی .
۲- سره له دی چه دا تیوری په خپل وخت کی دانگلس له خوا انتقاد او رده شوه خو ایدیالیستان او روحانیون همدا اوس هم دهغه دفاع کوی تر څو د(ددنیا اخرکیدلو)افسانی ته (دلیل)پیدا کاندی .
د جهان دحرارتی مرگ تیوری د علمی نظره خورا بی بنیاده ده او دا تیوری دمادی دبقا او انرژۍ دتبدیل قانون ته پاملرنه نه کوی چه دهغی په بنأ حرکت نه یواړی له کمی لحاظه بلکی له کیفی لحاظه هم له منځه ځخه نه ځی.حرکت نه شی کولای چه یوازی په یوه شکل کی وجود ولری داځکه چی دا کار له نوموړی قانون سره مخالف دی همدا راز ماده نه شی کولای چه دسکون په حال کی وی یعنی په داسی یوه حالت کی چه په هغه کی دحرکت تبدیل له یوه شکل نه بل شکل ته تیریدل متوقف شی.
د حرکت دشکلونو تبدیلی هومره طبیعی او قانونی کار دی لکه دحرکت دکمیت بقأ چه ددی تبدلاتو په چریان کی دی .
۳- دنجوم دعلم وروستی پرمختگونه ښئی چه دمادی بی انتها حرکت حتی یوه شیبه هم توقف نه مومی دکیهانی فضأ په ځینو برخو کی ماده او انرژی دگډوډۍ سره ځیرمه وی مگر په نورو برخو کی نوی تمرکز پیدا کوی او دنویو اسمانی اجسامو اغاز گرځی . (امبادسومیان)شوروی پوه جوته کړه چه زمونږ په زمانه کی نوی ستوری منځ ته راځی هغه هم نه یوازی په انفرادی توگه بلکه په اجتماعی او ډله ایزه توگه او دا پخپله ددی دلیل دی چه د مادی دسکون حالت موجود نه دی .
**خاطره :**د جهان د حرارتی مرگ دتبوری طرفداران چه دمادی دبقأ او انرژۍ دتبدیل دقانون څخه سرونه غړوی او وائی چه :د علمی واقعیت له مخی سماوی اجسام دزمانی له تیریدو سره خپل ټول حرارت د کیهان سړی فضأ ته لیږی او که دا سمه وی چهان اخر د(حرارتی تعادل)،(حرارتی مرگ) حالت ته رسیږی دمادی دحرکت ټول شکلونه حرارتی شکل مومی چه نور نو په نورو شکلونو باندی بدلیدای نه شی په دی توگه ماده عاقیبت خپل دحرکت حاصیت بایلی حرکت په یوه حرارتی شکل کی پاتی کیږی اوماده دسکون په حال راځی یعنی په داسی یوه حالت کی چه په هغه کی د حرکت تبدیلی له یوه شکل نه بل شکل ته تیریدل متوقف شی په دی توگه : ټول دخونخوارو او غدارو استثمارگرو طبقاتو په خدمت کی دی .
دوهم سوال :۱- د انرژیتیسم دمکتب نمایندگان په کوم شی باندی باور لری اودانرژیتیسم اوسنی طرفداران دکوم شی په لور ولاړ دی ؟
۲- د انرژیتیسم بی بنیادی کوم قانون څنگه بالکل ثبوت ته رسوی ؟
۳- د پورتنۍ وینا څخه کومه نتیجه په لاس راځی ؟
ددوهم سوال ځواب :۱- ښئائی داسی تصور وشی چه حرکت پرته له مادی حامل څخه وجود لری داهغه نظر دی چه د انرژیتسم نمایندگان باور پری لری .
انرژیتیسم په فلسفه او طبیعی علومو کی داسی جهت دی چه د نولسمی پیړۍ په پای او دشلمی پیړۍ په شروع کی منځ ته راغلی دی هغوی دمادی له منلو څخه غاړه غړوی یوازی انرژی او حرکت منی دا پخپله سوچه ایدیالیسم دی .
د انرژیتیسم اوسنی طرفداران د ایدیالیسم په لوری په ټینگار سره ولاړ دی دوی دعلمونو د ډیرو نویو پرمختگونو دماهیت دقبلولو له لاری دمادی د(محو)او نابودی اوپه خالصه انرژۍ باندی دهغی دبدلیدو په باب خبری کوی. مثلاً :
دوی دغه واقعیت چه د جسم اجزأ دالکترون او پوریترون په فوتون یعنی الکترومقناطیسی میدان په اجزاوو (نور) بدلیږی په ایدیالیستی توگه تفسیروی .
دوی نور دخاصی انرژۍ په حیث یعنی بی مادی انرژی او جسم یوازی دمادی دنوعی په څیر پیژنی او دی اشتباهی نتیجی ته رسیږی چه په نوموړی تبدل کی ماده نابوده او په انرژۍ بدلیږی .مگر مونږ اوس پوهیږو چه فوتون دمیدان داجزاوو په جمله کی دی اومیدان په خپله دمادی یو نوع دی نو بنا پر دی دالکترون  او پوزیترون تبدیلی په فوتون سره ماده په انرژی نه بدلیږی بلکه یو نوع ماده یعنی جسم په یو بل ډول ماده سره چه میدان نومیږی تغیر دشکل مومی .

۲- د عصری فزیک دبری او تر هرڅه دمخه دجرم او انرژۍ متقابله رابطه چه د شلمی پیړۍ په سر کی کشف شوه د انرژیتیسم بی بنیادی بالکل ثبوت ته رسوی له دی قانون سره سم جرم تل له یوی ټاکلی اندازی انرژی سره تړلی دی داتړون په لږ ساعت کی نه شی ښودل کیدای .
مګر : کله چه جسم نږدی دنور سرعت ته حرکت کوی او دا سرعت داتم په اجزاوو کی دهغه دهستی دتبدلاتو په وخت کی منځ ته راځی دجرم زیاتیدل لیدل کیږی . دجرم تغیر دتجربی له مخی هم دحرکت له سرعت سره متناسب تائید شوی دی لاکن جرم دمادی مقیاس او انرژی دحرکت مقیاس دی بنا پر پورتنی قانون دانرژی او مادی د یوالی مستقیمه رابطه ښئی .
۳- د پورتنۍ وینا نتیجه داشوه چه ماده بی له حرکته او(خالص)حرکت پرته له مادی څخه وجود نه لری او نه ئی درلودلای شی ماده او حرکت بیلتون نه منونکی دی .
**خاطره :** د انرژیتیسم د مکتب نمایندګان چه : چه له میدانی مادی څخه انکار کوی یوازی انرژی او حرکت منی یعنی دجسم داجزاوو د الکترون او پوزیترون په فوتون یعنی الکترون مقناطیسی میدان په اجزاوو (نور)تبدیلول په ایدیالیستی توګه سره تفسیروی یعنی نور دخالصی انرژۍ په حیث(بی مادی انرژی) او جسم یوازی دمادی دنوع په څیر پیژنی په نوموړی تبدل کی د مادی نابودول او دهغی په انرژۍ باندی بدلول ښئی – جرم دمادی دمقیاس او انرژی د حرکت دمقیاس په توګه نه ښئی او ماده بی له حرکت او حرکت پرته له مادی څخه ښئی په دی توګه :
ټول د استثمارګرو طبقاتو په خدمت کی دی .

## مکان اوزمان

### دمکان او زمان فلسفی مفهوم

اول سوال:۱-ایا زمونږ ګردچاپیره اشیا یوازی حرکت لری او دمکان فلسفی مفهوم څه دی ؟
۲- ایا اشیا یوازی په مکان کی واقع دی- دزمان فلسفی مفهوم څه دی- ستر ولادمیر ایلیچ لنین دمادی دحرکت په باب بی له مکان او زمان څخه څه ویلی دی اودمکان اوزمان یوسترمهم خصوصیت کوم دی ؟
۳- ایدیالیسم دمکان او زمان په باب څه وائی او ستر لنین دمکان او زمان په باره کی څه وښودل ؟
ځواب :۱- زمونږ ګرد چاپیره اشیا نه یوازی حرکت لری بلکه:
الف- بعد او اندازه هم لری .
ب-دا اشیا ځینی لوی اوځینی واړه دی مګر ټول سور ،اوږدوالی او لوړوالی لری.
ت- یو معین ځای په فضأ کی نیسی یا په بل عبارت دحجم لرونکی دی .
ث- ځینی ئی مونږ ته تر نورو نیږدی دی او ځینی ئی ترنورو پاس ،ښکته یا ښی یا کیڼ خواته دی .
د مکان فلسفی مفهوم دادی چه :
الف- مادی اچسام بعد لری .
ب- معین ځای نیسی .
ج- نسبت یوه او بل ته په متفاوتو ځایونو کی واقع شوی دی .
۲- اشیا نه یوازی :الف- په مکان کی واقع دی بلکه :
ب- تر یوه معین نظم او ترتیب لاندی یو په بل پسی راځی .
ت- یوه برخه ېی دځینو نورو ځای نیسی-
ث- او ځینی نور ئی خپل ځای نورو ته پریږدی-
ج- او تر پایه همدا شان هر شی په یوه ټاکلی زمانه کی پاته کیږی –
ح- بنا پر دی شروع او پای لری –
خ- د هر یوه په تکامل کی کیدای شی معین مراحل ، ټاکلی حالات تشخیص شی .
د- ځینی اشیا اوس راپیدا کیږی-
ذ-ځینی له ډیری مودی راهیسی پیدا شوی دی-
ر- ځینی ئی د زوال او نابودی په حال کی دی –
د زمان فلسفی مفهوم دادی چه :
الف- راز راز پدېدی یو په بل پسی راځی-
ب- یوه زمانه پائی-

ج- او دهغوی تکامل په یو لړ مرحلو کی بشپړیږی .
مکان او زمان د مادی د موجودیت عمومی شکلونه دی ستر ولادمیر ایلیچ لنین یادونه کوی چه :
(په جهان کی هیڅ شی بی له مادی دحرکت په حال کی شته والی نه لری ماده دحرکت په حال کی بی له مکان او زمان څخه حرکت نه شی کولای) .
دمکان او زمان یو ډیر مهم خصوصیت د هغوی عینیت دی یعنی له انسانی شعور څخه دهغوی استقلال دا بالکل طبیعی ده ځکه چه هغوی دمادی اساسی شکلونه دی چه په عینی توګه شته دی بنا پر دی نه شی کیدای چه مکان او زمان دی عینی نه وی .
۳- ایدیالیسم دمکان او زمان له عینیت څخه انکار کوی ذهنی ایدیالیستان پردی ولاړ دی چه مکان او زمان د مطلقی ایدیا او جهانی روح زیږنه ده
ستر ولادمیر ایلیچ لنین د مکان او زمان په باره کی د ایدیالیستانو د نظریاتو بی بنیادی پخپل (ماتریالیسم او امپریو کریتیسیسم) نومی اثر کی وښوده د ستر لنین په قول :
که د ایدیالیستانو دا نظر ومنو چه زمان او مکان یوازی دانسانی عقل محصول دی نو څنګه کیدای شی چه : دا علمی ثابت شوی حقیقت توضیع کړو چه ځمکه د انسان له پیدایښت ډیره د مخه په زمان او مکان کی موجوده وه مګر دا حقیقت نه دی ؟ چه ځمکه میلیاردونه کلونه عمر لری او اوسنی انسان یوازی څوار لس زره کاله !
روښانه ده چه : دزمان او مکان له ایجاد او موجودیت څخه دانسان او یا مطلقی ایدیی او جهانی روح پواسطه هیڅ خبره نه شی کیدای .
**خا طره : په اجتماعی ژوند کی :** زمونږ ګرد چاپیره ټولنی نه یوازی حرکت لری بلکه بعد او اندازه هم لری دا ټولنی ځینی لوئی او ځینی کوچنۍ دی- یو معین ځای ئی نیولی دی- ځینی یی مونږ ته را نیږدی دی او ځینی ئی تر مونږ ښی اویا کیڼی خواته – ښکته او یا پورته دی لکه :لکه شمالی یا جنوبی-شرقی اویا غربی خواوو ټولنی .
د مکان او زمان اجتماعی مفهوم دادی چه : ټولنی بعد لری معین معین ځایونه نیسی او نسبت یوی او بلی ته په متفاوتو ځایو کی واقع شوی لکه : سوسیالیستی ټولنی- خلقی او دیمو کراتیکی ټولنی- بورژوازی ټولنی او فیوډالی ټولنی چه یوه ئی په یوه ځای،بله ئی په بل ځای اوبله ئی په بل ځای او داسی نورو ځایونو کی واقع شوی دی . ټولنی هم نه یوازی په مکان او زمان کی واقع دی بلکی تر یوه معین نظم او تربیت لاندی یوه په بله پسی راځی لکه :بردګی په کمون اولیه پسی ، فیودالی په بردګی پسی او داسی نوری په نورو پسی راځی . همدارنګه یوهیرو چه دځینو نورو ځای نیسی اوځینی نوری خپل ځایونه نورو ته پریږدی او تر پایه همدا شان هره ټولنه په یوه ټاکلی زمانه کی پاتی کیږی او بنا پر دی شروع اویا پای لری دهری ټولنی په تکامل کی کیدای شی معین مراحل ،ټاکلی حالت تشخیص شی لکه :بردګی د کمون اولیه او فیو دالی د کمون اولیه ځای نیسی او داسی نوری او کمون اولیه بردګی ته او بردګی فیو دالی ته او داسی نوری نورو ته خپل ځایونه پریږدی . او همدارنګه ځینی سوسیالیستی ټولنی اوس راپیدا کیږی او ځینی ئی لا پخوا پیدا شوی دی او ځینی نوری ئی لکه فیودالی او سرمایداری ټولنی د زوال او نابودۍ په حال کی دی .
د زمان اجتماعی مفهوم دادی :چه راز راز ټولنی یوه په بله پسی راځی یوه زمانه پاته کیږی او دهغوی تکامل په یو لړ مرحلو کی بسپړیږی .
د اجتماعی ژوند له پله هم د مکان او زمان یو ډیر مهم خصوصیت د هغوی عینیت دی یعنی له انسانی شعور څخه دهغوی اسقلال .
یعنی انسان نه شی کولای چه تاریخی ټولنی تل تر تله په خپل حال باندی وساتی او یائی په شا وګرځوی او یا هغوی ته په خپله خوښه سره د هغوی د ټاکلیو قانونمندیو له په نظر کی نیولو څخه پرته تکامل ورکړی . نو هر هغه څوک :چه د پورتنی خاطری په چوکاټ کی د پورتنۍ وینا له اجتماعی اوطبیعی تطبیق څخه انکارکوی په دی توګه ټول د وحشی او درنده استثمارګروطبقاتو په خدمت کی دی
دوهم سوال:۱- دیالکتیکی ماتریالیزم دزمان او مکان عمومی خواص څنګه روښانه کوی مثالونه ئی ؟ اود مکان مخصوص خصو صیت کوم دی ؟
۲- له څه سببه ټول اجسام د زمانی له لحاظه یوه لوری ته تکامل کوی- د غرب ارتجاعی سیاسیون څه نه غواړی او څه هڅه کوی ؟ ۳- ایا د تاریخ بهیر راکرځیدونکی دی ؟

د دویم سوال ځواب :۱- دیالکتیکی ماتریالیسم دزمان او مکان دعینیت له ښوونی سره سم دهغوی نور عمومی خواص هم روښانه کوی یعنی هغه خواص چه د مادی له خپل سرشت څخه راپیدا کیږی .
الف- مثلاً د مادی ابدیت او پای نه لرل د زمان ابدیت او دمکان دپای نه لرلو ایجاب کوی په بل عبارت زمان او مکان شروع نه لری او هیڅکله به پای هم و نه لری .
ب- معاصره پوهنه په ناپایه فضأ کی نفوذ کوی او ستر واټنونه وینی مثلاً : دنجوم پوهان د پیاوړو رادیوتلسکوبونو په مرسته هغه مادی اجسام تر مطالعی لاندی نیسی چه :د ځمکی څخه ملیاردونه نوری کلونه فاصله لری که دی خبری ته پام وکړو چه نور په یوه ثانیه کی دری سوه زره کیلو متره سرعت لری نو : د یوه ملیارد نوری کال فاصله به برابره شی د(۹.۵)له رقم سره چه په مخکی ئی ۲۱ صفرونه کیښودل شی.که څه هم دغه ستر واټن له تصور نه وتلی دی خو سره له دی بی پایانه جهان په مقیاس کی یو کوچنی او ناچیزه رقم ښکاری .
همدا راز هغه د ملیاردونو کلونو ستره زمانی فاصله چه معاصره ځمکه پیژندنه کار ورسره لری نسبت دجهان ابدیت ته خواره کوچنی رقم دی.
۲- دمکان مخصوص خصوصیت د مادی دموجودیت دشکل په توګه د دریو بعدونو لرل دی په دی معنی چه هر مادی جسم دری بعده لری. سور ، اوږدوالی ، لوړوالی . او دا بعدونه کولای شی چه په دریو جهتونو کی یو پر بل باندی عمود حرکت وکړی .
پر دا بله خوا زمان یوازی یو اندازه ګیری لری له همدی سببه : ټول اجسام د زمانی له لحاظه :
الف: یو لوری ته تکامل کوی له ماضی نه مستقبل ته –
ب : زمان هیڅکله بیرته نه راګرزی او یوازی پر مخ ځی –
ج : د شا په خوا د زمان بیرته را ګرزول یعنی د ماضی بیرته راګرځول هیڅ امکان نه لری .
د غرب ارتجاعی سیاسیون نه غواړی له دی روښانه حقیقت سره پخلا شی –
دوی هڅه کوی چه د تاریخ څرخ بیرته په شا وګرځوی-
- د سرمایداری بشپړه مسلطه دوره د تل لپاره وساتی .
۳- اما : الف : دتاریخ بهیر نه را ګرځیدونکی دی- ب : دشلمی پیړی جهان نور دنولسمی پیړی جهان نه دی. ج : اوس بله زمانه ده او دنړی پرمخ د قوتونو تناسب بدل شوی دی . د : په معاصر جهان کی د سوسیالیزم پیاوړی قوت موجود دی . او دا قوت : الف- د سولی او عدالت ساتنه کوی .
ب- دا قوت به امپر یالیستانو ته اجازه ور نه کړی چه د خلکو حقوق تر پښو لاندی کړی .
همدا دی د زمان او مکان تر ټولو عمومی خواص .
**خاطره :**څرنګه چی : ماده ، زمان او مکان ابدی دی شروع او پای نه لری او هیڅکله به ئی ونه لری .
- ټولنی د زمانی له لحاظه یوه لوری(له ماضی) نه مستقبل)ته تکامل کوی زمان هیڅکله په شا نه ګرځی یوازی پر مخ ځی د شا په خوا دزمان بیرته را ګرځول یعنی دماضی بیرته راګرځول هیڅ امکان نه لری – دتارخ بهیر نه راګرځیدونکی دی – د شلمی پیړی جهان نور د نولسمی پیړی جهان نه دی- اوس بله زمانه ده او دنړی پر مخ د قوتونوتناسب بدل شوی دی او په معاصره ټولنه کی د سوسالیزم پیاوړی قوت موجود دی دا قوت :
د سولی او عادالت ساتنه کوی او هیڅکله امپر یالیستانو ته اجازه نه ورکوی چه د خلکو حقوق تر پښو لاندی کړی نو :
د فیودالیزم او بورژوازی پټ او څرګند نمایندګان او همدارنګه د غرب ارتجاعی سیا سیون چه له نوموړی وینا څخه انکا کوی او نه غواړی چه له دی روښانه حقیقت سره پخلا شی او هڅه کوی چه د تارخ څرخ بیرته په شا و ګرځوی او د فیودالیزم او سرمایداری توری توری فاسدی او خونخواری بشپړی مسلطی دوری چه د تل لپاره تیری شوی دی بیرته را وګرځوی په دی توګه ټول د استثمارګرو طبقو په خدمت کی دی .

## د زمان او مکان په باره کی د طبیعی علومو تصورات

اول سوال : ۱- باید دکومو شیانو په منځ کی فرق وشی – د علومو دتکامل په جریان کی څه کیږی مثال ئی او نیوټن څوک وه او څه عقیده ئی درلوده ؟
۲- د ریاضی مشهور روسی پوهاند لوباچفسکی څه وښودل ؟

۳- دزمان او مکان په باره کی اوسنۍ علمی تیوری کومه تیوری ده – د چا په وسیله منځ ته راغلی ده او دا تیوری څه ښئی ؟ او زموږ علمی خبرتیا د زمان او مکان د خوا صو په باره کی څنګه ده ؟
ځواب : ۱- باید دمادی دموجودیت د عمومی اشکالو په حیث دزمان او مکان فلسفی مفاهیمو او زموږ دهغه علمی معلوماتو تر منځ چه د مشخصو مادی اشیاوو د زمانی او مکانی خواصو په باره کی ئی لرو فرق وشی . دعلم دتکامل په جریان کی دا معلومات :
الف- تکامل مومی .
ب – دقیق کیږی .
ج – نوی خواص دزمان او مکان له پاره کشفیږی –
د – او ددی خواصو تړون نسبت د اجسامو مادی طبیعت ته لا زیات مشخص کیږی . مثلاً :
کلاسیک میکانیک د زمان او مکان د عینیت له منلو سره سره هغوی له مادی څخه جلا ګڼی او مطلق ئی یو شان او تغیر نه منونکی بولی .
ددی میکانیک بنسټ ایښودونکی مشهور انګریزی عالم نیوټن (۱٦٤۲- ۱۷۲۷) مکان یوه ستره فضأ تصور کړی وه چه په هغه کی اشیا په یوه ټا کلی نظم او ترتیب واقع شوی دی مګر پخپله د اشیأ له مکان سره هیڅ راز رابطه نه لری .
نیوټن عقیده لرله چه : د ټولو جهانی اجسامو مکانی خواص یو راز دی او دا ټول خواص داقلیدس په هندسه کی (هغه هندسه چه موږ تر ټولو په منځنیو ټولګیو کی لوستی ده)ځای کړل شوی دی د نیوټن په نطر کی د اقلیدس هندسه یوازینۍ مطلقه اوممکنه هندسه وه دنیوټن نظریات دزمان په باره کی هم همدا راز متافزیکی وو .
۲- د ریاضۍ مشهور روسی پوهاند لوباچفسکی(۱۷۹۲- ۱۸۵٦)د اقلیدس له هندسی نه پرته بله هندسه تدوین کړه او دهغی پواسطه ئی دمکان په باره کی میتافزیکی نظریات رد کړل او زموږ معلو ماتو ته ئی داجسامو د مکانی خواصو په باره کی پراختیا ور کړه .
لوباچفسکی دی نتېجی ته ورسیدی چه :
الف- د مکان خواص د نړۍ په بیل بیلو برخو کی یوراز نه دی –
ب-ده عقیده لرله چه په طبیعت کی داسی اجسام پیدا کیږی چه دهغوی مکانی خواص داقلیدس د هندسی په چوکاټ کی نه ځایږی .
ج- ده نوی خواص وځیړل او دائی وښودل چی :
دیوه قایم الزاویه مثلث دزاویو مجموعه په ځینو سطحو کی یوسل اتیا درجو ته نه رسیږی بلکی تر دی کمه دی .
۳- اوسنۍ علمی تیوری د زمان او مکان په باره کی دنسبیت تیوری ده چه :
ستر معاصر فزیک پوهاند انشتین (۱۸۷۹- ۱۹۵۵)په وسیله منځ ته راغلی ده دا دنسبیت تیوری :
الف- د زمان او مکان رابطه یو له بله سره او له مادی سره د حرکت په حال کی ښئی .
ب- د نسبیت خاصه تیوری داجسامو د مکانی او زمانی خواصو مربوطیت نسبت د حرکت سرعت ته ښئی په هغه شرایطو کی چه سرعت نسبتاً لږ وی دا مربوطیت څرګند نه وی مګر د نور سرعت په نږدی سرعتونو کی ددی مربوطیت څرګندول عملاً امکان مومی .
ت- دا تیوری ښئی چه د نور سرعت ته په نږدی سرعتونو کی دخوځیدونکو اجسامو اوږدوالی د سرعت له زیاتیدو سره ډیرږی ضمناً زمان هم بی تغیره نه پاتی کیږی دسرعت دزیاتیدو سره د زمان جریان پڅ کیږی . تجربه دنسبیت دتیوری ددی نتېجی ګیرۍ ملاتړ کوی مثلاً :
مزون(چه د اتم دهستی دچاودنی په وخت کی راپیدا کیږی یوه لنډه زمانه پاته کیږی مګر : که دغه د حرکت سرعت زیات کړل شی د مزون ژوند اوږدیږی )
ث- د نسبیت د تیورۍ پر اساس زمان او مکان یو له بله ندی جلا بلکی یو له بله سره په نه شلیدونکی ارتباط کی تغیر مومی دا ارتباط دومره نږدی دی چه زمان او مکان یوه واحده مجموعه تشکیلوی او زمان د دریو بعدونو برخه بشپړه او دڅلرم بعد ځای نیسی .
ج- د نسبیت عمومی تیوری ښئی چه د زمان او مکان خواص د مادی دجرم سره تړون لری دهغو اجسامو په اړخ کی چه ستر جرم او دجازبی لوی طاقت لری مکان تغیر مومی او دفزیک په اصطلاح کږیږی له دی سره متناسیب زمان هم تغیر مومی .

د- د نسبیت د تیوری نتایج په لومړی ګام کی دزمان او مکان په باره کی زمونږ د عادی معلوماتو متناقص ښکاری مګر دا داسی حقایق دی چه علمی تجربی دهغوی ملاتړ کوی دا ددی لپاره حیرانونکی او غیر عادی ښکاری چه د طبیعت په پوهیدو کی نه ښائی په هغو معلوماتو او تصوراتو قناعت وکړو چه مونږ ور سره روږدی شوی یوبلکه :تل باید پرمختګ وکړو اوزیات ژور شو او دمادی جهان تنوع او پیچلتوب روښانه کړو .زمونږ علمی خبرتیا دزمان او مکان د خواصو په باره کی تغیر منونکی دی خو دا دتغیر قابلیت هیڅکله د دیالکتیکی ماتریالیزم دا حکم چه هغوی عینیت لری نه ردوی برعکس هرنوی علمی برید دزمان او مکان عینیت او د هغوی سره دمادی او حرکت د نه شلیدونکی ارتباط ملاتړ کوی .

**خاطره :** د نسبیت د تیوری تطبیق په اجتماعی ژوند کی :

یو ګوند به په نظر کی ونیسو : د یوه ګوند دمکانی او زمانی خواصو مربوطیت نسبت د حرکت سرعت ته ښودل کیږی په هغو شرایطو کی چه سرعت نسبتاً لږ وی دا مربوطیت څرګند نه وی که چیری نومړی ګوند په اګاهانه او واقعبینانه توګه سره تیز حرکت وکړی داوږدی مودی لپاره د نومړی ګوند په خپل حال باندی پاتی والی کمیږی او له ټیټ حالت څخه لوړ حالت ته ځی. ضمناً زمان هم بی تغیره نه پاته کیږی دسرعت له زیاتیدو سره دزمان جریان هم پڅ کیږی یعنی ګوند په لږه زمانه کی ډیره فاصله وهی او عمر ئی ډیریږی .او همدارنګه زمان اومکان یوله بله څخه جلا نه دی بلکی یو له بله سره په نه شلیدونکی ارتباط کی تغیر مومی .

- دزمان او مکان خواص دنومړی ګوند له کمی او کیفی قوی توب او غښتلتوب سره تړون لری په هره اندازه سره چه نومړی ګوند ستر کمی او کیفی قوت او دجازبی لوی طاقت ولری په همغه اندازه د نومړی ګوند مکان هم تغیر کوی یعنی له ټیټ حالته څخه لوړ حالت ته ځی او له دی سره متناسب زمان هم تغیر مومی یعنی نومړی ګوند په لږه زمانه کی ډیره فاصله لنډوی او عمر ئی ډیریږی .

نو هر هغه څوک چه :

د نومړی وینا له اجتماعی او طبیعی تطبیق څخه انکار کوی- دزمان او مکان عینیت نه منی، دزمان او مکان خواص تغیر منونکی نه بولی ، دزمان او مکان رابطه یو له بله سره او له مادی او ټولنی سره دحرکت په حال کی نه ښئی ، زمان او مکان یو له بله څخه جلا بولی،د دوی تغیر یوله بله سره په نه شلیدونکی ارتباط کی نه ښئی ، دطبیعت په پوهیدو کی په هغو معلوماتو او تصوراتو قناعت کوی چه مونږ ورسره روږدی شوی یو ،دطبیعت په پوهیدنه کی نه غواړی پرمختګ وکړی ،دطبیعت په پوهیدنه کی نه غواړی ژور شی او دمادی جهان تنوع او پیچلتوب په طبیعت او اجتماعی ژوند کی نه روښانه کوی په دی توګه : ټول د وحشی ، درنده ، خیرونکو ، بی رحمه ، داړه مارو او وینو زبیښونکو استثمارګرو طبقاتو په خدمت کی دی .

# خلورم فصل

# ماده او شعور

۱- په تیرو فصلونو کی مو څه زده کړل ،څه مو ولیدل او اوس به څه وګورو ؟

ځواب : په تیرو فصلونو کی مو زده کړه چه : ماده څه ده او دهغی موجودیت کوم دی دمولیدل چه ماده د انسان له شعور څخه د باندی او د ده له شعور څخه مستقله ده اوس به وګورو چه شعور څه دی او د مادی سره څه اړه لری او چرنګه منځ ته راځی ؟

**شعور د مادی د خاصیت په توګه چه د خپل جوړښت په عالی مدارجو کی ده**

اول سوال: ا-د شعور دماهیت په هکله له خبرو کولو څخه پخوا باید کومه خبره په یاد وساتو او د نومړو پدیدو ماهیت څه دی او دهغو منبع چیری ده؟

۲- طبیعی علومو او فلسفی څه کړی دی،عصری علوم څه ښئی ، او روسی فیزیولوژیستانو سیچنف او پاولف څنګه ثابته کړه ؟

۳- ایا یوازی ماغزه د شعور د پکار اچولو د پاره کافی دی ، ایا ماغزه دا قدرت لری چه یوازی بی له دی چه خارجی دنیا په هغه تا ثیر وکړی مستقل فکر وکړی ، ایا ماغزه یوازی د فکر کولو توان نه لری او دانسان شعور د مادی څنګه خاصیت دی ؟

د اول سوال ځواب : ۱- لومړۍ تر هغې چه د شعور د ماهیت په باره کې خبرې وکړو باید دا په یاد وساتو چه :فکر ، احساس ، اراده ، انساني تصورات ، نظریات او نور ټول دانسان د شعور او معنوی فعالیت په محیط کې دی .
۲- طبیعي علومو او فلسفې ډیره اوږده او پیچلې لار وهلې ده تر څو چه نوموړی پوښتنی ته( دنوموړو پدیدو ماهیت څه ده او دهغوی منبع چیری ده؟)صحیح ځواب ورکړی .عصري علوم ښئی چه :
الف- شعور دمادی د اوږدی ودی او تکا مل نتیجه ده-
ب- مادی طبیعت تل وجود درلود خو انسان د مادی دنیا د ودی د وروستنۍ دوران ثمره ده-
ج- ددی لپاره چه د مادی تکامل په اثر داسی انسان پیدا شی چه فکر او عقل ولری په ملیونونو کالونه لازم وو-
ج- شعور د طبیعت محصول دی دمادی خاصیت دی خو د هری مادی نه ، بلکې دهغې مادی چه دخپل جوړښت په عالي مدارجو کی ده دغه ډول ماده د انسان ماغزه دی .
هـ - شعور چه د مادی دتکامل ثمره ده له مادی سره نه شلیدونکی ارتباط لری شعور له هغې مادی څخه چه د فکر کولو توان ولری(ماغزه)نه بیلیدونکی دی دا ځکه چه د همدی ډول مادی خاصیت همدغه دی .روسی فیزیو لوژیستانو سیچنف(۱۸۲۹- ۱۹۰۵)او پاولوف(۱۸٤۹- ۱۹۳٦)ثابته کړه چه :هر روحی فعالیت اساساً په ټاکلیو فیزیولوژیکی جریاناتو پوری چه د انسان په ماغزو اوپه تیره بیا دماغزو د دونیمو کرو خارجی قشر کی تیریږی اړه لری که دانسان :ماغزو عادی فعالیت وران شی او دناروغۍ په اثر ماغزه څه توان ووینی او یا کوم دروند ګذار پری راشی او یا نور علل ولری نو دانسان فکری فعالیت وران او د ده مشاعر ګډوډ شی .
پاولوف : د خپلو ډیرو تجربو په اثر دی نتیجی ته وریده چه:(روحی فعالیت د ماغزو دټاکلی برخی فیزیولوجیکی فعالیت ثمره ده)دعصبی عالی فعالیت په برخه کی د(پاولوف)ښوونه دډیالیکتکی ماتریالیسم د اساسی حکم څه شعور له مادی څخه پیدا کیږی تائیدوی او داخرګندوی چه ماغزه او په هغه کی د فیزیولوجکی عمل جریان دانسانی شعور اساس او دفکری فعالیت مادی شرط دی .
۳- پاولوف وائی چه :
الف- ماغزه دپیانو په ډول نه دی چه له هغوی څخه ډول ډول ترانی راویستلی شی-
ب- شعور له مادی محیط سره چه انسان پکی اوسی نه شلیدونکی ارتباط لری او ددی محیط له تاثیراتو څخه بیل کار نه شی کولای .
ت- د لیدلو ، بویولو ، اوریدلو او نور حسونه یوازی د عینی شیانو تر تاثیر لاندی موجود او رنګ ، بوی ،اواز او نور خواص ئی په ماغزو کی پیداکیږی دغه شیان او دوی خواص دخواصو پرغړو تاثیر کوی .
ث- وروسته چه کوم تحریک له نوموړی پلوه انسانته رسیږی د اعصابو له لاری دماغزو دسترو نیمو کرو د خارچی قشر ته ورلیږی او هلته وړ او متناسب احساسونه منځ ته راځی .
ج- د دغو احساسونو په اساس دفکر ډول ډول اشکال لکه تصورات او نور مفاهیم منځته راځی.
د- دغه ټول داسی صورتونه دی چه د عینی شیانو او پدیدو د موجودیت لږ یا ډیر دقیق اعکاس دی بیله دی شیانو او پدیدو له موجودیت څخه دغه صورتونه د انسان په شعور کی نه شی موندل کیدای .
هـ- له دی څخه داسی نتیجه لاس ته راځی چه د شعور خصوصیت مادی دنیا د انعکاس په قابلیت کی دی په دی ډول ددی پوښتنی ځواب چه د شعور د ماهیت په باره کی لومړۍ مطرح شوه داسی ویل کیدای شی چه : دانسان شعور دمادی داسی خاصیت دی چه مادی واقعیت منعکسولای شی (پخپله مغزه داسی ماده ده چه د عالی مدارجو په جوړښت کی ده) .
**خاطره :**<u>په اجتماعی ژوند کی</u>:
د خلکو ماغزه له ګوند او دګوند ماغزه دګوند له رهبرۍ څخه عبارت دی .
شعور درهبرۍ دهغه خاصیت څخه عبارت دی چه ټولنیز واقیعت منعکسوی نه یوازی داچه له ټولنیز محیط سره ځان برابروی بلکه په هغه باندی اثر هم شندی او هغه په اګاهانه او واقعبینانه توګه سره په بل ډول اړوی او تغیر ورکوی . که چیری دګوند رهبری د نوموړی خا صیبت درلودونکی نه وی دګوند واقعی او سالمه رهبری نه بلله کیږی یعنی که چیری درهبرۍ عادی فعالیت وران شی او یا رهبری څه تاوان ووینی او یا کوم دروند ګذار پری وشی او یا نور علل ولری نو د ګوتد اګاهانه، واقعبینانه او منظم فعالیت ورانیږی او مشاعر ئی ګډوډیږی نو دا نتیچه هم تر لاسه کوو چه رهبری تر خپل شعوری خاصیت مقدمه

ده یعنی که چیری رهبری نه وی او یا جسماً او معناً ضعیفه او یا خرابه وی نو نوموړی شعوری خاصیت هیڅکله نه شی انجامیدلای .
همدارنګه :دګوند رهبری هم د پیانو په ډول نه ده چه دهغی څخه ډول ډول اوازونه را ویستل شی .
رهبری هم له هغه ټولنیز محیط سره چه په خپله او هم ګوند په کی اوسی یو نه شلیدونکی ارتباط لری او دمحیط له تاثیراتو څخه بیل کار نه شی کولای یعنی د ګوند رهبری هم بی له دی څخه چه ټولنیز محیطی تاثیرات چه ددی رهبری د ذهن څخه د باندی دی حس کړی نه شی کولای چه په یوازینی توګه سره په ټولنیز محیط باندی تاثیر وښندی او هغه ته په اګاهانه او واقعبینانه توګه سره بدلون ورکړی .
نو : هر هغه څوک چه له پورتنی وینا له اجتماعی او طبیعی تطبیق څخه په پټه او یا څرګنده توګه سره سر غړوی په دی توګه ټول د استثمارګرو طبقاتو په خدمت کی دی .

## د ایدیالیسم او عامیانه ماتریالیسم بابیزه والی

اول سوال: ۱- ایا په خپله شعور یوډول ماده نه ده،ایا شعور او ماده یو ډول نه دی ؟عامیانه ماتریالیسم همدی سوال ته او دیالکتیکی ماتریالیسم همدی سوال ته څنګه ځواب ورکوی ؟
۲- ستر لنین او ستر کارل مارکس دشکر د مادی غوندی بللو او دفکر او مادی یو ډول بللو په هکله څه ویلی دی ؟
۳- انسان نسبت و حیوان ته ولی امتیاز لری ؟
د اول سوال ځواب : ۱- عامیانه ماتریلیسم دغه سوال ته مثبت ځواب ورکوی او دشعور او مادی د ارتباط نادرست تغیر په اثر دغه دوه یو ډول بولی .
فوګت :چه د عامیانه ماتریالیسم لار غوره کړی ده وائی چه :فکر له دماغو څخه طرح کړیده فکر او ماغزه یو له بله سره داسی نسبت لری لکه صفرا چه د اینی سره لری.
خو دیالکتیکی ماتریالیسم د طبیعی علومو د بریالیتوب په بشپړه اتکأ دعامیانه ماتریالیسم دغه ډول درک رد وی- سره له دی چه شعور له فیزیولو جیکی او مادی جریاناتو سره ټاکلی اړه او ارتباط لری خو : ددغو چریاناتو په ډله کی ئی نه شو شمیرلی –فکر له مادی او مغزو څخه جلاوالی نه منی خو هغه پخپله د مادی غوندی نه شو ګڼلای .
۲- د ستر ولادمیر ایلیچ لنین د وینا له مخی که : که فکر د مادی غوندی وبولو نو دماتریالیسم او ایدیا لیسم دګډوډولو او یو په بل کی دور ننه ایستلو له پاره مو یو غلط ګام اخیستی وی .
- فکر جسم نه دی هغه نشو لیدلای او نه عکس تری اخیستلای شو -
- فکر دجهان دشیانو او پدیدو صورت دی خو نه مادی صورت بلکی معنوی صورت ایدئی صورت –
- فکر دواقعیت ساده عکس اخیستنه او بی روحه واقعیت نه دی بلکه یو داسی واقعیت دی چه:
په متناسب ډول سره دانسان په مغزو کی انعکاس کوی.
ستر کارل مارکس وائی چه :<< فکر یا هر معنوی شی عبارت له مادی شی څخه دی چه د انسان په مغزو کی ځای نیسی او په معنوی صورت اوړی>> .
۳- واقعیت چه په انسان تاثیر کوی تل د تفکر د خاصو قوانینو له منشور څخه لکه : دتجزئی او ترکیب تعمیم او نورو څخه تیریری.
انسان نسبت حیوان ته له دی کبله امتیاز لری چه انسان فکرکولای شی یعنی په فعال ډول واقعیت منعکس کولای شی اوپرواقعیت تاثیر ښندی- ځانته هدفونه ټاکی اودهغوی دلاسته راوړلودپاره سعی کوی
**خاطره :**په اجتماعی ژوند کی :دیوه کمونیستی او کارګری ګوند درهبری امتیاز نسبت دهغو ګوندو نورو رهبریو ته چه په فعاله ،اګاهانه او واقعبینانه توګه سره ټولنیز واقعیت نه شی منعکسولای چه په هغه باندی تاثیر نه ښندی او ټولنیز محیط ته په اګاهانه او واقعبینانه توګه سره تغیر نه ورکوی- ځانته په اګاهانه او واقعبینانه توګه سره هدفونه نه ټاکی او دهغوی دلاسته راوړلو لپاره په اګاهانه او وقعبینانه توګه سره زیار نه باسی یوازی او یوازی په دی کی دی چه نوموړی رهبری په فعاله، اګاهانه او واقعبینانه توګه سره واقعیت منعکسولای شی او په هغه تاثیر ښندی ځانته په اګاهانه او واقعبینانه توګه سره

هدفونه ټاکی او دهغوی دلاسته راوړلو او تحکیمولو له پاره په اګاهانه او واقعی توګه سره نظراً او عملاً کوښښ کوی.
نو هر هغه څوک چه د پورتنی وینا له اجتماعی او طبیعی تطبیق څخه په پټه او یا څرګنده توګه سر غړوی په دی توګه ټول د استثمارګرو طبقاتو په خدمت کی دی .
دویم سوال : ۱- دیالکتیکی متریالیسم د شعور په یاره کی د عامیانه ماتریالیسم د درک له خطا کټلو پرته بله کومه عقیده ردوی او په کوم علت سره شعور د هر ډول مادی خاصیت نه شو بللای ؟
۲- په اوسنی حال کی کومی پوهنی وړاندی تګ کړیدی او دکومی خبری له پاره کوښښونه نور هم روان دی او دنوی علم د بریالیتوب په اثر کوم شیان جوړ شوی او دانسان سره دهغه فرق په څه کی دی ؟
۳- ایا شعور له مادی څخه په مستقل ډول وجود لری ایدیالیستان په دی باب څه وائی . ستر لنین پدی باب څه وائی او دمادی او شعور ترمنځ د تضاد نسبت په څه کی دی ؟
د دویم سوال ځواب : ۱- دیالکتیکی ماتر یالیسم چه دشعور په باره کی دعامیانه ماتریالیسم درک حطا ګڼی دا عقیده هم ردوی چه: فکرپه هره ماده کی موجود دی لکه څنګه چه نامتو هالیندی ماتریالیست اسپینوزای هم په دی عقیده دی چه شعور هم لکه (بعد)او(جسمیت)غوندی په ټول طبیعت کی ضروری دی ددی نظر سهوه په دی کی ده چه :دبی ژونده او ژوندی مادی ترمنځ کیفی تضادونه نه ګوری. ستر لنین وائی چه : احساس د مادی په عالی اورګانیک اشکالو پوری اړه لری خو نوری مادی یوازی دانعکاس خاصیت لری پدی معنی چه په ټاکلو شکلونو خارجی تاثیراتو ته ځواب ورکوی او دخارجی تاثیراتو په مقابل کی عکس العمل څرګندوی که څه هم دغه ډول عمل له(احساس)سره نږدوالی لری خو عین احساس نه بلل کیږی . همدا علت دی چه شعور دهر ډول مادی خاصیت نه شو بللای .
۲- په اوسنی حال کی چه د کیبرنتیک پوهنی وړاندی تګ کړی دی ددی خبری لپاره کوښښونه نور هم روان شوی دی چه په بی ژونده شیانو کی دتفکر قدرت ثابت کړی .
د نوی علم د بریالیتوب په اثر د داسی ماشینونه جوړ شوی دی چه :
الف- ډول ډول چاری اجرا کړی .
ب- ځینی له هغو څخه کولای شی الوتکی ،اورګاډی او خورا پیچلی تولیدی جریانات اداره او رهبری کړی.
ج- یوه ژبه په بله ژبه او یا ډیر ژور ریاضی عملیات اجرا کړی .
د- دا ماشینونه کولای شی چه له باندی څخه ډول ډول معلومات راغونډ کړی اوهغه په ذهن کی وساتی او متناسب عملیات تنظیم او عملی کړی ،
دغو ماشینو ځینو پوهانو ته داسی پلمه په لاس ورکړه چه ګواکی خپل کاره ماشینان د احساس توانائی لری او حتی فکر هم کولای شی .
خو په حقیقت کی : الف :هیڅ ماشین که هر څومره مکمل او بشپړ وی داحساس توان نه لری نو چیری به فکر وکولای شی .
ب- احساس او فکر په انسان پوری تړلی او مختص دی هغه انسان چه د مادی جهان د اوږدی ودی او په تیره د اجتماعی محیط محصول دی .
ج- انسان ځان له طبیعت څخه جلا او اوچت ګڼی د خپل شاوخوا په واقعیتونوپوه دی او پر دی واقعتونو په فعاله توګه اثر ښندی او هغو ته تغیر ورکوی .
د- انسان دشیانو دجوړولو لپاره نه ستړی کیدونکی قدرت لری او خورا حیرانوونکی فرهنګی ارزښتونه منځ ته راوړی .
هـ- ماشین دغه ډول خصوصیتونه نه لری او دانسان ماهرانه فکر او د ده غیښتلو لاسونو مینځ ته راوړی دی او انسان د ماشین ټول عملیات تنظیم او دهغه عملیات که څه هم خورا پیچلی وی لومړی ټاکی په دی ډول شعور او ماده یو شی نه شو بللای .
۳- ایدیالیستان په دی دلیل چه شعور معنوی دی یو (ایده)ده دغه پورته سوال ته مثبت ځواب ورکوی او وائی چه : الف- که فکر معنوی او ایده وی نوجسم نشته او نه شی کیدای چه هغه د انسان په ماغزو کی ولټول شی او په نتیجه کی فکرله مادی سره یعنی له ماغزوسره ارتباط نه لری او مستقل وجود لری. د دوی په عقیده شعور نه یوازی مستقل دی بلکی ماده هم(جوړولای) شی .
دا کوښښونه چه فکر له مادی څخه جدا کړی بیخی بی اساسه دی .ستر لنین هغه فلسفی ته چه دغه ډول کوښښ کوی او وائی چه فکر بی له مغزو وجود لری (بی ماغزو) فلسفه وائی .

طبیعی علوم له مادی څخه دشعور مستقل والی ردوی،شعور تر مادی وروسته دی ماغزه عمل کوی او باندینی دنیا ته انعکاس ورڅرګندوی . ستر لنین په عین حال کی دمادی او شعور دمطلقی مقابلی پر ضد په مبارزه شروع وکړه د دوی د دواړو تضاد یوازی هغه وخت مطلق کیدای شی چه د فلسفی اساس ته نظر واچول شی یعنی دی موضوع ته چه ایا ماده لومړی ده او که شعور نظر واچوو. خو دباندی تر دی اساسی مسئلی دمادی او شعور تر منځ تضاد نسبی دی دا نسبت په دی کی دی چه :
الف- په لومړی سر کی دهغی مادی خاصیت بلل کیږی چه د خپل جوړښت په عالی مدارجو کی او دمادی عواملو تر تاثیر لاندی مونده کیږی او وده کوی .
ب- دوهمه داچه : داچه شعور له مادی څخه زیږی تر یوه حده پوری استقلال اخلی او دمادی نړی په تکامل کی تاثیر ښندی. اوس به دشعور دودی اوتکامل منشأ ته نظر واچوو .
**خاطره :** هر هغه څوک چه وائی :
- فکر په هره ماده کی موجود دی-
-خپل کاره ماشینان د احساس توانائی لری او حتی فکر هم کولای شی .
-شعور او ماده یو شی دی-
- فکر له مادی(ماغزو)سره ارتباط نه لری او مستقل وجود لری-
- فکر نه یوازی مستقل دی بلکی ماده هم جوړولای شی-
- او دمادی او شعور تر منځ د تضاد دمطلقیت او نسبت په باب د ستر لنین وینا غلطه ګڼی په دی توګه ټول د وحشی،درنده اوبی رحمه استثمارګرو طبقاتو په خدمت کی دی .

## شعور دمادی دتکامل محصول دی
## دشعور دودی منشأ

اول سوال :١- څنګه وویل شول- له کوم جهته د انعکاس خصلت په کوم شی پوری اړه لری- که چیری بی ژونده جسم،ژوندی ارګانیسم او نسان ته وګورو څه شی څرګندیږی- دانعکاس عالی شکل په څه شی کی څرګندیږی اوانسان په کوم شی باندی قادر دی ؟
٢- له بی ژونده مادی څخه ژوندی مادی ته او دژوندی مادی څخه دتفکر مادی ته د اوښتلو په هکله طبیعی علوم څنګه ثابتوی اونن ورځ دعلم له مخی کومه فرضیه قبوله شوی ده ؟
٣- دمحیط سره دموادو مبادله څوتضادونه لری کوم کوم دی- دانعکاس د عمومی دتکامل اود شعور دپیداینښت په لارکی یو خورا سترګام کوم دی مثالونه ئی ؟
٤- د رفلکسونو مطالعه په څرګند ډول څه ښئی شرطی رفلکسونه او غیری شرطی رفلکسونه کوم کوم دی ؟
د اول سوال ځواب:١- څرنګه چه وویل شول هره ماده دانعکاس کلی خواص لری یعنی پدی قادره ده چه دباندینی تاثیراتو لاندی په ځان کی تغیرات راولی اوترتاثیراتو لاندی متناسب عکس العمل څرګند کړی . انعکاسات د دوو یا ډیرو جسمونو په متقابل تاثیر پوری اړه لری له همدی جهته د انعکاس خصلت هم په خارجی تاثیراتو پوری تړلی او هم د جسم په دننی حالت پوری چه خارجی تاثیراتو ته ځواب ورکوی اړه لری . که چیری بی ژونده جسم ،ژوندی ارګانیسم او انسان ته وګرو څرګندیږی چه : دوی جهان په یوه توګه نه منعکسوی. بی ژونده جسم: الف - ساده او پاسیف(غیرفعال)انعکاس ښکاره کوی.
ب- دغه ډول جسم د محیطی عواملو تر منځ تفاوت ته قایل نه دی-
ج- مساعد عوامل نه شی جلا کولای . د- او ځان له ناوړه عواملو څخه نه شی خوندی کولای .
ژوندی جسم خارجی تاثیراتو ته بل ډول ځواب ورکوی.ژوندی جسم : الف- له محیط سره ځان سموی .
ب- د خارجی مختلفو تحریکاتو په نسبت عکس العمل ښکاره کوی.
ج- دمساعدو عواملو څخه او له غیر لازم او ضرر رسوونکو عواملو څخه ځان ژغوری-
د – او له محیط سره دسازش او سمون په اثر ژوند او وده کوی .
د انعکاس عالی شکل په انسان کی څرګندیږی داسی انعکاس چه دکیفیت له لحاضه له نورو څخه ښه والی او امتیاز لری انسان قادر دی چه : الف- د پوهی او شعور له مخی واقعیت منعکس کړی-
ب- یوازی د محیط سره ځان نه برابروی بلکی په هر محیط باندی اثر هم ښندی-

ج- او هغه محیط د پوهی په اساس بل ډول اړوی او تغیر ورکوی .
۲- **د شعور په منشأ کی څیړنه:** یعنی ددی خبری تحقیق څه ډول دبی ژونده مادی څخه ژوندۍ مادی ته او بیا له ژوندۍ مادی څخه فکر کوونکی مادی او له پاسف انعکاس څخه فعال انعکاس ته (چه دخارجی عواملو تر منځ فرق ته قایل دی)او دغه فعال انعکاس دتفکر قدرت ته څنګه اوښتی دی ؟
د بی ژونده مادی څخه ژوندۍ مادی ته او دژوندی مادی څخه د تفکر مادی ته:
په طبیعی علومو کی ډیر مدارک په لاس کی شته چه ثابتوی :
الف- ژوندی طبیعت له بی ژونده او غیر ارګانیک طبیعت څخه منځ ته راغلی دی-
ب- د دوی تر منځ یوه نه بیلیدونکی پوله شته-
ج- کیمیاوی تجربو دا څرګنده کړی ده چی بی ژونده اجسام او ژوندی موجودات د یوه ډول کیمیاوی عناصرو څخه تشکیل شوی دی-
د- په موجوداتو کی هایدروجن،اکسجن او په تیره بیا د کاربن چه د ژوندیو د کیمیاوی ترکیب اساس دی او همدا ډول د دغو موجوداتو د ژوندانه د اعمالو دحاصل شوو موادو د کیمیا وی ترکیب اساس ړدی خورا ډیر دی **.نن ورځ دعلم له مخی دا فرضیه قبوله شویده چه :**
الف- د اولنی غبار ډوله موادو څخه چه زمونږ ځمکه هم خورا پخوا له هغو څخه جوړه شویده د هایدروجن او کاربن ساده ترکیبات او نور جسمونه لکه :هایروکاربونو وجود درلود چه وروسته له هغوی څخه عضوی پیچلی او مغلق ترکیبات منځ ته راغلل –
ب- عضوی ترکیبات د کیمیاوی فعل او انفعال په سبب پرلپسی پیچلی او نور هم پیچلی او مغلق کیزی تر څو چه (امینواسیدونه)چه د(البومینوئیدی)مواد مالیکولونو اساسی برخو او توکو څخه منځ ته راځی په هره اندازه چه دغه عضوی اجسام زیات مغلق کیږی په هم هغه اندازه د هغوی د انعکاس توان او قدرت ډیر پیچلی او په څو ډوله کیږی .
ج- په سوونو ملیونه کالونه تیر شوی دی څو چه ددغه اولنی(البومینو ئیدی)مادی مالیکولونه چه دامینو اسیدو څخه ئی سرچینه اخیستیپه یوه ساده ژوندی جسم تبدیل شوی اودمحیط سره ئی دمبادلی خاصیت چه د ژوند اساسی نښانه ده حاصل کړی دی .
۳- د محیط سره دموادو مبادله دوه متضاد پلونه لری :
الف- له یوی خوا(اسیمیلیشن)یعنی دخارجی محیط څخه دغذائی موادو جذب په ژوندیو سلولونو او د ژوندی موجود په انساجو دهغه تبدیلی-
ب-او له بله پلوه د انساجو پاشل او محوه کیدل دی .
دغه متضاد جریان یوازی په ژوندی موجود کی وجود لری.دخارجی محیط سره مبادله دنوی کیدلو او ترمیم کیدلو هغه دایمی جریان چه محوه او پاشل کیږی یو خورا زیات ساده ژوندی موجود له ډیر مغلق او پیچلی بی ژونده موجود څخه جلا او امتیاز ورکوی .
ددغو موادو د مبادلی په نتیجه کی ژوندی موجود ژوند کولای شی وده او تکامل مومی .
د اولینو او ډیرو ساده ژوندیو موجوداتو پیدایښت د انعکاس د عمو می خاصیت د تکامل او دشعور دپیدایښت په لار کی یو خورا ستر ګام دی
دبی ژونده طبیعت انعکاس په بیولوژیکی انعکاس چه دکیفیت له مخی تازه ګی لری تبدلیږی
د حرکت قابلیت چه په ژوندیو موجوداتو کی لیدل کیږی د خارجی محیط سره دموجوداتو د تطابق او خپلی لاری د تعین لپاره یوه ډیره ښه وسیله ده او دبیو لوژیکی انعکاس له ډیرو ساده شکلونو څخه ګڼل کیږی مثلاً :
واښه دلمر دوړانګو په مقابل کی خورا حساس دی اوهغه پلو ته ورکشیږی- نور دواښو لپاره د ژوند سرچینه ده. امیب چه د یو سلولی موجوداتو یو خورا ساده موجود دی دخپلو غذائی موادو په اړخ کی عکس العمل ښئی او کله چه یو څه غذا تیره کړی وروسته بیا غذائی مواد امیب نه تحریکوی له دی څخه داڅرګندیږی چه امیب هم دژوندیو موجوداتو په څیر چه د تحریک قابلیت لری دخارجی جهان په مقابل کی یو ډول عمل نه کوی بلکه :
د خارجی جهان په بیلو بیلو برخو او مختلفو وختونو کی توپیر ایږدی مثلاً:
ژوندی موجودات دګټورو تحریک کوونکو په خوا ورکش او دمضرو تحریکوونکو او غیر لازمی تحریک کوونکو څخه لری کیږی ولی په هر صورت ددغو ژوندیو موجوداتو دانتخاب قدرت زیات نه دی ځکه چه دوی لاتر

اوسه داسی غړی ، انساج او سلولونه نه لری چه دمختلفو خارجی تاثیراتو په مقابل کی ئی اختصاص موندلی وی او همدا سبب دی چه : نوموړی موجودات په خپل ټول وجود سره وخارجی تحریک کونکو ته ځواب ورکوی.
د وروستی تکامل په جریان کی ژوندی موجودات دساختمان دمغلق کیدو په نتیجه کی یو عالی او نوی شکل پیدا کوی چه هغه احساس دی .
احساس- لکه :دتحریک قابلیت پر ژوندی موجود باندی دخارجی جهان دتاثیر نتیجه ده همدارګه: په دغه وخت کی دخارجی تحریک کوونکو لمنه پراخیری ژوندی موجودات پدی او یا هغه شکل د نوموړیو تحریک کوونکو په مقابل کی عکس العملونه څرګندوی . اوس نو ژوندی موجود د رنګ ،بوی اوږغ په مقابل کی عکس العمل ښئی دخوند احساس کوی په ګرمۍ ،یخنۍ او لوندوالی پوهیږی . دنور، میخانیکی ،فزیکی او غیره تاثیراتو ځواب ورکوی په دغه ډول په ژوندی موجود کی داسی غړی ښکاره کیږی چه یوازی خارجی معین تاثیرات( رنګ ،ږغ ،بوی او نور)درک کوی وروسته له هغه په هره اندازه چه ژوندی موجود وده او تکامل مومی احساس ئی زیات بډای او هر اړخیز کیږی .
د خارجی محیط سره د ژوندندی موجود د تطابق قوی او دارتباط لپاره یو خاص ارګان او تشکیل منځ ته راځی چه هغه مرکزی عصبی سیستم دی .
٤- د رفلکسونو(عکاسو)مطالعه په څرګند ډول دا ښئی چه : کښته او لوړ حیوانات باندینی جهان په یو ډول نه منعکسوی او ټول په یوه ترتیب سره له محیط سره تطابق نه کوی.
رفلکس : دخارجی تاثیراتو په مقابل کی دیوه ژوندی موجود عکس العمل دی . رفلکسونه یا شرطی اویا غیر شرطی وی :الف – غیر شرطی رفلکسونه دټولو کښته اوعالی موجوداتو خاصیت دی چه اکتسابی نه دی او وروستنیو نسلونو ته انتقال مومی مثلاً :کله چه انسان لاس د یوه سوځونکی شی سره ونښلوی سمدلاسه تر شا کیری چه دغه دغیر شرطی رفلکس یوه نمونه ده .
د غیر شرطی رفلکسو ګڼوالی دغریزو دپیداښت سبب کیری (لکه جنسی. غذائی اونوری غریزی) چه د یوه ژوندی موجود په ژوند او تکامل کی پوره نقش لری .
ب- شرطی رفلکسونه :
عالی حیوانات شرطی داسی رفلکسونه لری چه تیروونکی او دلړی مودی لپاره وی او په معینو شرایطو کی څرګندیږی مثلاً : کله که دیوه سپی دغذا ورکولو په وخت کی دیوه زنګ ږغ هم ورسره وی داسی وخت رارسیږی چه سپی دزنګ دغږ په مقابل کی په هغه اندازه عکس العمل ښئی لکه د غذا په مقابل کی ئی چه څرګنداوه او دزنګ د غږ په وخت کی په لاړو ایستلو او افراز شروع کوی دسپی په مغزو کی یو موقتی او تیریدونکی ارتباط پیدا شوی چه د زنګ ږغ ئی د غذا نښانه ده او ددغه اصل له مخی شرطی رفلکسونه چه د ژوندی موجود لپاره حیاتی اهمیت پیدا کوی اودهمیشه دپاره دغیر شرطی رفلکسونو په شکل منځ ته راځی او ظهور کوی په هغه وخت کی نو د دغو رفلکسونو په اساس ځینی نور موقتی او تازه ارتباطونه څرګندیږی چه په هغوی کی ځینی په خپل وار ثابت او دوام لرونکی پاته کیری په دغه ترتب دژوندیو موجوداتو د تکامل په جریان کی ذهنیت او ماغزه ورو ورو تکامل مومی خو په اخر کی وهغی مرحلی ته رسیږی چه احساس کوونکی ماده ئی دتفکر قدرت مومی .
**خاطره :**په اجتماعی ژوند کی : یو کمونیستی کارګری ګوند به په نطر کی ونیسو :
١- د ټولنیز انعکاس عالی شکل په یوه کمونیستی او کارګری ګوند کی څرګندیږی داسی انعکاس چه د کیفیت له لحاظه له نورو څخه امتیاز لری .
نوموړی ډول ګوند پدی باندی قادر دی چه :د خپلی مرکزی کمیټی دشعوری خاصیت د درلودلو له مخی ټولنیز واقعیت منعکس کړی- نه یوازی له محیط سره ځان برابروی بلکه په هر محیط باندی اثر هم ښندی او هغه محیط د خپلی پوهی په اساس په بل ډول اړوی او بدلون ورکوی .
٢- نوموړی ډول ګوند هم له خلکو له خوارو وارو زیار ایستونکو پرګنو څخه زیږی او له هغوی سره نه شلیدونکی ارتباط لری ګوند دخپل جوړښت په دوران کی خپل ساده مراحل طی کوی یعنی په لوموړی سر کی چه څو تنه اګاه عنا صر یو له بله سره یو ځای کیری بیا په ګوند کی دتشکیل او تربیی مرحله(جذب او دفعه مرحله)منځ ته راځی بیا دوی ټولنه په طبقاتو تجزیه کوی اوبیا هغه یو له بله سره ترکیبوی او بالاخره تودو ته ورځی او له تودو سره په ساده چوکاټ له تودو څخه د زده کړی او تودو ته د ورزده کړی خاصیت ځانته غوره کوی په ساده توګه سره ژوند اخلی او همدغه ساده ژوندی ګوند د

له ډیری پیچلی او مغلق بی ژونده ګوند څخه جلا دی او ډیر امتیاز تری لری ګوند دنوموړی مبادلی(له تودو څخه د زده کړی او تودو ته د ورزده کړی مبادلی) په نتیجه کی ژوند کولای شی وده او تکامل مومی ولی په هر صورت په دی لومړی وخت کی دنوموړی ډول ګوند دانتخاب قدرت زیات ندی ځکه لا تر اوسه پوری داسی ابدیده پیاوړی او مجرب غړی نه لری چه د مختلفو ټولنیزو خارجی تاثیراتو په مقابل کی اختصاص موندلی وی او ګوند د تکامل او دخپل ساختمان د مغلق کیدو په نتیجه کی داحساس خاصیت ځانته غوره کوی یعنی په ده باندی د خارجی تحریکوونکو له خوا تاثیرات واردیږی او ګوند د نوموړو تاثیراتو په مقابل کی عکس العملونه څرګندوی نو اوس نوموړی ګوند هر ډول مادی او معنوی تهدیدونه درک کوی او په هره اندازه سره چه وده او تکامل مومی په هم هغه اندازه سره ئی احساس زیات بډای او هر اړخیز کیږی نو دټولنیز خارجی محیط سره دنوموړی ډول ګوند تطابق قوی کیږی اوله هغه سره له ارتباط لپاره یو خاص پیاوړی، ابدیده او مجرب ارګان او تشکیل منځ ته راځی چه هغه مرکزی کمیټه ده

۳- رفلکسونه : غیر شرطی رفلکسونه د ټولو ګوندونو دمرکزی کمیټو خاصیت دی خو شرطی رفلکسونه یوازی اویوازی دکمو نیستی او کاګری ګوندونو دمرکزی کمیټو خاصیت دی چه په معینو شرایطو کی څرګندیږی همدارنګه د نوموړو ګوندونو مرکزی کمیټی په ټولنیز محیط کی دخپلو په لاس راوړلو شویو تجربو له مخی دخپلو ګوندو غړی او ټول زیرایستونکی خلک د دښمنانو د ډول ډول سړو او تاودو غیرعادلانه جګړو په مقابل کی په مادی او معنوی وسلو او تاکتیکونو سره کاملاً سنبالوی اوپخوا له دی چه نوموړی غیری عادلانه سړی او تاودی جګړی صورت ونیسی خپل غړی او ولسونه ور څخه خبروی او د نوموړو غیری عدلانه سړو او تاودو جګړو په مقابل کی دعادلانه سړو او تودو جګړو طرزونه میتودونه او دمادی او معنوی وسلو استعمال په نظری او عملی ټوګه سره وربښئی تر څو چه د دښمنانانو دنوموړو سړو او تاودو غیری عادلانه جګړو دواقع کیدو په وختونو کی دهغو په مقابل کی په خورا لوړو معنویاتو سره په فعاله، بریالی او نورمالتیکه ټوګه سره خپلی عادلانه او انقلابی جګړی اجرا کاندی .

**نو هر هغه څوک**: چه د نوموړی ویناوو له اجتماعی او طبیعی تطبیق څخه په پټه او یا څرګنده توګه سره سر غړوی په دی توګه ټول د استثما ګرو طبقو په خدمت کی دی .

## دشعور په څرګندیدو کی د کار قاطع رول

اول سوال: ا-انسان له کیفیت له مخی د نوروحیواناتوڅخه څه توپیرلری اودغه توپیر له کومه ځایه څخه؟
۲- ددی لپاره چه انسان د تولیدی الاتو جوړونه زده کړی کوم شی ورته پکار دی ؟
۳-اولین تولیدی الات څنګه وو اودانسان شعور په خپلوابتدائی مرحلوکی دشیانو دپیژندګلوی په باب څه ؤ
د اول سوال ځواب :ا- د احساس قابلیت هم په انسان هم په عالی حیواناتو کی وجود لری.دپاولوف دتحقیقاتو له مخی دغه قابلیت د فیزیولوجی پر اساس چه دنښو لومړی سیستم بلل کیری بنسټ مومی ژوندی موجود : ددغه سیستم پواسطه دپدیدو او شیانو مستقیمو تاثیراتو ته ځواب ورکوی دغه سیستم یوازی په حیواناتو کی وجود لری.
دحیوان په غړیو باندی شیان تاثیر کوی اوبیائی په عصبی سیستم کی متناسب احساس کیری .
اما دانسان احساس همیشه: الف- دعقل دلیل اوتفکر سره انډیوال دی چه البته له دغو څخه حیوان بی برخی دی.ب- انسان دانتزاعی تفکر څښتن یعنی دخارجی واقعیت تاثیرات په مفهومونو کی تعمیموی او مفهومونه بیا په کلماتو کی ښئی.
ج- هره کلمه یو معین شی څرګندوی او له هغه شی سره نه شلیدونکی ارتباط لری همدا علت دی چه :انسان و کلمو ته دشیانو دمستقیم تاثیر په څیر ځواب ورکوی . څنګه چه شیان پخپله د علایمو اولین سیستم دی او کلمات چه نوموړی شیان معرفی کوی دنښو دوهمه درجه نقش لری.
هغه سیستم چه دهغه پوسیله انسان دخبرو اوکلمو په مقابل کی عکس العمل ښئی د نښو دوهم سیستم نومیږی اویوازی په انسان کی موچود وی اوبس .
دغه دوه دنښو سیستمونه یو له بله سره عضوی رابطه لری او همدا علت دی چه انسان ټول اړخیزه او خورا ژور واقعیت پیژندلی شی .
په دی ډول دا څرګنده شوه چه د انسانی شعور :
دکیفیت له مخی له نورو حیواناتو څخه توپیر لری اودغه توپیر له دی ځایه څخه راوزی چه:

د حیواناتو روح او ذهنیت دبیولوژیکی تکامل محصول دی خو دانسان شعور دتاریخ اواجتماعی تکامل
نتیجه ده. د انسان احساسونه دحیوان له احساس څخه په ریښه او اساس کی توپیر لری مثلاً :
دعقاب سترګی دانسان سترګو ته خورالری ځایونه لیدلی شی اما دانسان سترګی بیا نسبت دعقاب
سترګوته تر اندازه ډیر شیان وینی .
کارل مارکس وائی چه<<دانسان دپنځو خواسو دغړیو جوړښت دجهان د ټول تاریخ محصول دی>>
د انسان دموسیقی غوږ،دده سترګی چه دطبیعت ښایست په لیدلای شی د خوندونو او ذایقی او
همداسی نورو داحساس غړیو دبشری ټولنی داجتماعی ژوندپراساس تکامل موندلای دی .
د انسان اودهغه دشعور پیدایښت له پاره دده کار اوزحمت یعنی دانسان تولیدی فعالیت قاطع نقش
درلودلی دی. انګلس وا ئی: <<انسان پخپله دکار او زحمت محصول دی>>
د کارپه نتیجه کی:الف- وحشی انسان دانسان په شکل منځ ته راووت-
ب- کار دانسان لپاره خوراک پوشاک او دهستوګنی ځایونه ورجوړکړه-
ج- انسان پی نه یوازی دطبیعت له قهری قواو څخه وساتی بلکی انسان ته ئی ددی امکان ورکړ چه
طبیعت په خپلو منګلو کی راولی اودځان تابع ئی کړی –
د- انسان په خپل کار اوزحمت سره هم خپل ځانته تغیر ورکړ او هم پی دځمکی بڼه واړوله .
په انسان ډوله بیزوګانو کی دکار او زحمت مقدمو او نښو وجود درلود چه دلرګو،ډبرو اود طبیعت له نورو
شیانو څخه ئی دخپل خوراک لپاره ګټه اخیستله اما هغوی په اتفاقی توګه او بی له کومی پوهی په دی
کارو ګوتی وهلی .
نه بیزوګانی کولای شی اونه نور حیوانات چه حتی د تولید ډیر ساده الات جوړ کړی هغه انسان دی چه د
تولید وسایل جوړ او په کار ئی اچولی شی او دانسان دکار کیفی خصوصیت هم په دی ځای کی دی .
۲- ددی لپاره چه انسان دتولیدی الاتو جوړونه زده کړی په سوونو زرونه کاله وخت ورته پکار دی ددعه
زمانی په اوږدو کی دانسان د موجودیت ډیر مغلق او پیچلی جریانونه اودهغه سره پرځنګ دده دشعور
تشکل او تکامل منځ ته راغلی دی .
۳- اولین تولیدی الات خورا ساده او ابتدائی وو اودانسان شعور هم خپلی ابتدائی مرحلی تیری کړی دی
په دغه زمانه کی لا انسان دشیانو ماهیت نه شی پیژندلی او نه پوهیږی چه دغه شیان له کومی خوا
ګټور ثابت کیدای شی .
وروسته چه هر څومره دتکامل په لار کی کار او زحمت پر مخ ځی په هم هغه اندزه دانسان شعور هم
وده او نمو کوی.د ژوند دوسایلو دحاصلولو په سبب دطبیعت دشیانو دمخامخ کیدو په جریان کی انسان :
الف- د شیانو خواص پیژنی- ب-هغوی یوله بله سره مقابله کوی-ج- یوله بله ئی سره سنجوی او کوم
چه د دوی ترمنځ ګړ اوکلی دی پیدا کوی ئی. په دغه ترتیب انسانی شعور دکار او تفکر دیووالی او
تولیدی فعالیت په اساس وده کوی او دتکامل پر خوا پرمخ ځی .
**خاطره :**په اچتماعی ژوند کی به یو کمونیستی اوکارګری ګوند په نظر کی ونیسو :
۱- نوموړی ډول ګوند دټولنیز انتزاعی تفکر څښتن دی یعنی دټولنیز خارجی واقعیت تاثیرات په مفهومونو
کی تعمیموی او مفهومونه بیا په کلماتو کی ښئی هره کلمه یوه پدیده څرګندوی او له هغی پدېدی
سره نه شلیدونکی ارتباط لری همدا علت دی چه ګوند و کلمو ته دمستقیم تاثیر په څیر څواب ورکوی
ځکه چه په خپله پدیدی دعلایمو اولین سیستم دی او کلمات چه نوموړی پدېدی معرفی کوی دښو
دوهمه درجه نقش لری .
هرهغه سیستم چه دهغه په وسیله ګوند دخبرو او کلمو په مقابل کی عکس العمل ښئی دښو دوهم
سیستم نومیږی او یوازی په نوموړی ډول ګوند کی موجود دی او بس . او نتیچه دا ده:
یو وار چه په یوه ټولنیز محیط کی یوی واقعی صورت نیولی وی که چیری دنوموړی واقعی تکراریدل مضر
او خطرناک تامیری نو نوموړی ډول ګوند دهغی مخنیوی کوی اوبیا ئی نه تکراروی اوکچیری ګټور
تامیری نو بیائی هم تکراروی .
همدارنګه نوموړی ډول ګوند دطبقاتی مبارزی په اجراکولو سره کولای شی چه له دښمنانانو څخه خپل
اود نورو زیاراېستونکو خلکو مشروع حقوق(ډوډۍ ،کالی ،کور ،پوهه .درمل او نوردژوندمادی او معنوی
نعمتونه )تر لاسه کړی طبقاتی مبارزه ګوند او نور زیار ایستونکی خلک نه یوازی ددښمنانو له قهری قواوو
څخه ساتی بلکی دوی ته ددی امکان ورکوی چه دښمنان تر خپل لاس لاندی کړی ګوند په طبقاتی

مبارزه سره هم خپل ځانته تغیر ورکوی اوهم دټولنی بڼه وراړولی شی . بی له نوموړی ډول ګوند څخه هیڅکله او هیڅکله نور ګوندونه نه شی کولای چی حتی د طبقاتی مبارزی ډیر ساده اصول هم په ضروری توګه سره زده کړی او په کار ئی واچوی نوموړی ډول ګوند دطبقاتی مبارزی اصول زده کولای او په کار ئی اچولی شی د نوموړی ډول ګوند کیفیت هم په دی کی دی .

۳- نوموړی ډول ګوند هم خپلی ابتدائی مرحلی تیروی په لومړی سر کی ګوند هم دپدیدو ماهیت نه پیژنی او نه پوهیږی چه دغه پدیدی له کومی خوا ګټوری ثابتیدای شی . وروسته چه هر څومره دتکامل په لار کی طبقاتی مبارزه پرمخ ځی دګوند شعور هم وده او نمو کوی .

د ژوند دوسایلو دحاصلولو په سبب له طبقاتی دښمنانو سره دمخامخ کیدو په جریان کی :

نوموړی ډول ګوند : الف- دپدیدو خواص پیژنی- ب- هغه یو له بله سره مقابله کوی- ج- یوله بله سره ئی سنجوی او کومی چه ددوی تر منځ ګډی او کلی دی پیدا کوی ئی . نو هر هغه څوک جه دنوموړی ویناوو له اجتماعی او طبیعی تطبیق څخه سرغړوی په دی توګه ټول داستثمارګرو طبقو په خدمت کی دی .

**ژبه او تفکر :**

اول سوال : ۱- ژبه په څه اساس پیدا شویده اوځنګه قوه ده- په کوم علت سره دکار او زحمت په جریان کی دانسان تر منځ دګډ ژوند لزوم او خبرو داشتراک ضرورت احساس اوددی ضرورت له مخی څه وشول او مارکس پدی باب څه ویلی دی ؟

۲-د ژبی او لیک پواسطه څه کیږی- دژبی او لیک څخه پرته به څه شوی وای اوژبه دخارجی واقعیت سره څنګه اړیکی لری ؟

۳- ایدیالیستان دماتریالیسم د بی اعتمادۍ لپاره څه وائی- ډیالکتیکی ماتریالیسم دشعور داهمیت په باب څه وائی او ایا فکر کولای شی چه په مستقیم ډول یوخورا کوچنی شی لا له خپله ځایه وښوروی ؟

داول سوال ځواب :۱- د انسان دشعور دجوړښت په وخت کی ژبی او خبرو ډیر مهم تاثیر درلود .ژبه چه دشعور سره یو ځای د کار او زحمت په اساس پیدا شویده یوه ډیره لویه قوه ده چی دهغی پواسطه انسان خپل ځان د حیوانی جهان څخه راجلا کړی دی .

ژبی انسان ته اجازه ورکړه چه خپل تفکر ته وده ورکړی او مادی تولید ته سامان وروبخښی .

کار او زحمت همیشه اجتماعی وه انسانان دخپل موجودیت په اولو وختو کی مجبور وو چه چه د طبیعی قواوو په مقابل کی په یوه لاس وجنګیږی او په یوه اتفاق له طبیعت څخه دخپل ژوند له پاره لازم وسایل حاصل کړی . په همدی علت دکار او زحمت په جریان کی د انسانانو تر منځ د ګډ ژوند لزوم او خبرو داشتراک ضرورت احساس شو . ددغه ضرورت له مخی د بیزوګانو ابتدائی حنجری په داسی غږیو تغیر وموند چه ږغونه د کلمو په شکل د باندی راوباسی ګواکی په دغه ډول ژبه او خبری پیدا شوی .

۲- مارکس وائی چه(( ژبه دفکر مستقیم واقعیت دی)) ځکه چه :

الف- فکر یوازی دکلماتو په جامه کی تظاهر کولای شی انسان که له خپله ځانه سره فکر کوی یا خپل افکار په لوړ اواز سره بیانوی اویا هغه دکاغذ پرمخ وغوړوی په ټولو ځایو کی فکرونه دالفاظو او کلماتو په جامه کی څرګندیږی .

ب-  فکرونه نه یوازی دکلماتو په سیوری کی شکل مومی بلکی انتقال مومی او درک ئی کیږی .

ج- انسان د عینی شیانو دتاثیراتو او انعکاس نتیجی په خپل شعور کی په کلماتو او دهغوی په ترکیب سره ټینګوی او دغه حالت و دی ته اجازه ورکوی چه خپل فکرونه نه یوازی دخلکو تر منځ کیږدی بلکی هغه دیوه نسل څخه وبل نسل ته نقلوی .

<u>دژبی اولیک څخه پرته</u> دانسانی نسلونو ګټوری او قیمتی تجربی به ئی له لاسه وتلی وای اوهر نسل به مجبور وو چه دجهان په څیړنه اومطالعه سره پیل وکړی ژبه دخارجی واقعیت سره اړیکی لری او دا اړیکی مستقیم ندی بلکی دتفکر له لاری .

<u>همدغه علت دی</u> چه کله کله د یوه مشخص عادی شی سره دیوی ټاکلی کلمی مستقیم ارتباط اسان کار ندی په بیلو بیلو ژبو حتی په یوه ژبه کی ډیر ځله داسی پیښه شوی ده چه یوه کلمه دمختلفو شیانو دنامه له پاره استعمالیږی اویا یومعین شی په بیلو بیلو نومونو سره یادیږی داټولی خبری دا بیان په لاس راکوی چه ژبه له خارجی واقعیت څخه مستقله ده په دی ترتیب سره شعور دمادی داوږده تکامل محصول دی اما په خپل وار دمادی په تکامل کی تاثیر لری .

۳- ایدیالیستان دماتریالیسم دبی اعتبارۍ لپاره دا وائی چه : ماتر یالیستان چه دهر شی بنسټ ماده

بولی دشعور څخه دشیانو عینیت او استقلال جلا په ثبوت رسوی نوګواکی دوی شعور ته زیات اهمیت نه ورکوی اوشعور دژوند بی روح او پاسیف انعکاس ګڼی .
دیالیکتیکی ماتریالیسم په هیڅ صورت دمادی په تکامل او ټولنی په ژوند کی شعور ته لږ اهمیت او قیمت نه ورکوی شعور بی روحه او پاسیف نه دی او په جهان باندی فعالانه تاثیر اچوی .
څه وخت چه ستر لنین وائی: (دانسان شعور نه یوازی مادی جهان منعکسوی بلکی هغه پیدا کوی هم) نو معنی ئی داده چه په خارجی جهان باندی دشعور فعال تاثیر څرګند دی. البته خبره پر مادی ژوند باندی دشعور مستقیم تاثیر دشعور له خوا دجهان مستقیم پیداینښت او ایجاد نه دی .
فکر نه شی کولای چه :
په مستقیم ډول یو خورا کوچنی شی لا له خپله ځایه وښوروی .
خبره دلته ده چه :
که هروخت شعور په درست ډول جهان منعکس کړ نو کیدای شی چه دانسان دخلاق او تغیر ورکوونکی فعالیت لارښوونکی شی .
د شعور دفعالیت او خصوصاً په اجتماعی ژوند کی دشعور رول به وروسته ګورو .
**خاطره :** په اجتماعی ژوند کی به یوکمونیستی او کارګری ګوند په نظر کی ونیسو :
۱- د نوموړی ډول ګوند نشراتی ارګان دده ژبه بلله کیږی. نشراتی ارګان دګوند دشعور له پیدا کیدو سره یو ځای پیدا شوی دی او یوه داسی ډیره لویه قوه ده چه دهغی پواسطه ګوند کولای شی چه خپل ځان له نورو ګوندونو څخه جلا کړی .
نشرتی ارګان ګوند ته اجازه ورکوی چی :
۱- خپل فکر ته وده ورکړی او طبقاتی مبارزی ته سر اوسامان وربخښی .
نشراتی ارګان دګوندی فکر مستقیم ټولنیز واقعیت دی ګوندی فکر یوازی دکلماتو په جامه کی تظاهر کولای شی .ګوندی فکرونه نه یوازی د کلماتو په سیوری کی شکل مومی بلکی انتقال مومی اودرک ئی کیږی . ګوند دعینی پدیدو دتاثیراتو او انعکاس نتیجی په خپل شعور کی په کلماتو او دهغوی په ترکیب سره ټینګوی او دغه حالت و دی ته اجازه ورکوی چه خپل فکرونه نه یوازی دخلکو تر منځ کیږدی بلکی هغه دیوه نسل څخه وبل نسل ته نقلوی .
۲- که ګوند نشرات ونه کړی نو ونورو کمونیستی او کارګری ګوندونو او دخلکو او دخلکو د دښمنانو تر منځ دطبقاتی جګړو ګټوری او قیمتی تجربی به ئی له لاسه وتلی وی او هر کمونیستی او کارګری ګوند مجبوریږی چه د ټولنی په څیړنه او مطالعه له سره پیل و کړی .
۳- ایدیالیستان وائی چه علمی کمونیستان په تکامل کی دخلکو قدرت لوړ بولی نو ګواکی دوی دګوند دمرکزی کمیټی شعوری خصلت ته زیات اهمیت نه ورکوی او نوموړی شعور دټولنیز ژوند بی روحه او پاسیف انعکاس ګڼی .
د مارکسیسم فلسفه په هیڅ صورت سره دټولنی په تکامل او ژوند کی دګوند دمرکزی کمیټی شعور ته لږ قیمت او اهیمیت نه ورکوی دمرکزی کمیټی شعور بی روحه او پاسیف نه دی او په ټولنیز محیط باندی فعالانه تاثیر ښندی . څه وخت چه ستر ولادمیر ایلیچ وائی :
(( دانسان شعور نه یوازی مادی جهان منعکسوی بلکه هغه پیدا کوی هم )) نو ئی معنی دا ده چه :
دګوند دمرکزی کمیټی شعور هم نه یوازی داچه ټولنیز جهان منعکسوی بلکی په هغه دنوموړی شعور فعال تاثیر څرګندوی .
البته خبره : په ټولنیز ژوند باندی دمرکزی کمیټی د شعور مستقیم تاثیر دنوموړی شعور له خوا د ټولنیز جهان مستقیم پیداینښت او ایجاد نه دی .
مرکزی کمیټه نه شی کولای چه دخپل شعور پواسطه سره یوه خورا کوچنی پدیده هم له خپله ځایه وښوروی . خبره دلته ده چه که هر وخت مرکزی کمیټی دخپل شعور پواسطه سره په درسته او اګاهانه توګه سره ټولنیز جهان منعکس کړ نو کیدای شی چه : دنوموړی ډول ګوند په ټولنیز ژوند کی دخلاق او تغیر ورکوونکی فعالیت لارښوونکی شی .
نو هر هغه څوک چه:دنوموړو ویناوو له اجتماعی او طبیعی تطبیق څخه په پټه اویا څرګنده توګه سره سر غړوی په دی توګه ټول د استثمارګرو طبقاتو په خدمت کی دی .